مورچل کالګنه

د مورچل کالګنه او سلګنه،

یا په مطبوعاتي جهاد کې ددې مجلې ستره برېا!!!

لسم کال دوولسمه، پرلپسې ۱۰۰مه ګڼه، ربیع الأول۱۴۳۸هق، دیسمبر۲۰۱۶م

- امریکایان او بشري ارزښتونه!!
- مورچل مجله د نسل روزنې لارښود !
- د یوې پیړۍ غښتلی مورچل ...!!
- هو ما د فقیه او متخصص په لاس کې هم دا مورچل لیدلې ده ....!
- ...او بالآخره د امریکا په خلاف جهاد هم په رسمیت وپیژندل شو!
- د جنرالانو بیروبار !
- سیکولاریزم و اســـلام

د (مورچل مجلې)
د یوولسمې کلیزې په مناسبت!

مورچل او همغږي یې
د درانه مسئولیت بار وړي!

شـــشم جدی
لکه سیاه در تاریخ کشور

اســـلامي امـارت ...
او د جهاد د حقانیت په خلاف یې د دښمنانو د تشکیک هڅې!

څو شیبې د مولوي سید محمد حقاني رحمه الله ،
دخاطراتو په چم کې !!

دحلب سقوط
او د لویو زبرځواکونو ګډه شیطاني لوبه

د شهامت د مجلې محترم مسئول ابوظهیر صاحب له مورچل سره په مرکه کې:

"د مورچل مجلې (۱۰۰) مه ګڼه چاپول په فرهنګي ډګر کې د مورچل مجلې دادارې، قلموالو او فرهنګي کمیسیون لپاره ستره فتحه او تاریخي برېا ده!"

مورچل

لسم کال دولسمه، پرلپسې ۱۰۰مه ګڼه، ربیع الأول ۱۴۳۸هق دیسمبر ۲۰۱۶م

علمي، سیاسي او جهادي میاشتینی خپرونه

لړلیك

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	د یوې پیړۍ غښتلی مورچل.....	۴
۳	د مورچل مجلې د یوولسمې کلیزې په مناسبت !.....	۶
۴	مورچل او همغږې یې ددرانه مسئولیت بار وړي!.....	۸
۵	هو ! ما دفقیه او متخصص په لاس کې هم دا مورچل	۱۱
۶	مورچل مجله د نسل روزنې لارښود !.....	۱۲
۷	څو شیبې د مولوي سید حقاني رَحِمَهُ ٱللَّهُ د خاطرو	۱۵
۸	د شهامت مجلې مسئول محترم ابوظهیر سره مرکه.....	۱۷
۹	مونږ ژوندي یو ! مونږ ژوندي یو !.....	۲۷
۱۰	امریکایان او بشري ارزښتونه!!.....	۳۰
۱۱	...او بالآخره امریکا خلاف جهاد هم په رسمیت وپیژندل	۳۲
۱۲	د افغانستان په اړه د یو شمېر عامو امریکایانو.....	۳۶
۱۳	اسلامي امارت ... او د جهاد د حقانیت په خلاف	۳۹
۱۴	د جنرالانو بیروبار!.....	۴۶
۱۵	د اوباما خالي لاسونه.....	۴۸
۱۶	ششم جدی لکه سیاه در تاریخ کشور.....	۵۰
۱۷	د جهاد فقهي مسائل.....	۵۲
۱۸	د اسلام غزوات او سرایا.....	۵۴
۱۹	هیواد کې بد امني دچا له لوري ؟ او د کومو موخو...	۵۹
۲۰	سکولاریزم و اسلام.....	۶۱
۲۱	ولې تر نیمې لارې؟.....	۶۵
۲۲	د حلب سقوط او د لویو زبر ځواکونو ګډه شیطاني لوبه	۶۹
۲۳	د مورچل وږمې.....	۷۴
۲۴	د مورچل (۱۰۰)مې ګڼې په ویاړ دلیکوالانو تاثرات....	۷۵
۲۵	د امارت پیغامونه.....	۷۶
۲۶	جنګي جنایتونه(دسمبر).....	۷۷
۲۷	د نومبر دمیاشتې جهادي خبرونو غورچاڼ.....	۷۹

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حـــسن خېـل | ایـــوب صـــافی
حـــسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مـــسافر | حافـظ سعـــید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

د مورچل کالګنه او سلګنه،

یا په مطبوعاتي جهادکې ددې مجلې ستره بریا!!!

مورچل مجله دفرهنګي کمیسون دتاندواو هڅاندو مجاهدو قلموالوپه نوښت او ابتکار پداسې شډلواو زیږوحالاتوکې دچاپ ډګرته راوته، چې دامریکا په مشرۍ دګرد لویدیځ دخونکارو لښکروظلم او استبداد په اوج وموج کې وو او په وړاندې یې داسلامي امارت سرښندونکیو مجاهدینودسرونو په نذرانواو فدایي کفرځپونکیو ګوزارونو سره دوخت ددې استعمارطلسم او جادوماتاوه اود روانې یووشتمې پیړۍ له ښکیلاک سره یې نااړوله مقابله روانه وه .

دانو (۲۰۰۶ز)کال وو،چې داشغال په وړاندې په فرهنګي میدان کې مورچل مجلې خپله لومړنۍ ګڼه په د(۲۰۰۶ز)په جنورۍ کې دچاپ له ماشینه راوایستله اودلوست ډګرته یې وړاندې کړه ،لومړۍ درې میاشتینۍ بیا دوه میاشتینۍ او بیا چاپکو اوګړندیو جهادي بریدونوته په کتوسره ډیره ژر میاشتینۍ شوه چې هره میاشت به یې دخپلو مښنه والو تنده ماتوله !

دا ګڼه چې ستاسو په لاس کې ده ،له نیکه مرغه چې دروان (۲۰۱۶ز)کالګنه او هم دمجلې د(۱۰)لسم خپرنیزکال د بشپړیدو پرله پسې (۱۰۰)مه شماره ده ،چې دالله تعالی په مرسته او دخپلوزلمو‌تو اوبا احساسه فرهنګیالیو په قلمي پنځونواو په ځانګړې ډول داسلامي امارت دفرهنګي کمیسون ددرونډ مشراوفرهنګپال شخصیت پرله پسې- تشویق اوهڅونه وه، چې دچاپیریال دپیچلتیاوو او ګردجنو حالاتو سربیره دادی مجله چاپ اوخپل رسنیز سفر یې (۱۰۰)سلم پوړ ته ورساوه .

رښتيا هم په داسې ترينګلواو نامناسبو حالاتوکې چې دمورچل په شان يوه جهادي او سياسي رسنۍ خپل رسنيز سفر (۱۰۰)سلم منزل ته ورسوي، نودا ددې رسنۍ لپاره يوه ستره فرهنګي سوبه اوبريا وي ،کله چې يوه جريده يا مجله د تير مطبوعاتي کال خپل فرهنګي يون په کالګڼه نمانځي او په دې علمي بريا او پرمختګ نمانځغونډې او سيميناروونه جوړوي، نو هغه مجله چې (۱۰۰) مه ګڼه پر له پسې په کاميابۍ چاپ او دمطبوعاتو په منځ کې يې ځانته لوړ مقام مونډلی وي ،هرو مرو پدې ارزي ،چې فرهنګيان ،قلموال ،سياستوال او آن خپل لوستوال يې داسې شانداره اوشهکاره ونمانځي ،چې له امله يې راتلونکی خپرنيز يا رسنيز بهيرلاچټګ او د اداري دومره حوصله افزايي شوي وي، چې دسترو ستروخندونواو پيچوموسربيره يې بيا هم دخپراوې او انتشار هوډ پياوړی اوداوږده خپرنيز تکل په درلودلوسره داوږده فرهنګي سفرته چمتووي .

مورچل مجلې داسې شيبې هم ليدلې، چې يوه ليکنه به يې په ډيرو ستونزو پيدا کوله ،داځکه چې نامتوليکوالان داشغالګرو شنو ډالرو،ميوواو شراب وکباب ته ټينګ نشول اوددې موقف دترلاسه کولو لپاره پکې ځينو ضمير پلورونکيو فرهنګيانو نه ددينې اقدارو پروا وکړه اونه هم دخپلو ملي ارزښتونو،دژورنالستانواو قلموالوترمينځ يوه عجيبه سيالۍ پيل شوه او ترننه پورې يې دخپل قلم عفت په څوډالرو او دهوا او هوس په تمه وپلوره ،خو څوګوت شميرقلموال بيا داسې وختل، چې دخپل دين او خاورې په ناموس يې ننګ وکړاوديرغلګرو هر نوعه وړاندیزونه يې رد کړل ،دفرهنګي جهادمورچلونه يې ورته ونيول، چې له برکته يې نن دادی دې قلمي مورچل په سلم پاتکې پل کښيښود اوخپل خپرنيزعمر يې تر (۱۰۰)ګڼوپورې ورساه ،د(تحديث بالنعمة) په توګه يې وايو، چې نن دمورچل دليکوالانو شمير ښه ډير دی،ليکنې يې په ټول پوره دي او دهرليکوال او شناندقلمدادشوي مفاهيم داشغالګروپه زړونوکې دغشو غوندې ورننوځي او په ځيګر يې ټپونه جوړوي .

مورچل مجله که ديوې خوا دمجاهدينو ورځني عمليات په خپله سښه کې خوندي کوي او دتاريخ حافظې ته يې سپاري، نو دبل طرف نه په علمي ،سياسي او معلوماتي يا تاريخي اړخونوکې دټولنې داصلاح او دمجاهدينودرهنمايي لپاره په زړه پورې مطالب اوتحليلونه چاپ کوي، چې ليکنيز

سبک ،منځپانګه اوسکالو يې ډيره عالي اودکابل ميشتو پلورل شويوفرهنګيانودحسرت او ندامت سبب ګرځي .

اسلامي امارت چې نن دتاريخ له حساسو شيبو نه تيريږي اودوخت ديوې اوږدې ازموينې په درشل کې دی ،هم داسلامي نظام دنفاذ پر سر له نړيوال ښکيلاک سره لاس وګريبان دی او هم دهيواد دارضي تماميت اوخپلواکۍ دګټلوپر روحيه ديرغلګروسره په جنګ کې بوخت دی ،يوه اړه اړخ ته دخارجيانولښکرې او بلې خواته دداخلي ګوډاګيانودهيواد پلورنې اودين فروشۍ جفاکارانه عزايم ټول هغه عوامل او لاملونه دي ،چې اسلامي امارت هم ورته دجهادسنګرونه نيولې او هم دفرهنګ او کلتور مورچلونه ! دنورو جهادي رسنيو په څير مورچل مجلې هم داسلامي او جهادي اصيلو فرهنګي ارزښتونو دګټلوپه پار خپل خپرنيز يون ګړندی کړی اودهرې کفري دسيسي او شيطاني پلان په وړاندې يې پر وخت وزمان ځواب ويلی دی .

داسلامي او فرهنګي ميراث دخوندې کولو او دشيطاني طاغوت نه داسلامي تهذيب دژغورلو کلک هوډ دمورچل مجلې هغه اساسي تګلاره يا نصب العين دی، چې دخپلو تيرو خپرنيزو لسو کالواو سلوګنو دخپراوي په ترڅ کې يې په اثبات رسولې اوداسلامي امارت دترجمانې خپرونې په ښه يې خپل ولس ته په پښتو او دري ژبو جهادي مقاصد او داشغالګرواهداف ځلولې او ددوئ له جنايانو نه يې پرده پورته کړې .

مورچل مجله دروان (۲۰۱٦ز)کالګنې او پرله پسې د(۱۰۰)مې شمارې خپريدا پداسې وخت کې نمانځي، چې داشغالګرو عزايم متزلزل ،پوځي وړتيا يې متلاشي اودمجاهدينو په وړاندې په ګونډو شوي ،ليره به نه وي، چې راتلونکی نړۍ وخت ددې شاهدان شو،چې دسپين بيرغ ترسيورې لاندې دفتحو قافلې خپله بريا اعلان او ديرغلګرو له شر نه د تل لپاره مسلمانان خلاص شي !

لیکنه : موسی فرهاد

د یوې پیړۍ غښتلی مورچل ...!!

هغه مورچل او سنګر چې پوره یوه سلیزه د غلیم په وړاندې د لامثاله سرښندنو په برکت آباد او ودان وي ؛ طبعي ده چې اغیز به یې هم دومره وي چې ترشا د پراته ملت د آزادۍ او استقلال تقدیر به یې له هر پلوه د میرځمنو له یرغلونو او ناوړه ارادو نه خوندي ساتلی وي .

زه چې دلته د کوم غښتلي سل کلن مورچل خبره کوم ، ښایی د عمر له پلوه سل کلن نه وي ، بلکې تیراژ یې سلن قدم اخیستی وي ، او دا حقیقت دی . خو زه یې د یوه قرن مورچل ځکه ګڼم چې په دومره سختو، نامساعدو شرایطو، ناتوانه حالاتو او نیشتو امکاناتو کې چې دوست او دوښمن دواړو یې پر پایښت د یوې ورځې باور نه درلود ، او بیا یې هم د تیراژ سلني پورۍ ته قدم اوچت کړ ؛ نو هرو مرو د داسي آفرین وړ ګڼل کیدای شي چې د یوې پیړۍ غښتلی مورچل د نامه، ویاړ ور کول شي.

دا ډېره موده کیږي چې زموږ غریبه خاوره د پردیو د ناروا تیریو په وړاندې مورچل ، مورچل ده . هره لویشت یې د آزادۍ د هغو اتلانو په سپیځلو وینو خړوبه شوې؛ چې بلا ډېري خواري ، کړاؤونه ، هجرتونه ، زخمونه ، شهادتونه او آسارتونه یې ګاللي خو د قربانۍ مورچل یې هیڅ مهال خالي پرې اینبۍ نه دی . قریب څلور لسیزې کیږي چې د ایثار او قربانیو یو نه بیلیدونکی تسلسل را روان دی . چې له امله یې د شیطاني لښکر دوو سترو یکه تازانو د ذلت شکست وخوړ ، مګر د دین ، خاورې ، او ناموس د ساتني په نوم ودان شوی مورچل لا همغسي ودان پاتي شو .او مورچل ساتونکو اتلانو پخپلو ګوتو تاریخ ته ولیکل چې :

ما مجاهد حقیم قدرت خدا باما است
هرکجا که رو آریم دست کبریا باما است

ما به پیکر ملت بازوی توانساییم
اعتماد امروزیم افتخار فردا ییم

علامه اقبال

هو ! شته دا خاوره داسي وګړي هم لري چې دې غیرتي خاوري پخپله غیږه کې را لوی کړي ؛ خو حیف !!!چې هغوی د خپل ناموس ساتني احساس او وجدان نلري . دوی که څه هم د سر په سترګو د سپیځلي آسماني کتاب د جهاد

آیتونه لیدلی شي ، په غوږونو د خپلو نیکونو او مسلمانو اقوامو تاریخي داستانونه اوریدلای شي ، د انساني فطرت د استقلال او حریت غریزه درک کولای شي . ؛ خو ولي بیا هم ورته د بي ننګۍ ، بي ایمانۍ او نامردۍ لاره ښایسته ښکاري . د شیطان په لارښوونه د یرغلګرو په خدمت او چوپړ کې ولاړ ، پرخپله خاوره ، خپل ناموس او خپلو خلګو بلوسیږي .

دا یوازي هغه وګړي نه دي چې د ناپوهي ، جهالت او بدبختۍ په ناسور اخته دي او یرغلګر دښمن ترې سپر او ډال جوړ کړی ، ترڅو د مجاهد د توري له ګذار نه پرې خپل ځان وساتي ؛ بلکې یو شمېر نور چې ځانونه اهل قلم او صاحب دانش بولي ، دوی هم خپل ، ننګ ، غیرت ، ایمان او وجدان پلورلی او خپل قلم او دانش یې د متجاوز غلیم چوپړ ته وقف کړی . شپه او ورځ لګیا وي ، ترڅو د جهاد ، مبارزې ، خپلواکۍ ، آزادۍ او حریت ایماني او فطري فلسفه تردید او تقبیح کړي ، پرځای یې لادینیت ، سیکولریزم ، کفري دیموکراسي ، دروغجنه آزادخیالي ، منحط غربي کلچر او پردی فرهنګ ، زمور په پاکه خاوره کې پلی کړي . ولي دایې هیره ده چې د دوی بادارانو له دومره ستر تخنیکي وس او میډیایي ځواک سره سره ونه توانیدل چې له یرغله تر زوالـه پـوري د آزادۍ له اتلانو نه د ایمان اوخپلواکۍ مورچلونه خالي کړي ؛ نو ځنګه به دغه عاقبت نااندیشه قلم خوځوونکي ګوډاګیان د کابل د تیاترونو ، سینماګانو ، نایټ کلبونو ... له لاري همدارنګه تش په نوم رسنیزو غربي ادارو (بی بی سي ، آزادۍ ، تاند ، طلوع اونورو ...) په مټ وکولای شي چې د مورچل غوندي قلمی او فرهنګي مورچل په وړاندي بریالي شي؟ . نه ، هیڅکله نه.

د مورچل نن کلیزه ده ، د کلیزي ترڅنګ یې د چاپ تیراژ سلمي ګڼې ته رسیږي، د دې سلو ګڼو په مټ مورچل دومره کار کړی چې د غلیمانو د پیړیو پیړیو هڅې یې شنډې کړي دي . د یرغلګرو له راتګ سره مورچل آباد شوی ، تراوسه یې د هیواد په ګوټ ګوټ کې د مجاهدینو د هرډول عملیاتو هره صحنه قدم په قدم تعقیب کړي او په ریښتیني بڼه یې پخپلو پاڼو کې ثبت کړي . چې د راتلونکي تاریخ یو سترباب جوړوي . ترڅنګ یې د مکار دښمن او بي ضمیره ګوډاګیانو د هغو هڅو چې غواړي زمور ملي ، اسلامي فرهنګ مسخ کړي ؛ بڼه په زغرده ، فکري او قلمي مبارزه کړي او کوي یې .

مورچل اوس د مسلمان ، مجاهد ملت فکري ، قلمي او فرهنګي مورچل دی . او تل به دمتعهدو ، مجاهدو لیکوالانو په ریښتیني قلم دیرغلګرو او ګوډاګیانو هڅې او ارمانونه له خاورو سره خاوري کوي . انشاء الله .

پای ....

د (مورچل مجلې)
د يوولسمې کلیزې په مناسبت!

احمد مختار

د لوي څښتن په نصرت او د (مورچل مجلې) کارکوونکو په همت دا دی، د فرهنګی جهاد دا پیاوړی (مورچل) هم یوولس کلن شو.

(مورچل) یوولس کاله وړاندې د اسلام ، عقیدې او هیواد له لوړو ارزښتونو څخه په دفاع کې خپل (مورچل)یز فعالیت پیل کړ.

داسې فعالیت چې د هغه د پیلولو په لاره کې یې نه د شته ستونزو پروا وکړه او نه یې هم د زبون دښمن تخریبي هلو ځلو د مورچلیزو ګوزارونو مخه ډب کړه.

(مورچل) د افغان مؤمن ولس د جهادي آرمانونو ترجمان .

(مورچل) د جهادې آرمانونو د تحقق انعکاس .

(مورچل) د نیمه خوا شهیدانو د سرښندنو ممثل .

او بالآخره (مورچل) د مجاهدینو د مجاهدتونو ، مبارزاتو او شهکاریو انګازه.

(مورچل) له تیرو یوولسو کلونو راهیسې له جهاد او مقاومت څخه د دفاع په لاره کې په شعوري ډول فعال او مورچل والو یې د خپل جهادي مسؤلیت له مخې دا سنګر تود ساتلی.

(مورچل) په داسې حال کې خپل نشراتي بهیر پیل کړ، چې د هیواد پر افق د امریکایي اشغال د تورمابنام کرغیړنې څپې خپرې وې، خو (مورچل) په خپل جهادي لمرځرک سره هغه تیارې پایته ورسولې.

د (مورچل) جهادي لمرځرک د هیواد په جهادي بڼ کې د حق او حقیقت بلبلان په چیغهار راوستل، د هغوی چیغهارو په ولس کې د ویښتابه روح پوکړ ، چې له امله یې د یرغلګرو په وړاندې د مقاومت لیکې جوړې شوې ،منظمې شوي ، پیاوړي او ټول هیواد ته خوري شوې.

بلې ! (مورچل) خپل مورچلیز بهیر په داسې حال کې پیل کړ ،چې ټول هیواد د امریکایي تاړاک تر یرغل لاندې و، هرځای وحشت و، بربریت و ظلم و نفرت و.

(مورچل) تر هرڅه وړاندې د وحشتګرو په مقابل کې د فرهنګي مقاومت په پیلولو سره د ځوان نسل افکار تنویر کړل ، هغوی ته یې د یرغلګرو په مقابل کې

د جهاد فضيلت د مبارکو قرآني ايتونو او نبوي احاديثو له مخې تشريح کړ.

چې په دې سره يې په ډير کم وخت کې د مقاومت ډيرې فکري جبهې جوړې کړي ، په دغو فکري جبهوکې باشعورو او هدفمندو ځوانانو د باطل په وړاندې فکري معرکه پيل کړه چې د هغې له برکته د هيواد په ګوټ ګوټ کې يرغلګر دښمن تر ګوزارونو لاندې راغې، جهادي مقاومت روان شو، توند شو ګړندی شو، توپاني شو داسې چې په تندريزو څپو کې يې ډير مغرور کافران دخس او خاشاك په څير ورسره واخيستل او د هستي له صفحې يې نابود کړل.

د (مورچل) جهادي ځانګړتياوې:

لکه مخکې چې مو وويل (مورچل) د يوې جهادي رسنۍ په توګه د جهادي آرمانونو د ترجماني لپاره ايجاد شوې.

په (مورچل) کې ټول نشراتي محتويات د قرآن کريم له سپيڅلیو ارشادتو او نبوي مبارکو احاديثو څخه سرچينه اخلي.

د مقالو د برخې ډير ترکيز يې په اوس مهال کې د جهاد پر اهميت او مجاهدينو پر فضيلت وي.

مقالې يې ټولې د داسې مجاهدو قلموالو په قلم ليکل کيږي، چې هغوی جهاد ته د يوې الهې فريضې په حيث قائل او هغه د يرغلګرو کافرانو له تيري او ظلم څخه د اسلامي امت د نجات اوژغورنې وسيله بولي.

د خبرونو او رپوټونو برخه يې هم ټوله د يرغلګرو په مقابل کې پوځي احداثو ته اختصاص شوې، ټول هغه خبرونه چې په يوميه ډول د جهاد له سنګرونو څخه د اسلامي امارت نشراتي منابعو ته ليږل کيږي، د هغوی د هرې ورځې مجموعه بيا سره يوځای او دمياشتې په اخير کې ټول په يوه ځای په (مورچل) کې خپريږي.

داچې (مورچل) د متعهد ژورنالیزم فرهنګی مورچل دی، نو ځکه يې خبرونه او رپوټونه ټول پر مصداقيت، او کره والي بناء وي.

همدا راز په (مورچل) کې پر خبرونو او رپوټونو سربيره د اسلامي امارت د تکړه محللينو اوشنونکو په قلم د هيواد جهادي پيښو او ورځنيو احداثو ته هم کتنه کيږي.

او پر دې ټولو سربيره (مورچل) د جهادي ادب په ګلبن کې د جهادي اديبانو، شاعرانو او فرهنګيانو لپاره ځانګړې برخه لري ، چې د جهادي ادبياتو په تشريح او توضيح کې د جهاد، شهادت، مورچل، شهامت او غيرت ستاينې کوي او شهادت مين زلمي د فداکاري او سرښندنې ډګر ته رابولي...

درنو لوستونکو!

(مورچل) ستاسي د جهادي آرمانونو ترجمان مورچل دی...

تاسو کوښښ وکړئ ،په خپلو قلمي ، فرهنګي ، ادبي او علمي همکاريو سره د باطل په وړاندې دا فرهنګي مورچل نورهم پياوړی او مضبوط کړئ !

په يرغلګرو کافرانو دې د (مورچل) ګوزارونه لا پريکنده اورساوي!!!

مورچل او همغږي يې د درانه مسئوليت بار وړي!

محمدجمال خطيب (ليکوال او شناند)

دا شپاړسم کال دی چې مسلمانان شاملې خونړی جګړې سره مخ دي . څه مسلمانان ځانونه بېپرې نيسي چې ګوندې دا د ځانګړو مصالحو جګړه ده، مګر دا مسلمانان د يوې خاصې مسلمانې کُتلې په بهانه مستقيما يرغل لاندې دي، خو دوی به يې هله ومني چې دښمن خپل لومړني اهداف ووهي.

جګړه چې څومره مساحتي پراخي لري، هومره يې فکري ابعاد ډېر دي..او څومره چې خاصه مسلمانه کُتله په عسکري لحاظ دښمن ته يوازې ده، همداسې يې فکري دفاع هم له عامې همغږۍ بې برخې ده. دلته کېدای شي د پېغمبر صلی الله علیه وسلم دا خبره ډېره د يادونې وړ وي عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَجِدُونَ النَّاسَ كَإِبِلٍ مِائَةٍ، لَا يَجِدُ الرَّجُلُ فِيهَا رَاحِلَةً» رواه مسلم. خلک لکه سل اوښان دي چې سړی په کې داسې اوښ نه شي موندلای چې ښکلی وي، بار وړي او د کار وي.

هر انسان که فکر وکړي چې مورِ د امت روانه جګړه کې کوم او څومره بار وړو؟ رښتيا هم هغه خلک چې دښمن ته مخامخ ولاړ دي..د دښمن مخه يې ډپ کړي..دښمن يې په عسکري لحاظ په خپلو دېوالونو کې ايسار کړی په مسئوولیت اداء کولو کې بيخي يوازې دي او د دې ډلې فرهنګي کُتله بيا له يوازېتوبه څو کرته ډېره کړيږي.

دښمن له ډېر پخوا او په ځانګړې توګه له تېرو شپاړسو کلونو راهيسې په سياسي اړخ کې زمورِ د عقيدې يوه داسې مرکزي نظريه ننګولې چې مسلمانان يې په اړه له ډېر احتياطه پېچلی بحث هم نه کوي، پاتې لا د هغې نظريې ننګول. مورِ سره د حاکميت مسئله زمورِ د عقيدې کتابونو کې لوستل کيږي او په دې کتابونو کې دا مسئله د عقيدې د مرکزي موضوع(توحيد) له تفريعاتو شمېرل کيږي، مګر مسلمانانو کې بې له دې ځانګړې کُتلې هيڅوک ورته فکر نه کوي او ډېره يې عادي ګڼي.

خلک داسې فکر کوي چې يرغلګر دې مورِ ته پاک ووايي چې کفر غواړو او تاسو له اسلامه واوړئ. نه؛ دوی به په زړو کلونو کې هم دا خبره پاکه ونه کړي. په يو بل رنګ به يې ورته ووايي چې حاکميت

"یوازې" د ولس دی. قوانین بـه د ولـس اسـتازي وضـع کوي. دا نـو یـوازې مورچلـوال او همغږي فرهنګیان دي چې د دوی د شرکي عقیدې دوهم تعبیر ننګوي او خلکـو تـه یـې په ډاګه کوي.

د دې لپـــاره چـــې دا عقیده د خلکو له ذهنه لرې پاتې شي او مفـاهیم یـې بیخي ځوان نسل ته ونه رسیږي، د علم او فلسـفې په نوم یې سېکولرزم او لېبرالزم ته ډنډورې وغږولې. دوی په ښکاره ونه ویل چې اسلام مـه منئ، مګـر دا ناره یې پورته کړه چې سیاست د زرنګی میدان دی، دین سپېځلی دی باید سپېځلي مسجد پـورې خـاص شي. دوی دا ونه ویـل چـې پـه سیاسـت کـې د دیـن اقامه مه کوئ، مګر دا ناره یې پورته کړه چې اجـتماع کـې فـرد خپلـه خوښـه لـري کـه څـوک بزرګـي کـوي مسـجد کـې دې اعتکـاف شي او د سیاسـت کارونـه دفتر ته پرېږدئ.

د همدې نظریـې د ټکولـو لپـاره دوی ان یـو یـو هغه فرد وټکاوه چې د نوموړې نظریې د فکري مکتب شاګردان دي. مور شاهدان یو چـې دوی هغـو خلکـو ته د تـرورسټانو نوم ورکړ چې پـه سیاسـت کـې د الله جل جلاله د شریعت حاکمیت غـواړي. دوی دا جګـړه په دې نوم ونه کړه چې ګوندې دا خلک دین غـواړي، بلکې په دې نوم یې وکړه چې دوي ترهـګري کـوي، دوی د علم دښمنان دي، دوی د پرمختګ دښمنان دي.

اوس نـو د دغـې نظریـې د روښـانولو کـار کـې مورچلوال او همغږي بیخي درومد بـار پـر اوږو وړي او مسئوولیت اداء کـوي. دښـمن د مورچلوالـو او همغـږو یوازېتوب نه ښه اسـتفاده وکـړه چـې خپـل یرغـل تـه دوهـم نـوم غـوره کـړي او تـر ډېـره وتوانېـد، مګـر د جهادي کُتلې فرهنګي ټینګار هم د دې ویاړ ولاره چې د دښمن تېز او مسلسل کـار ټکنـی کـړي او سـتونزې ورته پیدا کړي.

د روانـو جریانـاتو پـه اړه د دښـمن یـو طرفـه او پوښلای تعبیر یوه بله ستونزه ده چې ټولـه نـړۍ یـې په وهم کې وساتله. د دوی تعبیر هغه مسلمانان هـم متاثر کړل چې یوه زمانه کې یې جهـادي قافلـه کـې د ژوند څو پسرلي اړولي. تر دې نـن پـورې ډېـر داسـې خلـک شـته چـې د دښـمن د تعبـیر اسـیران دي. مورچلوالـو تـر خپلـې وسـې دا کوښـښ کـړی چـې د دښمن تعبیر خلکو ته روښانه کړي او بدله ژبه یې په خپله اصیله ژبه واړوي.

یـوه مهمـه خـبره دا ده چـې دښـمن د خپلـو مفـاهيمو د اغږلـو لپـاره خپلـه عسـکري، سـياسي، فرهنګي او علمي ژبه پر يوه ليکه روانه کړه. دې ګڼ اړخيز ګوزار زمور ډېر عقلونـه مسـخر کـړل او ان ډېـر "ځان ته څه وايي" خلک يې لاندې کړل. دغـې پـلان شوې ليکې ځوک وغولول، ځوک يـې د طمعـې سـيند باندې لاهو کړل، ډېر کمزوري خلک يې وترهـول او د کار حوصله يې تـرې وترورلـه او ډېـر د مبـارزې خلـک يې د شکونو دام کې ونيول او له کـاره کښاسـتل. دې خلکـو د دې خطرنـاکې ژبـې لـه کبلـه فکـري تينـدک وخوړ.

هغه خلک چې مورچلوالـو او همغـږو سره نـږدې ول يا يې ورسره له لرې يا نږدې اړيکه لرله د نوموړې دښمنانه ژبې له تاثيره رمټ پاتې شـول. مورچلوالـو او همغږو يې ځان او پليوني په خپله خودې کې وسـاتل او د خپل استقلال منار يې نړېدو ته پرېنښود.

دښمن تر ډېـره خپـل وهمـي ولسـونه دې طمـع کې وساتل چې هغه خلـک نـن او سبا کـې ختميـږي چې ټوله نړۍ ګوابنـي، ټولـه نـړۍ نيـول غـواړي او د وينو سېلابونه بهول غواړي. مور ورځو د دوی ولسونو ته خـير رسـوو، خـو دوی زمـور د خـير رسـونې مخـه نيسي. تر نږدې تېره رښتيا هم د دوی وهمي ولسونه دې ته انتظار وو، مګر اوس يې سر خـلاص دی چـې موضوع څه ده؟ کـه د مورچلوالـو د جهـاد غـږ نـه وای پورته کړی او خلکو ته يـې مسـتند نـه وای رسـولای، خـدای خـبر چـې دوی بـه تـر اوسـه کومـه کومـه سوداګري کړې وای.

مورچلوالو د جهادي پرمختګونـو د هـرې پېښـې خبر ډېر خوندي وساته. له وراخوا چې مورچل يو ستر تـاريخ ثبتـوي، همدمـه يـې د خلکـو سـترګو تـه هغـه حقيقتونه مخې ته کړل چې پـه عامـه رسـنۍ کـې دا حقيقتونـه نـه بښـوول کيـږي. دښـمن تـر يـو وختـه کوښـښ وکـړ چـې پـر روانـو ميـداني جريانـاتو پـرده واچوي، مګر له کومې چې مورچلوالـو او همغـږو قلـم پورته کړی، د دښمن دا هڅه ناکامه شوې چې خلـک له ډګريز جريانه بې خبره وساتي.

مورچـل دا دی سـلمه ګڼـه چـاپېږي. د خوښـۍ زېری دی، مګر هغه خلک چـې دې روانـه جګـړه کـې يې هيڅ مسئوولیت تـه اوړه نـه ده ورکـړې، فکـر دې وکړي، دا کار په اسـانۍ نـه کيـږي. ټولې نـړۍ سره خونړۍ جګړه روانه ده او د همـدې جګـړې يـو اړخ دا مورچل دی. په ډول ډول امنيتي شرايطـو کـې داسـې ضـخيمه مجلـه برابـرول، چـاپول او بيـا يـې تـر خلکـو رسول د يو ستر رسالت اداء ده.

په داسـې يـو مـاحول کـې چـې {لَا يَرْقُبُونَ فِي مُؤْمِنٍ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً} دښمنان دي او په هيڅ ډول ګـوزار صرفه نه کوي، دا ډول فعاليت د زړه وينـې غـواړي او رښتيا هم دا کار د زړه په وينو کيږي، اسـانه نـه دی. مور په خپل وار مورچلوالـو تـه د ګرنـدي يـون مبـارکي وايو او مسلمانان يې ملاتړ او لاس نيوي ته رابولو.

مفتي ابو ياسر

هو! ما د فقيه اومتخصص

په لاس کې هم دا مورچل ليدلې ده .....!

حامدا ومصليا وبعد:

مورچل مجلې افغان ولس ته دوړپاتې قلمي مبارزې وروستی مورچل دی ، مورچل ددين دربنښتونو لارويانو دمعنوي ،عقيدوي او اخلاقي ټيکاو ترڅنګ دهغوئ پوره ملګرتياوکړه .

زه چې کله کومې مدرسې ته ورغلی يم، نودطالب په لاس کې مې همدا مورچل ليدلې ده، چې په مطالعه به يې دمورچل اوسنګر تنده ماتوله .

کـه کـوم کتـابتون تـه ورغلـی يـم، نـوهم دمطالعې ديوه عاشق په وړاندې مې دوصال په شېبوکې همدا مورچل مجله ليدلې ده .

کـه يـوې دارالافتـاء تـه ولاړم، نوديـوه فقيـه اومتخصـص پـه لاس کـې مـې هـم همـدا مورچل مجله ليدلې ده .

که خانګاه ته تللی يم، نو هم ديوه مريد په بغل کې مې مورچل مستوره ليدلې .

ما دمورچل مجله په يوه دارالحديث کې دحديثو په يوه ميز هم وليده، چې د بخارې شريف اونورو صحاحوڅنګ ته همداسې په احترام اومينه ايښې وه ،

مادپردې وطن په يوه داسې کتاب شاپ کې هم مورچل مجله وليده ، چې خلک يې پردې اوژبه يې پردی وه ؛ مګر مورچل په کې دحق ديوه داعې اوسپېځلي مهاجر په ډول ځليده .

هو مورچل ....

مورچـل خـو دسترو اواتلـو زلـو مورچـل دی ، مورچـل خـو د جهـاد داولـو العزمـه ځوانـانو مورچل دی،مورچل خودسترو ارادو اوپولادي عزمونو مورچـل دی ،مورچـل درښتونوالي ،حـق پـالني ، او سنګر پالني مورچل دی .

مورچل داخلاقو ،کردار ،صداقت ، دعوت او جهاد يو روښانه ممثل دی ،

مورچـل دمعنويـت ، اوبصيرت قـوي اړخ دی ، هغه ديوه مدرس ، استاد ، داعي، مرشد اوامير په ځبر هرچاته لارښوونه لري ،

زه کـه مورچـل تـه هرځـومره دتوصـيف او تزيين جملې اوکلماتـې راټولې کړم، بيـاهم دهغې مدحه په کې نيمګړې پاته کيږي .

ځکه هغې دغـه پراوونـه پـه ډيروکرليچونـو او سـختو کړاونـو سره مـزل کـړي دي ، بـس پـه پای کې دا وايم چې لـوی خدای جـل جلالـه دې دغه دقلم مورچل تل آباده اوسرلوړې لري .

ستاسو ورور ابوحامد

له کوئټې بلوچستان ځخه

محمود احمد (لیکوال او شناند)

مورچل مجله

د نسل روزنې لارښود!

د اسلامي امت علماوو، پوهانو او قلم خاوندانو ته دا مسوولیت ور په غاړه دی، چې څه یې زده کړي وي، خپل ولس ته یې په پوره امانتداری سره ورسوي او په ځانګړې توګه په داسې حال کې، چې پر ولس مو هر اړخیز یرغل روان وي، له خلکو یې حق او باطل، رښا او تیاره ورک کړي وي، دغسې وخت کې مور اړ یو چې د خپل ولس د هر اړخیزې لارښوونې او پوهاوي لپاره خپلې هڅې لا پسې ګړندی کړو، د ویناوو او ویډیو رسنیو تر څنګ د قلم، ورځپاڼې او مجلې له لارې خپل ولس ته د دوی د دین او دنیا د بریا او رونټیا لپاره داسې څه ورکړو، چې یو لور ته مو د خپل رب پر وړاندې خپل مسوولیت ادا کړی وي او بل لور ته مو خپل ولس د ښکېلاک د شامل یرغل له اغېزو ژغورلی وي.

مور اوتاسو ګورو، چې له ټپرو پنځلسو کلونو راهیسې د امریکا په مشری کفري یرغل د سپېڅلو مجاهدینو او د دې هېواد د رښتینو بچیانو پر ضد د بریښنایي، ټولنیزو او چاپي رسنیو له لارې هر ډول پروپاګنډ او تبلیغات کوي، خو لله الحمد مور تاسې عملا ګورو، چې مسلمان ولس لا هم له مجاهدینو سره مینه لري، خدمت یې کوي او په ډېر فخر سره یې د دین او ولس ژغورونکي بولي.

مور دا منو، چې زمور په ولس کې د اسلام مینه دومره قوي ده، چې د کفري ښکېلاک په پوچو تبلیغاتو له منځه نه شي تلی، خو د دې تر څنګ مور ټول اړ یو، چې د خپلې پوهې تر توانه خپل ولس ته هغه څه ورسوو، چې اسلامي شریعت یې امر کوي.

که یو لور ته امریکا د (۴۸) کفري هېوادونو په مشری له هر ډول پرمختللو وسلو سره پر افغانستان یرغل کوي، خو په مقابل کې یې مور داسې سرښندونکي ځوانان لرو، چې په تش لاس، خو ټینګ ایمان سره له فولادي ټانک او پرمختللې وسلې سره داسې مقابله کوي، چې یرغلګر یې هیښ کړي دي.

مور ګورو، چې ښکېلاکګر هڅه کوي، چې ځانته د وتلو خوندي لارې وګوري او له

افغانستاته پښې سپکې کړي، خو غواړي، چې په هېواد کې د ګمراهۍ او بې دینۍ داسې زهر وشیندي، چې اغېز به یې تر کلونو کلونو نه ختمیږي او که د اسلامي شریعت له مخې په سمه طریقه یې سر له اوسه مخنیوی ونه شي، نو یو لور ته به مو ولس په لوی لاس د کفري ښکېلاک منګولو ته سپارلی وي، بل لور ته به مور هم خپل رب ته مخټوري یو، چې ولې مو د خپلې پوهې تر توانه خپل ولس ته د الله تعالی دین په سمه توګه له ممکنه لارو نه دی رسولی.

د الله تعالی په فضل او کرم سره د اسلامي امارت د فرهنګي کمیسیون د پرلپسې هڅو او نه ستړې کېدونکي زیار په برکت مورچل مجله که یو لور ته د فکري ښکېلاک او ګوډاګي حکومت پر ضد د مجاهدینو د بریاوو او فتحو رښتینې معلومات له خپل ولس سره شریکوي، بل لور ته د خپل ولس د دینې او ټولنیزې پوهې د لا زیاتولو لپاره داسې مضامین او معلوماتي لیکنې خپروي، که هر څوک یې د نقد په نظر هم وګوري، نو دا به خامخا ومني، چې د اسلامي امارت مسوولین په دومره اضطراري حالاتو کې بیا هم د وسله والې مبارزې تر څنګ د خپل ولس د دیني او فکري پوهاوي رښتینې هڅې کوي.

مورچل مجله د خپلو لوستونکو لپاره د هېواد په حالاتو پر ځمکنیو حقایقو ولاړ تحلیلونه وړاندې کوي، د افغانستان د وضعیت په اړه د غربي او نړیوالو رسنیو څېړنې او تحلیلونه په روانه او اسانه ژبه خپروي، د ګوډاګي حکومت د ناکامې حکومتولۍ او ولس ضد پالیسیو په اړه هغه څه خپل ولس ته ښکاره کوي، چې د امریکا تالي څټې رسنۍ یې د پټولو او سرچپه ښوولو هڅې کوي. مورچل مجله د خپل دیني او ملي رسالت له مخې د اسلامي امت د برم او عزت تاریخي او له عبرت ډکې معلوماتي لیکنې خپروي، چې هره جمله یې د امت د درد انځورګري کوي. د خپل ګران پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه د مبارکو صحابه کرامو د ژوند پلوشې په اسانه ژبه خلکو ته رسوي او ټوله هڅه یې دا وي، چې افغان مومن ولس څرنګه د ښکېلاک له شومو دامونو خوندي وساتي او په مقابل کې یې د خپلو دیني ارزښتونو په اړه داسې وپوهوي، که هر وخت د دغو ارزښتونو د ساتلو لپاره د مال او سر د ورکولو اړتیا شي، نو مسلمان یې په ډېره مینه او میړانه ورکړي.

مورچل مجله د خپلو څېړونکو، علماوو او مفتیانو د زیار له برکته خپل ولس ته فقهي او دیني داسې لیکنې خپروي، چې تر ډېره په علمي څېړنو او بحثونو کې د عامو لوستو مسلمانانو لپاره ګټورې تمامیږي.د ساري په توګه له تېرو څو کلونو راهیسې افغان او نړیوالې رسنۍ د سولې درواغجنې ډنډورې غږوي، خو مورچل مجلې په خپلو علمي بحثونو کې د خپلو لوستونکو لپاره د اسلامي امت د فقهاوو هغه خواره واره بحثونه راټول کړي، چې د عام عالم او لوستي مسلمان

لپاره يې موندل په دومره اسانۍ بل ځای ناشونې وي.

همدارنګه د فقه الجهاد (دجهاد فقهي مسایل) په اړه د جامعې مطالعې لپاره مورچل مجله مورږ لپاره دومره څه په لاس راکوي، چې له دې لارې مورږ کولای شو، خپل ځان، کورنۍ، دوستان او خپل ولس د روان اسلامي جهاد په شرعي ارزښتونو ښه پوه کړو او د همدغو علمي او ديني معلوماتو له مخې مورږ د دښمن د مکرجنو تبليغاتو مخنيوی په اسانه کولای شو.



دا به سمه وي، چې مجله کمزورۍ هم ولري، دا طبعي خبره ده، خو که څوک د مسلمان په کار او زيار کې کومه کمزوري ګوري، نو د بې ګټې بحثونو او بې ځايه تورونو پر ځای غوره دا ده، چې متې بډ وهي او د نورو مسلمانانو په څېر د ژغورنې دغې بېړۍ سره خپلې مرستې او ونډه شريکه کړي، خپله قلمي، تخنيکي او معلوماتي همکاري د اسلامي امارت له روان جهادي کاروان سره يو کړي او د وخت په تېرېدو به پوه شي، چې هڅې بې ان شاءالله ثمر ته رسيږي.

د الله تعالی په فضل وکرم سره د اسلامي امارت د پوځي جهاد سربېره دښمن په پراخه کچه د مجاهدينو فرهنګي فعاليت پر وړاندې هم ماته خوړلې ده. د سلګونو ټلويزيونونو، مجلو، ورځپاڼو او پلورل شوو ليکوالانو سربېره د دې توان نه لري، چې د ولس نظر خپل لوري ته واړوي او دا يوازې او يوازې د الله تعالی په فضل او کرم او د مخلصو مجاهد پالو قلموالو او علماوو په مرسته او لارښوونه کېدای شي.

دغسې حالت کې د يو مسلمان ليکوال د قلم رنګ د مجاهد له وينې سره برابر دی، چې خپل ژوند د سنګر د مجاهد په څېر د اسلام خدمت ته وقف کړي او څرنګه چې کفار او د هغوی غلامان د مجاهد د الله اکبر له غږه په وېره کوي، همدارنګه د قلموال مسلمان د قلم رنګ هم دومره زور ولري، چې د کفر مرکزونه له داخله داسې ونړوي، چې په خپله په خپلو تېروتنو، کمزوريو او بې ايمانۍ اقرار وکړي او نور مسلمان هم د کفر له شره وژغوري.

راځئ خپلې هڅې د يو سپېځلي قيادت تر مشرۍ لاندې په داسې ځايونو کې په کار ولګوو، چې هم د دين په خير وي او هم د ملت په خير!

څو شيبې د مولوي سيد محمد حقاني رحمه الله،

د خاطرو په چم کې!!

(جرګه)

دادی دمرحوم مولوي سيد محمد حقاني رح پر هميشنۍ جدايي کال واوخت،نومورې دتير (۱۴۳۷هـ) ربيع الاول دمياشتې په (۲۲)نيټه رانه ناڅاپه وکوچيداوداسلامي امارت فرهنګي هسته يې ځانته پريښوده ،اوس هم راسره په تلفون کې دده هغه له سوزه او درده ډکه جمله ثبت ده، چې دبستر په حالت کې يې له روغتون نه راته تيلفوني پيغام کې وليکل :چې ((خدای ج دې ستاسو غم نه راکوي...په بدحالت کې يم به حال سره وکړو...)) کله چې تلفون کې دمرحوم دا ليک وګورم ، نو دده روح راته مجسم شي او بې اختياره ورسره خبرې پيل کړم،نه پوهيږم ،چې ولې رانه نه هيريږې ،دوستان او ملګرې مو ډيررانه رخصت شوي ،خو دده ويراو يادمو خاطرآرام نه پريږدي،دهغه بشاشه او له خندا ډکه څيره ،له موسکا او تبسم نه ډکې شوندې ،خوږې خبرې ،د محبت نه ډک مجلس ،دنګه ونه ،هر وخت دتلفون له لارې تودې پوښتنې ،داخلاص اوډاډ اظهار،متدينه اوحوصله ناکه ګونه ،هغه ځانګړتياوې وي، چې څښتن تعالی دحقاني صيب په خاورين وجود کې رانښتې وي .

محترم مرحوم مولوي سيدمحمد حقاني رح چې داسلامي امارت يو فعال ديپلومات ،فرهنګپاله او سياسي شخصيت وو،خو بيا يې هم ددومره مواصفاتو سربيره انکسار نفس کاوه او له يوه ټيټ روتبه طالب ملګرې نه يې هم ځان جګ نه ګانه ،ددې سربيره يې ژوند له تکلفاتونه ليرې و،ډيره ساده ګې يې ژوند کې درلوده اوځان يې ديوه عالي اودلوړ شخصيت په حيثيت نه مطرح کاوه .

دجرأت يوه بيلګه يې راته اوس هم ياده ده، چې کله له کابل ميشتې ژورنالست (وحيد مژده)سره دحقاني صيب تلفوني خبرې اومکالمې ميډيا ته راووتلې نو زه هم ورته هک پک حيران شوم، چې اوس به نوڅه کيږي ، حقاني صيب به دخپل امنيت څه پلان نيسي، ترڅو ځان ته ددې پيښې له عواقبو نه نجات ورکړي ،غوښتل مې خپلې انديښنې ورسره شريکې کړم او پدې نا متصور کار ورته څه تسليت ورکړم ،ده ته مې تلفون وکړ،نومورې سمدستې راته په ډير متانت او جرأت سره تلفون کې وويل : چې دا مو تګلاره (مشن) دی ،دداسې خبرو عواقبوته به تل چمتويو ،پريږده، چې دښمن ته هم معلومه شي، چې مونږ(طالبان) هم دومره اوږدي ريښې لرو ،په همدومره لويه کچه په پلازمېنه کابل کې هم فعال يواو پخپله ژرونالستانوسره تماس کې يواو....او....

کله بـه چـې داخـتر ورځـې وي، نـو داخترپـه مبارکۍ کې به دا رانه مخکې شو او ږومبی به حقاني صیب داختر دمبارکۍ تلفون راوکړ،که بـه مـو څـه وخت سره ونشوای کتلای، نو هم ده به مـو ترهرچـا ږومبی پوښتنه وکړه،خولنډه داچې په هرشئ کې رانه مخکې و، ددې سربیـره چـې دا دفرهنګـي کمیسـون مرستیال و،او مونږ ه یې باید دده پوښـتنه کـړی وی، خو ده داځای هم تش پرینښوداوهغه څه یې په ژوند کې وکړل ،چـې دیـوه کامـل انسـان لـه ځانکړتیـاوو څخه دي ،هغه کارنامې یې په راثـت کـې پرینښـودي چـې نوربـه یـې پـه سـختۍ سره وکـړي ،سـړي تـه دعمرفاروق رضی الله عنه دخلافت ددور یـوه خـبره رایاده شي ،تاریخونو لیکلې ،چې کله ابوبکرصـدیق رضی الله عنه وفات شو ،نودهغـه د وصـیت سره سـم چې ام المؤمنین عایشې رضی الله عنها ته یـې کـړی و چې ((زما له وفات نه پس به زما مـال ټـول وګـورې ،کوم مال چې مادخلافت په دوره کې پیدا کړی وي، هغه ټول مال به زماله خپل مال نه جلااو زما نه پس به یې دمسلمانانوخلیفه ته وسـپاري، تـردې چـې زمـا دبدن دا جامې اوتـوره او ډال هـم .... تـاریخ پوهـان لیکي :چې کله عمرفاروق رض خلیفه شواو حضرت عایشې رض ورته دحضرت ابوبکرصدیق رض مـال راوړ ،تردې چې دده دبدن جامې ځغره ،امسـااوتوره هم پکې وه، چې کله عمررض دا وکتل ،نو بې اختیاره یې له سترګو نه اوښکې روانې شـوي او ویـې وویـل چې الله ج دې پر تاورحمیږې ،دا ځـای دې هـم تـش پرینښـود،اوپه ژونـد کـې دې هغـه څـه وکـړل چـې سـتانه وروسـته خلفـاوو تـه بـه یـې کـول سـخت وي .....

مرحوم حقاني رح ته څښتن تعالی له انسه ډک مزاج او نرم طبیعت ورکړی و،هر وخت بـه یـې یـو خاص کیفیت درلوده ،ډیر حلیم او صابرو ،ماچیرتـه دده تندي باندې ګونځي ندې لیدلې او نه مې په تـروه ټنډه لیدلی ،بلکې هغه مې چې ترې لیـدلې ،لـه خنـدا ډکه خوله ،مهربانـه ملګرتیـا ،دنـاګوارو حـالاتو پـه وړاندې دحوصلې غر او دکمالې عاداتو څښتن !

وایې دښو خلکو عمر کم وي ،حقاني صیب هم دکریمه خویونواو دیوه کامل انسان صفات درلـودل، دادی اوس که مو منځ کې نشته، نوخـاطرات یـې پـه لسګونواو سلګونوراسره شته او دده یاد یـې ژونـدی ساتلی .

په لنډه به ووایو چې : مرحوم الحاج مولـوي سید محمد حقاني رح یو بیلګه انسان ،دتواضـع ،ښـو اخلاقو ،مجاهدې ،اخلاص او زړه سواندۍ یوه الګـو او نمونـه وه ،چـې داسـلامي امـارت پـه یـوه جهـادي خدمت کې بوخت و،چې دورپیښې ناروغۍ له املـه یې خپـل روح لایـزال څښـتن تـه پداسـې حـال کـې وسپاره، چې دمسافرت او پردیسۍ پـه نهیلیـوکې لـه کـورنۍ لیـرې اواسـلامي امـارت پـه خـدمت کـې مصروف وو، الله تعالی ته مو دواړه لاسـونه پـه دعـا دي، چې دآخرت سفر ورته اسان او قبر یې له انـوارو ډک کـړي او پـه خپلوپریمانـه رحمتـون کـې یـې ونغاړي ! آمین

علمي او سياسي شخصيت او دشهامت د مجلې مسؤول مدير محترم ابوظهيرصاحب له مورچل سره په مرکه کې:

د مورچل مجلې (۱۰۰) مه ګڼه چاپول په فرهنګي ډګر کې د مورچل مجلې د اداري، قلموالو او فرهنګي کميسيون لپاره ستره فتحه او تاريخي بريا ده!

مرکيال: شکور شفق

دمورچل مجلې د کالګنې او سلګنې لپاره مو دا ځل دشهامت مجلې له درانده مسؤل چلونکي، تاريخ پوه او شناند قدرمن ابوظهير صيب سره هراړخيزه خواله کړي، هيله ده ترپايه راسره پاتي شئ او په لوستلو يې خپله تنده ماته کړئ!

۱-قدرمن ابوظهير صيب هيله ده ،چې دمرکې په سر کې له دود سره سم خپل ځان دمورچل لوستوالو ته وروپيژني!

بسم الله الرحمن الرحيم

منه !ښاغلی او ډېر محترم شکور شفق صيب چې دمورچل دجهادي مجلې دکالګنې او سلګنې د ويا‌ړپه مناسبت دي ماته ددې فرصت په لاس راکړ،چې ستاسو دلوستونکو او مېنوالو سره خپله خواله شريکه کړم، که څه هم زه دعلم او عمل دواړو له پلوه کمزوری او پاتې يم ، خو پوهيږم چې تاسو زما دتشويق او هڅونې په ښه نيت داعزم کړی نو کور مو ودان اوخوشال اوسي!

را ځم خپلې لنډې پېژندګلوې ته: زه په ۱۳۵۵ ل کې زيږيدلی يم اودعمر په اووه کلنۍ کې له خپلې کورنۍ سره يوځای ګاونډي هېواد پاکستان ته مهاجر شوی يم، دهجرت په ديار کې مې لومړی تر درېيم ټولګي ښوونځی ولوست او بيا مي دديني علم دحصول په غرض دمدرسې لار ونيوه او په دې سلسله کې مختلفو مدرسو او جامعوته لاړيم، د درس نظامي د نصاب بشپړولو وروسته په ۲زرم ميلادي کال کې د اکوړه خټک کې له مشهورې اسلامي جامعې [دارالعلوم حقانيه] فارغ شوی يم.

دطالبۍ دزمانې يوياد به هم درسره شريک کړم، هغه داچې په کوم کال چې ما دعلامه محمد سيد قريش بابا رَحِمَهُ اللَّهُ نه دتکميل

درجې کتابونه ویل ،په هغه کال هر کتاب کې سوونه طالبان شریک وو، دهغو سوونو طالبانو له ډلې یو د اسلامي امارت شهید امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم و او د همدې تعلیمي کال د پای په ورځو شپو کې افغانستان کې ددیني مدرسو طالبانو د اروابنباد امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په قیادت کې دشر او فساد د ځالو پر ضد شرعي پاڅون وکړ چې سبب یې زیات طالبان په تحریک کې مصروف شول اوسبقونه تري پاته شول په دې لړ کې له ما هم دوړې دورې اولویې دورې کتابونه پاتې شول بالاخره دمنان څښتن په بې پایه لورینه مې لومړی دکمې دورې او بیا دلویې دورې دسرته رسولو چانس ترلاسه کړ په دې دالله تعالی زیات شکرونه اداء کوم اود علمي مسلک اومشرب په باب به هم ځان در اوپیژنم هغه داسې چې زما ټول استادان ، شیوخ او مرشدان لله الحمد دیوبندیان دي نو په دې اساس زه هم ددیوبندي علماوو دعلمي خدمتونو قدردان او خادم یم په خاصه توګه د ایشیا دباب الحدیث حضرت امام شاه ولي الله دهلوي د محدثانه شان ترڅنګ د اسلام دسیاسي، اقتصادي او اجتماعي نظام په برخه کې دهغه دلیکلیو اصولو کلکه پیرو ي کوم

۲-هیله ده درسنیو او مطبوعاتو په شالید یا تیر پیښ لیک رنا واچوئ اوهم ووایاست چې مطبوعات یارسنی په کاغذي بنه او بیا وروسته په بریښنایي شکل کله مینځته راغلې ،ولې مینځته راغلې ،دڅه لپاره رامنځته شوې او اوس یې ګټه ډیره ده که تاوان ؟

بنکاره ده فطرتاً هر انسان دتجسس ماده لري چې تل دخپل شاوخوا له حالاتو او پیښو نه دڅان د خبرولو کوښښ کوي ، ددې لپاره دهغو وسایلو د مندلو او ترلاسه کولو سره زیاته علاقه لري کوم چې ور سره په دغه مورد کې مرسته او کومک کولی شي.

بناً دتاریخ په ټولو دورو او پړاو نو کې خلکو په یو نه یو ډول دخبرونو مندلو او تر لاسه کولو په غرض له بېلابېلو وسایلو او لارو څخه استفاده کړې دمثال په ډول : داسلام دمبارک دین دظهور ه وړاندې د ایران دشهنشاه په دربارکې داخبار په نوم مستقلې قلمي برنامې لیکل کېدې او مختلفو بنارونوته دخلکو خبرولو په موخه لیږدو ل کېدې اوبنکاره ده [اخبار] عربي لفظ دی او د(خبر) جمع دی ، غالباً په هغو قلمي برنامو کې دهبواد او نظام په اړه خبرونه لیکل اوبیا مختلفو بنارونوخلکو دخبرولو په غرض به یې استول.

دا چې په کاغذي بنه چاپي رسنی کله او چا رامنځته کړې ؟ له هغه مهاله چې دچاپ ماشین ایجاد او اختراع شو په غیر منظم ډول چاپي

خپرونې هم رامنځته شوې او جوته ده چې د چاپ ماشین لومړی چین کې د۵۹۳ -۶۱۸ز کلو ترمنځ ایجاد شو او ددې څرک د ۵۹۳زکال د یو چینایي امپرا طور (ون تي)په یو فرمان کې لیدل کېږي چې هغه دخپل دولت یوې مرجع ته حکم کوي : دبودا انځورونه او متون چاپ کړئ... هغه مهال دچاپ طریقه داسې وه چې لومړی یې په یوه نازک کاغذ لیکل کول او بیا هغه لیکل دلرګي په تخته کندل او دهغو نه دچاپ لپاره استفاده کوله.په دې لړ کې ترټولو قدیم چاپي کتاب چې ترلاسه او مندل شوی هغه دبودا یې دین اړوند دیو متن چاپ دی، چې په ۸۴۸ز کال کې په دغه یاده بڼه چاپ شوی.

وروسته په ۱۰۴۱ میلادي کې یو ه بل چینایي (بیشنګ) حروفي چاپ ماشین ایجاد کړ په کوم سره چې تر یوولسمې پیړۍ دنړۍ تر نورو هېوادو هم حروفي چاپ دود او پراخ شو.

په دې ضمن کې دا سپیناوی ضروري دی په ټوله نړۍ کې د چاپ بهیر په یوځل ندی رامنځته بلکې په تدریجي بڼه خور شوی، دنړۍ په ځینو هېوادو کې دمطبوعاتو پیل ژر شوی او په ځینو کې بیا په ځنډ سره .

یو بل شی چې په دې موردکې دپام وړدی هغه دادی چې د میډیایا رسنیو یو نوم صحافت دی او صحافت دعربي ژبې د (صُحف) نه اخستل شوی چې لغوي معنی یې مجله، رساله یا ورځپاڼه ده یعنې هغه چاپې مواد چې دوقفې او ځنډ وروسته خپریږي صحافت ګڼل کېږي په دې لحاظ جوتیږي چې درسنیو ریښې یعنې دلیکوالۍ او صحافت تاریخ ددینه هم پخوانی دی کوم ته چې ماوړاندې اشاره وکړه او آن هغومره قدامت لري څومره چې دبشریت تاریخ یې لري ډېر تفصیل ته نه څو.... هو! دتیرو څو پیړیو په اوږدو کې د مختلفو پړاوو وروسته صحافت یا رسنۍ نه تنها مستقل فن ګرځیدلی بلکې موجوده مؤثر رول ته په پام سره منل شوې چې دیو هېواد د دریو ګونو ستنو (مقننه، اجرائیه او قضائیه) په څېر [میډیا] هم دیو هېواد او نظام دځلورمې ستنې حیثیت لري ا و په نړۍ کې حکومتونه دخپلې دفاع لپاره پرې بیدریغه درانه لګښتونه کوي مختصر داچې په وروستیو څو پیړیو کې دمیډیا په رول او کردارکې دپام وړ مؤثریت او پرمختګ راغلی....

دګټې او تاوان په اړه به یې عرض کړم چې هغه هېوادونه او ملتونه چې دځواکمنو مطبوعاتو او خبري چینلونو څښتنان دي، هغوی تري اعظمي ګټه اخلي اوکوم هېوادونه چې

دځواکمنـو مطبوعـاتو نـه محـروم دي دعلامـه اقبال رَحِمَهُ ٱللَّهُ په وينا

تقدير کې قاضي کا يه فتوا هې ازل سي

هي جرمي ضعيفي کې سزا مـرگ مفاجات

هغـــوی دمفاجـــات مرگـــو نـــو سره لاس اوگريوان دي مثلاً: څو کاله وړاندې دعـراق په بـاب ټـولې نـړۍ لـه ميـډيا اوريـدل چـې عـراق داسې کيمياوي وسلې جـوړې کـړې چـې نـړۍ دسـترگو پـه رپ کـې نيسـت ونـابود کوي!بايـد نړيـوال دعـراق ددغـو وژنکـو وسـلونه د نجـات منـدلو لارې چـارې ولټـوي، خـو پـه دغـه بهانـه اوپلمه دعراق کنډواله کولو وروسته نـن څېړنـې ښيي چې عراق کې دکيمياوي وسلو دشتون غـو غا دروغ وه يـواځې امريکـا غوښـتل پـه دې پلمـه ځان ته په عراق ديرغـل کولوجواز ومـومي دا دی ترننه دناکرده ګناه سزاوې عراقيـانو تـه ورکـوي داځکـه چـاچې پـه عـراق ديرغـل تابيـا لرلـه هغـه دمجهزې ميـډيا څښـتن و او پـه مقابـل کـې يـې صدام حسين رژيم ونشواى کـولى چـې د دومـره ښکاره دروغـو او پـرو پاګنـد خـلاف خپـل غـږ تـر نړيوالو ورسوي څـو دعـراق خـلاف عامـه نړيـوال ذهنيت بدل کړي.

۳-آيـاوئيلاى شـئ، چـې مجلـه ليکنـه او ورځپاڼه لومړى چا تاسيس کړل ،لومړى مجلې او لـومړنى ورځپـانې کـومې وي ، کـوم هيـوادکې دپـريس لـه ماشـينه ووتلې او پـه کومـه محتـوى نشر شوي؟

ما وړاندې وويل: چاپې رسنى نړۍ کې پـه يوځـل نـدې پيـل او دود شـوې ، بلکـې تـدريجاً رامنځتـه شـوې، چينايـانو پـه لـومړي ځـل سره دچاپ ماشين ايجاد کړ په دې سره دصـحافت او ليکوالۍ په اړه قـوي بـدلون راغـى هغـه داسې چې وړاندې ټول کتابونه ، ليکونه او خبرې برنامي په لاسونو ليکل کېدي د۵۹۳ ز وروسته يې چاپي بڼه ومونده لـيکن هغـه مهـال زيـاتره کتابونـه او دحکومت رسمي پانې يـا دپاچايـانو انځورونـه او ژوندليکونه چاپول پيـل شـول او پـه چـاپي بڼـه د رسنيو د چاپ مرحلـه پـه معيـاري شـکل د١٦مې ميلادې پيړۍ په پيل کې رامنځتـه ا و دود شـوې او پـه ١٦٠٥ زکـال فرانسـاه کـې لـومړى چـاپي ورځپاڼه خپره شوه وروسته په کال ١٦٣١ز کـال بيا هم په فرانساه کې بله جريـده Gazette پـه نـوم چـاپ شـوه ددينـه وروسـته لنـدن کـې پـه ١٦٦٥زکـال کـې انګريـزې ورځپاڼـه چـاپ شـوه، کرار،کرار پـه نـوره نـړۍ کـې هـم چـاپې رسنى رامنځته اوچاپ شـوې او دادى نـن نـړۍ کـې لکونو په شمير چاپي رسنى شتون لـري چـې پـه مختلفو ژبو او مختلفو هېوادو کې خپريـږي او پـه ميليونو لوستونکي لري

۴-آيـا چـاپي رسنـى (پرينـټ ميـډيا) اوس دالېکټرانيکي يا بريښنايي هغو سره موازي روانې

دي، که نه چاپي مطبوعاتو اوس خپل مقام له لاسه ورکړی او څوک ورته چندان ډیرارزښت نه ورکوي ؟

داسمه ده په لویه کې دوسایلو له پلوه صحافت یا رسنۍ دوه ډوله دي: چاپي - بریښنائي، چاپي رسنۍ عبارت له ورځپاڼو ، مجلو، جریدو او رسالوڅخه دي ، چې پکې دورځپاڼو ترڅنګ، درې ورځینۍ، اوونیزې، پنځلس ورځینۍ، میاشتینۍ، دوه میاشتینۍ شپږمیاشتینۍ اوکلنۍ هم دچاپي رسنیو په زمره کې راځي.

د بریښنائي رسنیو په چوکاټ کې راډیو، تلویزون، انټرنیټ او خواله رسنۍ داخل دي او په راتلونکي کې نده ښکاره چې ساینس او ټیکنالوجې دخپلو حیرانوونکو پرمختیاوو لړ کې نور کوم حیرانوونکي ایجادات وړاندې کوي چې هغه دمیډیا او ابلاغ لپاره وسیله وګرځي.

هرچې دبریښنایي میډیا دپیل خبره ده په ۱۸۹۹ زکې لومړی مارکوني په نوم یوتن لاسلکي نشرات له انګلستان څخه پیل کړل په ۱۹۲۲ زکې مارکوني کمپنۍ انګلستان کې دلومړۍ راډیوې دستګاه څخه دفروري په ۲۳مه نیټه نشرات پیل کړل او په همدې کال (۱۹۲۲)ز کې یوبل انګریز دتجربوي بهیر دپیلولو وروسته په ۱۹۲۷زکې دتلویزون نشرات پیل کړل.

دکمپیوټر او انټرنیټ په رامنځته کیدو نړۍ دنړیوال کلي بڼه غوره کړه. نن دژوند په ټولو برخو کې کمپیوټرته اړتیا ده، کمپیوټر دمعلوماتو دلیږد او ترلاسه کولو یوه غوره وسیله ګرځیدلې دیته په پام اوس اکثریت چاپي ورځپاڼې، مجلې او چاپي رسنۍ هم انټرنیټې شمارې اوخپرونې لري په دې توګه هغوی دچاپي فعالیتونو ترڅنګ بریښنائي فعالیتونه هم پیل کړي او زیاتره چاپي ورځپاڼې ،مجلې او رسنۍ دخپلو ویب پاڼو له لارې په نړۍ کې زیات شمیر کتونکي او لوستونکي لري او هر چې انټرنیټې پاڼې دي هغوی هیڅ چاپي ایډیشن نلري نو په دې توګه تري استفاده یواځي د انټرنیټ پورې محدود ده خو دا منلې حقیقت دی چې دبریښنایي رسنیو په مؤثریت کې دشک او شبهې ځای نشته په ورته توګه د بریښنایي میډیا له لارې ادبي مجلې هم خپریږي چې په سبب یې په ادبي نړۍ کې یو انقلاب لیدل کیږي دنړۍ ټول لوی کتابتونونه نه یوازې دانټرنیټ له لارې کتل کیږي بلکې له دې لارې هغوی نادر مخطوطات هم دکتلو لپاره وړاندې کوي چې په دې سره یقیناً دانټرنیټ نه د استفاده کوونکو په شمیر کې زیاتوالی راغلی اوپه تیره دخواله رسنیو توپاني برسات خو چاپي او بریښنایې رسنۍ دواړه له ځان وروسته کړې دزیاتو کتونکو او کارونکو په لړلو دراډیو

اوتلويزون افاديت هم تر سوال اوبحث لاندې دی ځکه يو خبر چې راډيو او تلويزون دلارې نشر ته چمتو کېږي هغه څو ساعته وړاندې د خواله رسنيوله لارې ټولې نړۍ ته رسيدلی وي، ديته په پام نړۍ کې اوس دابحث روان دی چې دخواله رسنيو له لارې دخبرونو د دومره تيز او ګړندي بهير د رامنځته کېدو وروسته راډيو او تلويزون ته اړتيا شته ؟ ليکن ددې سربيره نړۍ کې لوی شمير راډيوګانې او تلويزونې شبکې هغسې فعالې دي څنګه چې وړاندې وي نو چاپې رسنۍ هم دبريښنايي رسنيو دچټګ او پراخ تاثير سربيره خپل اهميت او افاديت يې ترلاسه ندی ورکړی په نړۍ کې داسې مثال نشته چې کومې چاپې رسنۍ له دې وجې خپل فعاليت په ټپه ودرولی وې چې د بريښنايې رسنيو د رامنځته کيدو وروسته چاپې صحافت بې معنی او ارزښت نلري؟

او تجربو ښودلې چې دټولنې او وګړو څومره ښه تربيت او اصلاح چې دچاپې رسنيو له لارې کېږي، هغه دبريښنايې رسنيو د لارې نه کېږي ځکه بريښنايي رسنيوکې بې لارې، الحادي افکار ،لوڅتوب اود فحش مواد دچاپې رسنيوپه پرتله سلونه ځله ډېر دي په دې وجه دځوانو نسلونو دبې لارې کولو لپاره د بريښنايي رسنيو لومې خورا خطرناکې پايلې لري پکاردی اسلامي تحريکونه ، ټولنې او هېوادونه چاپې رسنيوته رشد او پراختيا ورکړي او هم دبريښنايې رسنيو دپراخ ميدان لپاره باتقوا ،هوښيار، زيرک اوکارپوه استعدادونو وروزي او زما په فکر ددې روزنې او تربيې لپاره ښه فرصت او مؤثره مدرسه دچاپې رسنيو غير ده په دې توګه چاپې رسنيو ته پاملرنه فطري او ضروري ده بل دکتاب، مجلې او ورځپاڼې په کتلو کې چې کوم رانښکون، خوند او مزه يو کتونکی محسوسوي هغه د بريښنايې پاڼو په کتلو کې هيڅکله نه حسوي.

په اخر کې رازم ديو اصل لورته هغه داچې رسنۍ که هغه چاپې دې او که هغه بريښنايي !په لويه کې يوداسې مؤثر ځواک دی چې د ډېرو ځواکمنو هېوادو واکمن هم ديته اړدي چې درسنيو په وړاندې د درناوي او احترام رويه ولري او هيڅکله ځانونه درسنيو سره په جنجال کې نښکېل نکړي او تر وسه،و سه کوښښ کوي چې خپل مراسم درسنيو سره په نورمال حالت کې جوړ او وساتي.

۵-نن سبا ژورنالیزم ته په کوم نظر ګوري ،آیا دپیښو واقعیتونه تصویروي ،که نه هغه د(ژیړ ژورنالیزم) له عینکو ورته کتل یو درست اطلاق دی؟

ټول ژورنالیزم یا رسنیو ته دژیړ ژورنالیزم له عینکو کتل مناسب نه بولم ،ځنګه چې دیولاس ګوتې سره برابرې ندې داسې ژورنالیزم او رسنۍ هم یوشان ندې په خاصه توګه اسلامي ټولنه کې خو دصحافت او رسنیو کردار ددیني ارزښتونو او اخلاقي اقدارو ساتنه او تري دفاع ده، د اردو ژبې دوتلي ادیب او د انګریزنه دهند په ازادۍ کې دمسلمانانو دمخکښ رهبر [مولانا ابو الکلام ازادرَحِمَهُ‌اللَّهُ]په وینا: اسلامي لارښوونو ته په پام صحافت دامر بالمعروف ونهی عن المنکر داصولو تابعداري ده چې په نبو به امر ا وله بدو به منع کول کوي او مسلمان لیکوال به دټولنې داصلاح په نیت قلم په لاس کې نیسي۔ اوخپله ټولنه اوخلک به دبداخلاقیو څخه داجتناب په لور بیایي.

او پاتې شوه کفري نړۍ هلته دصحافت یا رسنیو کردار یقیناً دژیړ ژورنالیزم پالنه ده ځکه هلته میډیادقانون او عدالت په وړاندې مسؤلیت نلري ، شهوانیت او شیطانت ازادۍ ګنل کېږي اونه هلته اخلاقي ارزښتونه او دیني مقرارت شتون لري په دې توګه رښتیا هم غربي میډیا او دهغوی په چوپړ کې روزل شوي قلموال دژیړژورنالیزم دودې لپاره په کار او خدمت بوخت دي .

٦-که د شعر صنف ته راشو، نو ترکومه ځایه چې زه ستا سایکالوژي مطالعه کوم، دشعر او شاعرۍ سره دې دمبنې توپان په ځپو وي ، دمنل شویوشاعرانو دیوانونه دې هم تر مطالعې لاندې وي، خو خپله ولې شعر نه لیکي ؟

زما په باب ستا دا برداشت او انګېرنه پرځای ده، په رښتیا هم زما شعر زیات خوښ دی، دمشهورو او لویو شاعرانو کتابونه مې لوستي اوس یې هم لولم او خوند تري اخلم ،داچې خپله ولې شعرنه لیکم شاید دالله تعالی به هم دا خوښه وه چې زه شعر ونه لیکم! یو وخت مې ځومات ګوډ شعرونه لیکلي وو لیکن ځنګه چې داوړدې مودې نه زه دختیځ دستر مسلمان شاعر علامه محمد اقبال رَحِمَهُ‌اللَّهُ دشعري سبک او دهغه د ژورشاعرانه معنویت ، پیغام او تخیل سره جنوني علاقه مندې لرم نو پخپلو لیکلو شعرونو کې مې هغه څه نه مندل چې زما علاقه او مینه ورسره وه نو په هم هغه شیبو کې مې دشعر لیکلو ملکې سره خدای

پاماني و کړه او بيا مې ترننه پـري سلام نـدی اچولی ، بل اکثريت شاعران مداحان وي او زما دمداحی نه زيات نفرت دی همدا لاملونه دي چې زه شعرليکلو ته زړه نه ښه کوم.

۷-دکوموشاعرانو شعر يا غزل دې خوښ دی ، د کوم شاعر دشعر سبک ډير پيروان لري او کوم ډول شعر تلپاتي او د موسم له حوادثونه ژغورلی وي ؟

دا چې زما دکوم شاعرشاعري خوښه ده، په ټوله کې هر ريښتنی شاعر ماته محترم او شاعري يې خوښوم ، خو داچې زما دشعر خوښونې ذوق جلا دی ،دهغه(ذوق) ډېره ترجماني دختيځ دنو ميالي مسلمان شاعر علامه محمد اقبال په شعرونو کې وينم او دهغه را وروسته له نيکه مرغه په پښتو کې دعلامه اقبال دژور فکر پر ليکه روانه شاعري د درانه استادفضل ولي ناګار صيب شاعري زما دذوق ترجمانه ده څنګه چې حمزه باباويلي [دناګار شاعري ددنيا په عظيموشاعريو کې شماره] په ريښتيا هم د ناګار صيب شعرونه اوکلام له پوره معنويت، پيغام او ژورتخيل نه ډک دی ما پکې د خپل ذوق ډکه خزانه مندلې او تري دوامدار خوند اخلم.

۸-دلويديځو اشغالګرو په وړاندې دجهادي مقاومت په کلونوکې د طالب مطبوعاتيانوقلمي وړتيا ،متانت او جهادي زوړتيا او رسنيزو صلاحيتونوته يې په کوم نظر ګوري ، او هم يې دشوروي اتحاد د اشغال پر وخت د مجاهدو ليکوالانو سره پرتلنه څنګه کوئ ؟

د تيرې پوښتنې په ځواب کې دناګار صيب نوم مې يادکړ، دلته ذهن ته د هم هغه ديوشعر دوه کړی راغلې هغه تا اوستاپه څيرطالب مطبوعاتيانوته ډالی کوم چې پکې زما په فکر ستا ددغه احساس ښه ترجماني شوې :

ناګاره! څه پوښتي دې انعکاس دترانو

قلم يدبيضاء ؤ، په قارون وځليده

دصليبي اشغال په وړاندې دمجاهدو قلموالو دستړياوو ، کارنامو او جهادي فن پارو دتاثير څه پوښتي!! دهغوی مات قلم خو په نړی وځليداو د مجهزې نړيوالې ميډيا ټول پروپاګند، نشرات او تبليغات يې وننګول ، دښمن دهغوی په ميړانه اوجرئت اعتراف کوي

له شک پرته دغو اولو العزم مطبوعاتيانو په تشو لاسو دمکارې او چلاکې ميډيا ټولې مکاری،چلاکی ، جعل کاری او دروغ په نطفی کې خنثی کړل دصليبي يرغلګرو له ټولو شومو دسيسو ،بدو ارادو او ظالمانه عزايمو څخه په پرده پورته کولو يې د افغان مظلوم ولس د رواحقوقو او استقلال غوښتلو ترجماني وکړه، له دې پلوه د دوی خدمتونه ستايم او ورته دخلوص

څخه ډکې پيرزويني وړاندې کوم انشاء الله راتلونکی تاريخ به ددوی دقلمي جهاد فنپارې په زرينو ټکيو ستايي هر چې دپخواني جهاد ي پير دليکوالو اوقلموالو سره دپرتلنې خبره کول دي زما په فکر ديته به اړتيا نه وې ، ځکه دا دواړه حماسې زمونږ دويارلي تاريخ برخه دي مونږ په دواړو ويارو او بل دا کار دراتلونکو نسلونو پورې اړه لري چې هغوی دننې ګټاټ دليکوالو اوقلموالو پرتلنه دپروني جهادي سير له ليکوالو سره څنګه ګوي...

۹-دمورچل مجله چې داسلامي امارت دفرهنګي کميسون تر اشراف لاندې چاپيرې او دادی دلوی څښتن تعالی په مرسته يې داګنه چې ستاسو خواله هم لري، دتير (۲۰۱۶ز)کالګنه او پرله پسې (۱۰۰)مه ده ،اوس پوښتنه داده، چې ددې کالګنې او بيا ددې سلګنې کوم مطبوعاتي اوفرهنګي ارزښت هم له مخکنيوفرهنګي ستو اوفرهنګي کتابونونه رانقل شوی ،کوم ډول تاريخي حيثيت هم لري او که نه هرڅوک وايي چې (زما غوا شيدې کوي) هيله ده، دا موضوع لوستونکې ته څه وشني!

زه بيا د فرصت نه په استفاده په سر کې داسلامي امارت مشرتابه د فرهنګي چارو دکميسيون فعال مشر- او د وزينې جهادي او تاريخي مجلې (مورچل) مسؤل اود مجلې چلوونکو او ليکوالانو ته په دې مناسبت مبارکې وايم او د دوی ټولو دغو هڅوته دقدر په نظرګورم اوپه راتلونکي کې ورته له الله تعالی نورې بريالوې غواړم

رښتيا هم دخوښۍ ځای دی چې په خورا سختو شرايطو او تنګو ظروفو کې زمونږ مطبوعاتو ملګرو په ډېر خلوص او زيات صميمت سره دخپل مطبوعاتي او جهادي رسالت حق اداء کړاو دحالاتو جبر او ناکردو له مزله سترې او په شا نکړل ، دادی د همدوی دهمت په متو مورچل د سلګنې په درشل قدم کيښود، دا ديوې نشريې لپاره دستر ويار ځای دی، کنه دلته مونږ ډېرې مجلې وليدلې چې دځلورمې يا پنځمې شمارې نه هاخوايې حوصلې له لاسه ورکړې او لاړې فنا شوې، لله الحمد داد مجاهدينو دقربانيو برکت او د امارت دمشرانو داخلاص علامت دی چې فرهنګي چارو کميسيون دومره پراخ مطبوعاتي خدمتونه په داسې بنه سليقه سرته رسوي چې نه د افغانستان په تاريخ کې يې مثال ليدل کېږي او نه دګاونډيو هېوادو سل يو نيم سل کاله پخواني ديني ګوندونه ياحرکتونه ورسره سيالي کولی شي...

په دې توګه داز مونږ او هم دمجاهد مورچل لپاره دويارې ډکې شيبې دي.

دکالګنې یا اختصاصي ګڼو د چاپې قدامت په باب به دا عرض وکړم دکالګنې یا سل ګنې اختصاصي چاپ منلی مطبوعاتي دود دی، نن سبا زیاتره مجلې ، ورځپاڼې حتی اداري کلنۍ چاپوي اویا کله چې کوم مشهور دیني عالم یا سیاسي او اجتماعی شخصیت وفات شي اړونده اداره دهغه له ژوند ، خدمتونو او کارنامونه د راتلونکي نسل خبرولو په هدف ځانګړې ګڼې چاپوي او په اړه یې دنومیالیو او مشاهیرو تاثرات ټولوي ،دورځپاڼو په نسبت په مجلو کې دا دود ډېر دی البته ورځپاڼې دخپلو خپرنیزوکلیزو لپا نځلو په اړه هم ځانګړې غو نډې جوړوي ، پکې د تیر خپرنیز کال جاجونه کوي او د راتلونکی خپرنیزکال لپاره پلان ګذاري کوي له کارپوهانو او هوښیارو خلکو رایې اومشورې اخلي په ټوله کې دا دمطبوعاتوترمنځ دیوښه قدر مشترک بڼه لري.

همدا راز هغه مجله یا ورځپاڼه چې عمر یې پنځوس کاله پوره شي، دهغې دنیمې پیړۍ کارنامې او خدمتونه په غونډو، مقالو لیکلو او ځانګړو ویناوو لپانځل په ټوله نړۍ کې دود دي.

زما په باور دهرې مجلې او ورځپاڼې په عمر کې سلمه ګڼه چاپول یو امتیاز اوبری دی ،زه دمورچل د دایمي قلمي همکار په حیث دمورچل راتلونکي ته خوشبین یم او لاموفقیت او غوړیدنې ته یې لاس په دعاء یم....

مورچلواله څه پیغام لري؟

څنګه چې ما په منځ کې دیته اشاره وکړه چې اسلامي لارښوونو ته په کتو سره رسنیزخدمتونه په اصل کې دامر بالمعروف و نهی عن المنکر لویه فریضه اداء کول دي نو هغه ملګري چې په دې برخه کې شپه ورځ په خدمتونو لګیادي هغوی دې خپل کارته په کم ارزښت نه ګوري او نه دې دا خورا نازک او مؤثرعلمي مسلک معمولي مصروفیت بولي

په وړاندې زمانه کې به لښکرو هېوادونه فتحه کول نن ورځ چې نړۍ کې دمطبوعاتي راج سیکه چلیږي، هېوادونه لومړی لښکرې نه فتحه کوي بلکې دهېوادو دننه ذهنونه میډیا فتحه کوي او بیا لښکرې پرې یرغل کوي...

له دې وجې اړتیا لرو چې مونږ دمیډیا یې مورچل او محاذ لپاره کارپوه استعدادونه وروزو او ورته پاملرنه ډېره کړو ځکه امریکا او نورو څنګه چې زمونږ دهېواد دجغرافیوي سالمیت او استقلال پولي قبضه کړې هم داسې یې زمونږ فکرې او ذهني چاپیریال هم اشغال کړی په دې توګه مونږ اړیو چې په یو وخت کې په دې دواړو محاذونو کې مقاومت ته دوام ورکړو ....

مونږ ژوندی یو ، مونږ ژوندی یو!

(د جدی د شپږم په افغانستان د شوروي یرغل د ۳۷ مې کلیزې په مناسبت)

شاهد (غزنیوال)

مونږ ژوندي یو ، مونږ ژوندي یو ... دهغو شوروي عسکرو ناړې دي، چې د(۱۳٦۸ کال)د سلواغې په (۲٦)له افغانستان څخه د سره پوځ د شاګرځ په مهال یې خپلو خپلوانو ته د دوئ د لیږدوونکو وسائطو له منځه ور وهلې.

مشهوره روسي لیکواله (پولیتکوفسکایا) چې په ۲۰۰۷ کال کې د پوتین د سیاستونو د مخالفت له امله ووژل شوه، هغه مهال چې د حیرتان پله شوروي لوري ته له نورو ژورنالیستانو سره یوځای د سره پوځ عسکرو لیدو ته ورغلې وه، وایي : چې له افغانستان څخه د شوروي عسکرو د بیرته وتلو په مهال د دغو عسکرو یوزیات شمیر کورنۍ د دوستي (حیرتان) د پله په غاړه د هغوې ښه راغلاست ته ولاړې وي، خو په یاد پله ور اوښتونکو عسکرو ته هلته د تم کیدو اجازه نه وه ؛ ځکه دا له افغانستان سره په پوله د ازبکستان سرحدي سیمه وه او هغوئ له دې ویرې چې همالته د مجاهدینو تر برید لاندې رانشي، همداسې په منډه تیریدل او خپل په نښه شوي ځایته یې ځانونه رسول.

له همدې امله د شوبلو پر سر سپرو روسي عسکرو به چې کوم خپل خپلوان د استقبالوونکو په ډله کې ولید، هغوئ ته به یې د هغوئ د ډاډ ګیرنې په خاطرلاس پورته او د خپل ژوند اطمینان به یې ورکړ.

خو د دغوځواکونو په ډله کې یو شمیر داسې عسکر هم وو، چې هغوئ د پوځي نقلیه وسائطو په باډیو کې ځای پر ځای شوي وو، هغوی چې قدونه یې هم ډیر ټیټ ول، د نقلیه وسائطو د ترپالو نو تر چولو داستقبالوونکو په جمله کې خپلو خپلوانو ته کتل او کله چې به یې د خپلې کورنۍ څوک ولیدل، نو د نقلیه وسائطو په هماغو باډیو کې به پورته و غورځار شو او له دې سره یې هغوی ته ورناري کړې، مونږ ژوندي یو ، مونږ ژوندیو...

هوا! که د شوروي سرتيرو په دغو نارو سره پر افغانستان د سره پوځ نهه کلن اشغال پای ته ورسید، او له دې سره په ټوله نړۍ کې د کمونيستي امپراتوری واکمنې هم پايته ورسيدله.

د ۱۳۵۸ کال د جدی د مياشتې په ٦ کله چې د لومړي ځل لپاره دسره لښکر شوبلې له همدې پله (حيرتان) څخه د افغانستان په لور را واوښتلې، شوروي پوځي جنرالانوبه په ډير غرور سره ويل، چې د دغو شوبلو مخه به بيا د هند سمندرګې په ساحل راګرځوو، يانې د دوی موخه د افغانستان له اشغال څخه د ټولې جنوبي آسيا اشغال او دهند سمندرګي ګرمو اوبو ته ځان رسول و.

خو د افغانستان د مؤمن او غيرتي مجاهد جهادي مقاومت هغوی مجبور کړل، چې بيرته د خپلو شوبلو مخې له افغانستان څخه د خپل هيواد په لور وګرځوي او هلته په رسيدو سره د خپل ځان ژوندی پاتي کيدل يو غنيمت وګڼي.

پر افغانستان د روسي اشغال پر مهال د شوروي ځواکونو عمومي قومندان (جنرال بوريس ګروموف) د ۱۳٦۸کال د دلوې د مياشتې په ۲٦ له خپلو ماتې خوړلو ځواکونو سره د حيرتان پر پله د ور اوښتلو په مهال له خپلې شوبلې راښکته او افغانستان لوري ته په مخ کولو سره يې وويل :

افغانستان ته زمونږ د سرتيرو استول د کرملين د چارواکو ستره اشتباه وه ، مونږ به خپل راتلونکي نسل ته دا توصيه وکړو ،چې بيا دا ستره اشتباه تکرار نه کړي.

پر افغانستان د شورويانو وحشيانه يرغل د افغان غيرتي ولس لخوا له پياوړي جهادي مقاومت سره مخ شو، د دې مقاومت په ترڅ کې يونيم ميليون افغانان شهيدان ، ۵ ميليونه ټپي او معيوب ، ۷ ميليونه مهاجر او په لسګونو ميليونه نور له سختو ستونزو او مشکلاتو سره مخ شول .

د هيواد ټول زيربنايي تأسيسات تخريب او ښکلی هيواد په مجموع کې د شوروي ځواکونو د بيرحمانه بمباريو او جګړو په ترڅ کې په يوه ويرانه بدل شو، خو په مقابل کې يې د کرملين واکدارانو ته هم داسې د عبرت درس ورکړ،چې په ځړيدلو اورمړونو د افغانستان پريښودوته مجبور او پر افغانستان او جنوبي آسيا باندې د واکمنۍ خو بونه يې له خياله ووتل.

يوازې افغانستان نه ، بلکې د منځنۍ آسيا ټول محکوم ولسونه د مسکو له محکوميت نه آزاد او د افغان جهاد له برکته د مستقل ژوند څښتنان شول.

په مغرورو روسانو د تش لاسې افغانانو بريالیتوب د الله جل جلاله د نصرت او د اسلامي جهاد محصول و، چې دغه بريالیتوب د نړيوال

سیاست په قاموس کې د شلم قرن د معجزې په نوم ثبت شو.

خو له بده مرغه چې د جهاد په صف کې یو شمیر ځان غوښتونکو او واک پرسته بوالهوسانو د قرن دغه معجزه د خپلو خود خواهیو قرباني کړه ، هغوی د واک تر لاسه کولو په خاطر داخلې جګړې پیل کړې او هغه کابل چې د یرغلګرو شورویانو له بمونو او توپونو روغ پاتې وه، د خپل منځي جګړو په ترڅ کې په ویرانه بدل او ٦٠ زره بیوزله کابلیان یې د ځان په وینو ورنګول.

د داخلې جګړو په ترڅ کې همدې بې شعوره او بې ضمیره عناصرو له خوا د افغان مجاهد ولس پرخلاف داسې څه تر سره شول، چې د شوروي اشغالګرو ټول وحشتونه او مظالم یې ورباندې هیر کړل، هماغه وو چې د هیواد دتاریخ په یوه حساس مقطع کې طالبان د ديني مدارسو د زده کوونکو په حیث د سیاست ډګرته را وړاندې او د جهادي آرمانونو د پوره کوونکو په حیث یې د هیوادپنځه نوي سلنه د تنظیمي ګډوډي له شره وژغورله.

امریکایان چې د کمو نیستي امپراتورۍ له شړیدو وروسته یې اسلام د ځان په مقابل کې لوی خطر ګاڼه سمدستي په افغانستان کې د طالبانو په خلاف لاس په کار او د یوه پوځي یرغل په ترڅ کې یې د هغوی واکمنۍ ړنګه کړه.

افغانستان دا ځل د شوروي یرغل په ځای تر امریکایي یرغل لاندې راغی ،خو په دومره توپیر چې داځل یې کمونیستي پاتي شونې او تنظیمي جګړه ماران ټول تر یوه جغ لاندې راټول او د وسله وال مقاومت په خلاف وکارول.

خو الحمد لله د امپراتوریو په هډیره (افغانستان) کې امریکایان هم په هغه برخلیک اخته شول ،په کوم چې انګریزان او بیا شورویان اخته شوي ول او اوس په داسې سرسام آوره حالت قرار لري چې نه په افغانستان کې پاتي کیدو ته زړه ښه کولی شي او نه له هغه څخه وتلو ته .

د شوروي یرغل د ۳۷ مې کلیزې د رارسیدو په مناسبت خپل غیرتي ولس ته د هغو قربانیو او سرښندنو د قبولیت غوښتنه کوو ،کوم چې دوی د الله جل جلاله د رضا او د خپل اسلامي هیواد د آزادۍ لپاره تر سره کړي.

لوی څښتن دې د ټولو یونیم میلیون شهیدانو قربانۍ په خپل دربار کې قبولې او د هغو په برکت دي زمونږ ښکلی هیواد له امریکایي اشغال نه هم آزاد او افغان مسلمان ولس ته د قرآني حاکمیت لاندې د آرامۍ او سوکالۍ ژوند ور نصیب کړي.

امریکایان او بشـري ارزښتـونه!!

خلیل-عزم

دملګروملتونودبـشري حقوقوشـورا، هغـه بنسـټ اونړیواله موسسه ده چې مسؤلیت اودنده یې په نړۍ کې دبشري اوانساني حقوقود نقض اوخـلاف ورزی مـوارد پـه ګوته کول اوتثبیتول دي،

دغـه سـازمان ورسـته لـه هغـه منځتـه راغـی چـې دبشري حقوقوکمیسون په کال (۲۰۰٦) دمارچ په میاشت دملګروملتونودیوې اکثریتي قطعنامي په ترڅ کې منحل اعلان شواوځای یې همدغې شورا ونیو.

په هغه مهال چـې دملګروملتونوسرمنشي- (کـوفي عنـان) وو، نومـوړی پـه دې بـاور وو، چـې دبشـري حقوقوکمیسون خپل مسیراوتګلاړه بدلـه کـړي اوترډیـره ځایه سیاسي شوی اوپه داسې یوې مجمع باندې اوښتی چې په لوی لاس په بشري ناقضـینوپرده اچـول کیـږي ، چې ویل کیږي دعنان اشاره عراق اوافغانستان تـه وه ، چې امریکایان هلتـه پـه خـلاص مـټ انساني ارزښـتونو ترپښولاندې کوي ، ولې دبشري حقوقو کمیسون یـې پـه مقابل کې ډیروخت چوپ اوبې تفاوته وي .

امریکالـه ۲۰۰٦ کـال ورسـته چـې کلـه دبشـري حقوقوکمیسون لغوه اعلان شو، دبشري حقوقوپه شوراکې غړیتـوب نـه درلـود ، خـواوس یـې اعـلان کـړی ،چـې نوموړی هیوادچمتودی چې دبشري حقوقو په شـوراکې عضویت ترلاسه کړي .

دبشري حقوقوشـورا یوشـمیرغړي پـه دې انـددي چـې لـه بـل هرهیوادځخـه زیـات امریکایـان دي ،چـې دتاریخ په اوږدوکې دبشري حقوقوناقضـین پـاتي شـوي اوترډیره بریـده یـې انسـاني حقـوق دخپلوګټولپـاره ډال اوسپرګرځولي.

دبشري حقوقوشورا(ویب پاڼه) وایـي : امریکایـانو دمسـلمانو مقـدس کتـاب (قرانکـریم) اوداسـلام پیغمـبر حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) پـه شـان کـې پـه کراتوتوهین اوسپکاوی کړی، په داسې حـال کـې چـې دبشري حقوقوپه تعهداتواومنشورونوکې په دې ټکـي زور راوړل شوی، چـې دوګړوعقایـد، افکـار او د شخصـیتونو کرامت اوحرمت له هرډول تعرض اوتیري څخه محفوظ اومصؤن دي .

امریکایانودچاپان دایروشیما له اتومي بم کـاروني ورسته دګوانتانامو، ابوغریب ، بګـرام اونوروپټواوښـکاره زندانونو په جوړولواوهلته له اسیرانوسره نـاوړو چلنـدونو دامریکاپه ټنډه توردا‌غونه کیښودل

په افغانستان کـې یـې پـه زرګونووسي- خلـک پـه هوایی بمباریواوډرون بریدونوله منځه یوړل ،جوماتونه ، روغتونونه ،ودونه اوجنازي یـې بمبـارکړلي، دبـې دفـاع خلکوپه کورونوبې پـه تـوره شـپه کـې چـاپې اویرغلونـه وروړل ، ښځې اوماشومان یې ترسـهاره پـه واوروکـې پـه ډیروحشت اودهشت کیناستوته اړکړل

امریکایانوخپلوخلکوته اجازه نده ورکړي ،چې ددولت په ضد په پراخومظاهرولاس پوري کړي اوخپل غږ پورته کړي ، چې د(وال استریت) ژورنال دښتودمظاهره چیانوپه مقابل کې دامریکایي واکمنو کلک مخالفت اودنیږدي ۱۰ زروتنونیول کیدل نړئ ته ثابته شوه چې امریکایان بشري اوانساني ازادی ترکوم حد پیژني اودرناوی ورته لري .

له بل لوري دا امریکاده چې نړئ ته له بل هرچازیات پوځي وسلي صادروي داسرائیلوپه ګډون هغوهیوادونوته چې امریکایې خپل متحدین بولي کیماوي وسلي اوحتی داتوم بم سرګلولې په اختیار کې ورکوي .

دملګروملتونو۱۹ ماده صراحت لري چې نړئ بائید له هرډول زهریله اواتومي وسلوڅخه پاکه اواوپه امن کې ووسي ، خوامریکایان یې نه داچې خپله یې جوړوي ، بلکې نوري نړئ اوهیوادونوته یې هم په پریمانه کچه صادروي .

دتلفوني مکالمواوریدل دامریکا هغه بل بشري خلاف ورزي ده چې دامریکا څارګري شبکې دامریکایانوپه ګډون دنړئ په هرکونج اوکنارکې د خلکو خبروته غوږنیولی اوله ځان سره یې ثبت کړي دي ، چې په دې جمله کې دګڼوهیوادونو دولسمشرانو او لوړو پوړوچارواکوخبري اوتلفوني رابطي هم راځي

دغه عمل هم دملګروملتونو۱۲ مادي (چې شخصي ژوند اوداستوګني ځایونه ، مراسلات اودژوند روابط بائیدله هرډول خودسرانه دخل څخه مصؤنیت ولري) یو خلاف عمل دي چې امریکایانوترسره کړی.

دبشري حقوقویوتن فرانسوی فعال «سوفی پترونین» وایي امریکاله دوهم نړیوال جنګ ورسته په ۳۷ هیوادونوکې ۲۰ میلونه وګړي وژلي ، نوپه کوم دلیل اومجوز امریکاځانته داحق ورکوي چې په نړیوال بشري شورا اوبنسټ کې غړیتوب ولري ، دنوموړي په اند ترهغوچې امریکایانودبشري حقوقودخوندیتوب مستنداوباوري ګامونه نه وي اخیستي حق نلري چې په نړیوالوانساني موسساتوکې مهم رول ولري

امریکاتراوسه دماشومانودحقوقوخوندیتوب بین المللي قانون ته تعهد نلري ،دځورونو او شکنجې دمنع کنوانسیون ته قائیل ندی او د بنځوپه مقابل کې دتبعیض اوتاوتریخوالي دمخنیوي په نړیوال سازمان کې له عضویت اخیستلوډډه کوي .

دملګروملتونوپه یوه ځانګړې راپورکې چې (مانفرد نواک Manfred Nowak) چمتوکړي اوهغه هیوادونه چې زیات پکې بشري حقوق پایمال کیږي ، امریکایي هغه هیواد یادکړی چې هیڅ انساني کنوانسیون ته تعهد اودرناوی نلری

راپوروایي : په امریکاکې هیڅ داسې مستقل سازمان وجودنلري چې په خپلواک ډول دبشري حقوقودرعایت اوتنفیذنظارت اوڅاروکړي اوپه عین حال امریکاهیڅ نړیوالې بشري موسسې ته اجازه نه ورکوي چې په نوموړي هیوادکې دغه دنده ترسره کړي

نوله همدې املې دبشري حقوقودنړیوالې شورازیاتره غړي چې امریکایان ندي ، په نوموړي سازمان کې دامریکاپه غړیتوب اوعضویت کلکه نیوکه کوي اومطالبه لري ترڅوچې امریکاپه ویناوعمل کې بشري اقداراوارزښتونوته درناوی نه وي کړی اوثابته کړي یې نه وي چې امریکابه نوربشري حقوق نه پایمالوي ، ترهغودې دبشري شورا عضویت نه ورکول کیږي .

...او بالآخره د امریکا په خلاف جهاد هم

په رسمیت وپیژندل شو!

عبدالرحیم (ثاقب) سیاسي شنونکی او لیکوال

د شوري اشغالګرو په خلاف افغان جهاد د سړې جګړې د اوج په مهال کې پیل شو.

امریکایانو ته د دې جهاد په حمایت سره د خپل شرقي حریف (شوروي اتحاد) د راپرځولو شه پلمه په لاس ورغله ، ځکه یې هم خپله د مجاهدینو ملاتړ وکړاو هم یې نوره نړۍ وهڅوله چې د مجاهدینو پوځي ، سیاسي او اقتصادي حمایت وکړي.

د جهاد په برکت افغان مجاهدینو ته د کمونیزم ماتوونکو او نړیوالو قهرمانانو ویاړ ورپه برخه او تنظیمي مشران یو په بل پسې- د سپینې مانۍ د قدرمنو میلمنو په توګه د امریکا د وخت ولسمشر ریګن لخوا استقبال شول.

خو دا هرڅه په افغانستان کې د شوروي اتحاد تر ماتې پورې وو ، کله چې سور پوځ له افغانستانه په شا او د شوروي اتحاد په نوم هیواد د نړۍ له جغرافیې و توړل شو، لومړی هیواد چې د افغانانو په خلاف یې توطیې پیل کړې هغه امریکا وه کومه چې د نړۍ واکدارې ته د افغانانو د وینو په مټ رسیدلې وه.

د لیونۍ آرمان پوره شو ... په لاره ځي په کانو ولي زیارتونه

په افغانستان کې د کمونیستي نظام تر سقوط او تنظیمي جګړو پیلیدو وروسته طالبانو د جهاي آرمانونو د متممینو په حیث د تنظیمي جګړې او ګډوډي له منځه وړلو ته ملاوتړله .

طالبانو په ډیر لږ وخت کې د هیواد ۹۵ سلنه له بې نظمیو او جګړو څخه خلاصه او په مرکز کابل سر بیره د هیواد ټول ښارونه، ولایتونه او سرحدونه تر ولکې لاندې راوستل.

امریکایان چې په هیواد کې د ګډوډي او تنظیم جنګي اصلي عامل وو په افغانستان کې یې د یوه مستقل، مستحکم او خپلواک اسلامي نظام قائمیدل د ځان لپاره د خطر زنګ وباله او د مختلفو پلمو په ارائه کولو سره یې د هغه د له منځه وړلو لپاره پلانونه جوړ کړل.

په ۱۹۹۹ کې د طالبانو په خلاف د ملګرو ملتونو د امنیت شورى اقتصادي تحریمونه د امریکایي تخریبي پلانونه پیلامه او د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر د میاشتې په اوومه د هغوي پوځي یرغل د افغانستان په اړه د امریکایي لجاجت عملي اقدام و.

طالبـــانو چـــې لا د شوروي اشغال پـه خـلاف او دهغـه پـه تعقيـب د تنظيمـي جگـړو لـه سـترياوو يـې د آرامي ساه نه وه اخيستي پـه ډيـرو سـختو شرائطـو کـې د امريکايي يرغـل پـه وړانـدې هم د ولسي مقاومت او جهـاد قوماندە پە غـاړه واخيسـته او لـه ټولـو نړيوالـو اقتصـادي، سـياسي او پـوځي بنـديزونو سره سره يـې وکـړای شـول امريکايـان او د هغـوي پـه مشري له ۴۸ هيوادونـو څخـه جوړشـوی نړيـوال پـوځي ايـتلاف د الله پـه نصرت او جهادي مقاومت په برکـت لـه تاريخي شکسـت سره مخـامخ کړي.

چې په دې سره ويلای شـو افغانـانو پـه دوو پرلپسي- پيړيو کې دوو امپراتوريو تـه پـه مـاتې ورکولـو سره د وې تـاريخي معجـزې تـر سره کړې.

د طالبانو په قيادت کې د امريکـا پـه مشـري نړيـوال ايتلاف او د نړۍ ستر پـوځي تړون ناټو ته شکست ورکول له شکه پرته چې د افغانانو جهادي معجزه بلـل کيږي ؛ ځکه د شوروي يرغل په مهال که امريکايان په افغانانو د امريکايي استينگرو احسان باروي حق لري ، خو په اوسني جهاد کې په داسې حـال کې له يوه الله پرته د نړۍ په مخ هيڅ حکومت د طالبانو مرسته نه ده کړې ، بلکې د مرستې په ځای چې هر چا څومره وس درلود په هغه انـدازه يـې د طالبانو خلاف د امريکايانو مرسته او ملاتړ کړی ، خو د دې ټولو بـاوجود الله تعالی د دې قرآني ارشاد له مخې چې فرمايي : .... كَمْ مِـنْ فِئَـةٍ قَلِيلَـةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿۲۴۹﴾.البقرة

همدا سترې ، تش لاسې او بې پناه طالبان يې د نړۍ په تر ټولو ستر طاغوت بريالي او هغه هيوادونه چې يو مهال تـر امريکـايي ځـغ لانـدې د طالبـانو پـه خـلاف ولاړ ول د طالبـانو د جهـادي شـهکاري او دهغـوي د حقانيت په درک کولو سره د هغوی ملاتړي او سياسي حاميان شول.

د دې سياسي حاميانو له جملې څخه د روسيې فدراسيون او د چين هيواد دې چې د مسکو په وروستۍ دری اړخيزې کې يې د يوې غونـدې په جوړولو سره د امنيت شورا له تور ليسته د طالبانو د نومونو ليـري کولـو پريکړه وکړه.

د مسکو دری اړخيزه او په هغې کې د ملگـرو ملتونـو د بنـديزونو لـه نوملړ څخه د طالبانو د نومونو ليري کول په حقيقت کې د امنيت شورى د دوو دائيمې غړيو (چين - روسيې) له لوري په افغانستان کـې د امريکـايي اشغال په وړاندې د جهادي مقاومت په رسميت پيژندلو په معنا ده.

ځکه د همدې دواړو لويـو قوتونـو لـه لـوري لـه تورليسـت څخـه د مقاومت د چارواکو(طالبانو) د نومونو حـذفول د دې معنـی لـري ،چـې د هغوی مقاومت مشروع او بايد په وړاندې يې پراته خندونه لـه مخـه ليـري شي.

هيڅا دا فکر نه کاوه چې د امريکا په خلاف د جهاد په نوم پيل شوی خوځښت دې بريالی اود نړيوالوقوتونو لخوا په رسميت وپيژندل شي، خو د روس او چين لخوا له تورليسته د طالبانو د نومونو د ليري کولو وړانـديز

دا ثابته کړه چې بالاخره د طالبانو لخوا د امریکا په خلاف پیل شوي جهاد هم د نړیوالو لخوا په رسمیت وپیژندل شو.

امریکایي یرغلګرو چې په کال ۲۰۰۱ کې یې د جهادي مقاومت (طالبانو) په وړاندې تبلغاتي جګړه پیل او د ملګرو ملتونو د امنیت شوری په شمول یې ډیر شمیر هیوادونه په خپل صف کې ودرول اوس د واقعیتونو په درک کولو سره هغوی پوهیږي چې طالبان د خپل هیواد له حریم څخه د مدافعینو په توګه یواځې له هغو یرغلګرو سره مقابله کوي کوم چې د دوی په هیواد یې یرغل کړی.

طالبانو ۱۵ کاله د امریکا په مشرۍ د بهرنیو یرغلګرو په وړاندې اخلاقي مقاومت وکړ ، اخلاقي په دې معنی چې په دې مقاومت کې یې نه بشري حقوق تر پښو لاندې کړل ، نه یې د امریکا په ایتلاف کې د داخلو هیوادونو له نیول شویو بندیانو سره غیر انساني چلند وکړ او نه یې د امریکایانو په ځیر د هغوي د وژل شویو سپکاوی وکړ.

طالبانو د مقاومت په جریان کې امریکایي پوځیان ژوندي ونیول او هغوی یې د ډیر وخت لپاره له ځان سره وساتل خو له هغوی سره یې د ټولو انساني او اخلاقي معیارونو برابر رویه وکړه.

د مقاومت په بهیر کې جهادي ابتکارات

تر امریکایي یرغل وړاندې افغانستان تر شوروي یرغل لاندې هم راغلی و ، خو هغه مهال د مقاومت لیکې ډیرې نامنظمې ګډوډې او متفرقې وې.

په هره سیمه کې به د مقاومت کوونکو د وسلو خولې د دښمن په ځای په خپلمنځي جګړو کې د یو اوبل په لوري وراوښتي.

د افغانستان په هره سیمه د تنظمي ډلو بیلابیله واکمني وه چې دشوروي اشغالګرو تر وتو وروسته همامغې تنظیمي حریفې ډلې یو د بل په خلاف په جګړه شوې.

دا په داسې حال کې چې د شوروي اشغال موده ټوله نه کاله وه ، خو په نهو کلونو کې د مقاومت متعددو اړخونو د مقاومت د اهدافو د تحقق لاره خوشې او د قدرت د تصاحب په غرض یو د بل په مقابل کې ودریدل.

خو د امریکایي یرغل په مهال سره له دې چې د اشغالګر لوري ځواک او شمیر تر شوروي ځواکونو ډیر زیات او په افغانستان کې د پاتي کیدو موده یې هم ډیره اوږده ،مګر طالبانو د جهادي ابتکاراتو په کارولو وکړای شول چې د امریکایانو او د هغوي د ایتلافیانو په خلاف د مقاومت لیکې منظمې ، متحدې او مضبوطې وساتي ، د مقاومت په دوران کې پوځي مقررات رعایت او نړیوال په دې قانع کړي چې د دوی مقاومت په خپل هیواد کې د بې نظمي، ګډوډي او اشغال له منځه وړل او په عوض کې یې د یوې مسلطې او خپلواکې اداري رامنځته کول دي.

ولسي حمایت د مقاومت بله مشخصه

دا ښکاره خبره ده چې د امریکا غوندي ستر نړیوال پوځی ځواک او د هغوی د ستر جنګي حلیف ناټو په مقابل کې مقاومت زیاتو پوځي او لوجیستیکي اکمالاتو ته اړتیا لري، خو طالبانو دغه مقاومت په ډیره منظمه توګه په داسې حال کې رهبري کړ چې د امریکا په دستور د ټولې نړۍ لخوا هغوی تر سختو بندیزونو لاندې وو.

نه د پخواني جهاد په ځیر د هغوی تر شا نړیوال سیاسي حمایت و او نه د امریکایي استینګرو په ځیر پوځي مرسته.

طالبانو همدا مقاومت یواځي او یواځي د الله په نصرت او بیا د خپل مسلمان ولس په حمایت تر سره کړ.

ولسي خلګو د طالبانو داسې حمایت وکړ، چې هغوی ته یې په خپلو کورنو او کلیو کې ځای ورکړ او له هغوي سره یې ځاني او مالي مرستې وکړې.

چې دغه هرڅه هم افغان ولس او هم نړیوالو ته د دې لامل شول چې د مقاومت په رهبري کې د طالبانو په نه نظم ، اخلاقي تعامل او نه انسجام باندې اعتراف وکړي.

د مقاومت په دوران کې د اخلالګرۍ مخنیوی.

طالبانو نه یواځې داچې د امریکایي یرغلګرو پوځي یرغل یې له ماتې سره مخ کړ؛ بلکې د هغه ترڅنګ یې هغه ټول امریکایي سازشونه او توطیې هم شنډې کړي چې د مقاومت د کمزورې کولو لپاره په کار واچول.

د هیواد په داخل کې یې د اربکي سازي، ملیشه سازي ، تنظمي تعدُدُ او داعشي اخلالګرو ټول تخریبي پلانونه په داسې ډول شنډ کړل چې د امریکایانو په خلاف مقاومت تري هیڅ متأثر نشو.

امریکایانو په افغانستان کې هم د عراق په ځیر د مذهبي او طائفي جګړو د راپورته کولو کوښښ وکړ، خو طالبانو په ځانګړې حکیمانه طریقه دا فتنه خاموشه او ډیر هغه کسان چې امریکایانو غوښتل د مقاومت په خلاف وکاروي طالبانو هغه د دوي په مقابل کې ودرول.

دا هرڅه د دې لامل شول چې نړیوال ذهنیت د مقاومت په ګټه بدل او امریکایان د خپلې ناسمې او غیر منطقي تګلارې له امله د هغوی له حمایت نه بې برخې شي.

مونږ په دې ویاوړ چې تر اوسه پوري د غه ټولې بریاوې یواځې د الله په نصرت ، د مجاهدینو د اخلاص او خپل مسلمان ولس په کمساري قربانیو زمونږ په برخه شوې.

بیاهم لوی الله ته سوال کوو چې همدا سپیڅلی جهاد او دهغه سپیڅلې ثمره د دښمن د هر ډول سازشونو او فتنو له لوڅه محفوظه وساتي او په شهید روزونکي افغانستان کې د اسلامي حاکمیت په راتلو سره افغان مجاهد ملت د آرامی، سوکالی او ترقي ژوند ور په برخه کړي.

د افغانســـتان په اړه

د يو شمېر عامو امريکايانو تبصرې ...!!

ليکنه : موسی فرهاد

اوباما وايي، حقيقت دا دی چې موږ پنځلس کاله اوږده جګړه وکړه، خو د طالبانو په ماتولو کې بريالي نشو، موږ چې څه کول غوښتل؛ دا رښتيا دی چې ومو نشوای کړای.

... اوباما په دې خبرو کې تنها نه دی، بلکې د ډيری امريکايی نظاميانو او سياسيونو ورته اعترافات هم په ميډيايی ريکارډ کې پراته دي.

دا هرڅه له کمينټ او تبصرې پرته پرخپل ځای پريږدو. موږ دلته د عام امريکايی ولس څرګندوني راسپړو چې په را روانو پراګرافونو کې به يې ښلګې درانه لوستونکي ولولي .

امريکا او ائتلافيانو يې ١٦ کاله وړاندي پر يو ډېر کمزوري او ناتوانه هيواد حمله وکړه ، چې څومره ټيکنالوژي او څومره وس يی وو ؛ هيڅ يې دريغ نه کړل ؛ بمبارونه ، قتلونه ، زخمونه ، آسارتونه ، تعذيبونه ، بنديزونه او نور هرڅه يی په کار واچول بيا هم د مجاهدينو په ورک کولو بريالي نشول ، لويه خبره دا چې د مسلمانانو د مورال په ځپلو ونه توانيدل ؛ که څه هم ځاني او مالي زيان يې هم ځان او هم افغانانو ته ورساوه ؛ مګر بيا هم تراوسه فتح او بريا هيڅ وجود نلري ، نه پوځي او نه سياسي حل ته لاره پيدا شوه نو امريکايي واکمنانو ته پکار ده چې نور پرخپلي پيل کړې تګلاري له سره غور وکړي .

پورتني ټکي ټول د هغو خبرو مغز دی چې يو شمېر عامو امريکايانو په خواله او نورو رسنيو کې د خپلو تبصرو او کمينټونو په ترڅ کې د هغوی اظهارات کړي :

جوزيپ اولسون (Joseph Olson) وايی :

The issue is this, a country who ran Genghis Khan out. How did we ever expect to win? Genghis Khan had a far heavier appetite for war than the U.S. ever did. Wake up people they have never bowed to anyone in that country. We need to realize...

... خبره دا ده ، يو هيواد چې هغه ، چنګيز زغلولی وي ، پر هغوی باندې به مورږ د بريا څه اميد کوو ؟ چنګيزخان د امريکا په پرتله جنګيالی او خواکمن وو ، ويښ ملت هيڅ چا ته سرټيټ کړی نه دی ، مورږ اړتيا لرو چې پرخپل کار له سره غور وکړو...

د Quackula په نوم امريکايی داسي ليکي : (ممکن چې نوم يی مستعار وي)

The U.S. Government my not admit defeat but the American people are ready too and want to get out.

...د امريکا حکومت ښايی په ښکاره ماتي ونه مني خو امريکايی ولس تيار دی ، او هم غواړي چې ژر تر ژره ځان له افغانستانه وباسی ...

يو بل امريکايی داسي ليکي:

Unfortunately US selected a corrupt regime to execute their short term goals which is surely going to be disaster for the whole region.

...بدبختانه امريکا په افغانستان کې داسی يو کرپټ او فاسد رژيم ځای پرځای کړ چې فقط د څو لنډ مهاله شخصي ګټو په لټه کې دی ، بل هيڅ نه ، دا به يقيناً د ټولې سيمې لپاره يو لوی ناسور وي...

يو بل امريکايی کارلن وايی :

For weeks now the Taliban website keeps saying,"U.S has faced utter defeat in Afghanistan". How Humiliating!!

... اوس هميشه طالبان پر خپلو ويبپاڼو وايی : امريکايان له سخت شکست او ماتي سره مخ دي . دا څومره د ذلت خبره ده .زمورږ لپاره...

د Snowleopard په نامه امريکايی داسی وايی : (ممکن چې نوم يی مستعار وي)

We have already lost the war - its time to accept it, admit it, and get our troops home before any more die. It's not the failure of the soldiers in any way; its the political leadership of the nation that has failed them.

...مورږ جګړه بايللي ، اوس وخت دی چی ويی منو ، شکست تسليم کړو او خپل پوځونه بيرته خپلو کورونو ته مخکې له دې راولو چې نور ووژل شي . هو دا شکست مو د عسکرو نه دی په هيڅ صورت ، بلکي دا مو د ملت د سياسي مشرتابه اشتباه ده چې دوی يې ناکام کړل ....!



---- پـورتنی وړې وړې جملـې کـه څـه هـم د یرغلګرو د رسمي مواقفو استاځولي نشي کولای ، ولی دا یو پیغام هرو مرو ورکي شته چې د امریکایی یرغـل د شکست شیبې نوري د ګوتو په حساب دي .

دا ځکه چې په ۲۰۰۱م کې کله چې امریکایانو د افغانستان پر ناتوانـه ، بیچـاره او جنـګ ځپلي ولـس باندي د یرغل تابیا وکړه د خپلـو خلکـو ملاتـړ یـې پـه دې شعارونو ترلاسه کړ چې ګویا دوی د خپل ولس د حفاظـت لپـاره جګـړه کـوي ترڅـو امریکـایی ولـس لـه ناامنیو او بالقوه خطراتو وساتي ، او جګړه به امریکا د داسي ټیکنالوژۍ په مټ پرمخ وړي چې هم بـه لنډمهالـه وي او هم به د امریکایانو سر او مال ته به هیڅ زیان ونه رسیږي .

د همدې ګمراه کوونکو شعارونو او خیالبافي سوچونو په وجه یې ٪۸۸ عامو امریکایانو هم ملاتړ وکـړ . مګر کله چې خبره دې ته ورسیده چې جګـړه لـه دوو میاشـتو نـه یـوې نیمـي لسـیزي تـه وغزیـده ؛ د لسـګونو عسکرو له وژلو نه سلګونو او بیا زرګونو او په بل حساب په لسـهاوو زرګونـو تـه ورسـیده ، مـالي زیـان یـې لـه میلیونونو نه میلیاردونو او له ملیاردونو نه ټریلیونو ته خبره پورتـه شـوه ، او پـه مقابـل کـې یـې لاسـته راوړنې نـه یوازې صفر وي بلکي برعکس د امریکا نړیوال غرور ، حیثیت او دبدبه داسی مخ پر ځوړ شول چې آثـار یـې اوس له ورایه ښکاري او شیبه په شیبه په نړۍ کې د امریکایانو په وړاندې د کرکې او نفرت د ځرګندولو جـرأت په خلکو کې راڅرګندیږي . أن داچې اوس د امریکـا د ازلي دښـمن، روس او چـین پـه سرمشرۍ کـې د یـوه بلاک د جوړولو خبره په نژدې کیدو ده .

بل طرف ته یې په افغانستان کې د یو شلیدلي ، کرپټ او فاسد نظـام پـه رامـنځ تـه کولـو سره هـم خپـل اعتبار له لاسه ورکړ او هم یې اهداف په اوبو لاهو ښکاري ، له همدې ځایه ده چې د میلیاردونو ډالرو په خـرچ کولو سره د ۳ لکه بې ګټې پوځ څخه هم امریکا دومره مایوسه شـوي چـې ترپـوزي ځینـی رسـیدلي ده. ځکـه چې د دوی د موخو د ساتلو په هیڅ صورت جوګه نه بریښي .

نو دا ټول واقعیتونه د دې باعث شول چې عام امریکایـان د خپـل جګـړه مـار حکومـت لـه هغـه ملاتـړه پرشاه شوي ښکاري چې په ۲۰۰۱م کې یې د یرغل پـه تائیـد کـړی و . د ګیلـپ اداري د سروې لـه مخـي هغـه مهال ٪۸۸ سلنه امریکایانو پرافغانستان د جګړې ملاتړ کړی و، فقط ٪۱۲سلنه خلکو یې مخالفت کاوه. خـو پـه ۲۰۱۵م کې د همدې اداري د سروې په آساس ٪۷۹ سلنه خلکـو د جګـړې د جـاري ساتلو مخالفـت کـړی او ٪۲۱ سلنه یې تائید کړی. پای ...

او د جهاد د حقانیت په خلاف يې د دښمنانو د تشکیک هڅې!

لیکنه: مولوي عبدالهادي (مجاهد)

له تېرو دوه ویشتو کلونوراهیسې طالبانود داسې یو عقیدوي، فکري، سیاسي، پوځي او اجتماعي پدیدې په حیث تبارز کړی، چې تقریباً د ټولې نړۍ ورته پام وراووښتی، او تر ډېره حده یې ددنیا نظامونو په یوه او بل شکل دښمنۍ ته ملا ترلې، او د هغوئ د ورکاوي او یا یې د تأثیر د محدودولو او یا یې هم د مسیر دمنحرفولو لپاره هڅې او پریمانه مصارف کوي.

په تیرې یوې پیړۍ کې داسلامي نړۍ دیوه اسلامي خوځښت په خلاف دومره لوی سیاسي او پوځي ټرون ندی جوړ شوی ،لکه څومره چې اوس ددې خوځښت په خلاف جوړ شوی دی. او ددې کار علت هم ښایي دا وي چې نورو خوځښتونو یا د داسې یوه نظام داقامه کولو اراده نه درلوده، چې د شرق اویا غرب دکفارولە لوري پر وضع شویو اصولو او روحیې دې ولاړ نه وي، او که په فکري او نظري شکل يې دغه ډول اراده درلودله هم نو په عمل کې يې ددغه ډول نظام د رامنځته کولو لپاره جغرافیه، توانایې او بشري ځواک او عملي فرصتونه نه درلودل.

دا چې طالبانو هم په نظري او اعتقادي ډول په دغه ډول نظام باور او دهغه داقامه کولو اراده درلوده او هم يې دهغه درامنځته کولو لپاره پوځي او اقتصادي توانایي او بشري ځواک موجود کړ، نو ځکه خو د نړۍ دکفارو ورته سودا شوه ،چې که چیرې یو ځل په افغانستان کې دغه ډول تجربه کامیابه شي ،نو د اسلامي نړۍ په ځینې نورو هیوادونوکې هم دهغې د کاپي کېدلو او کامیابېدلو امکانات هم په پراخه پیمانه موجوددي. نو ددې لپاره چې دغه ډول (سنّی) اسلامي تجربه په اسلامي نړۍ کې کامیابه نشي ،دنړۍ کفري ځواکونو او په سیمه کې دهغوئ ملګرو يې د له منځه وړلو لپاره نړیوال ټرون رامنځته کړ او د هغې دله منځه وړلو لپاره د حالاتو په برابرولو کې مرسته وکړه، او ټولو په شریکه پر

دې جګړې تر اوسه پورې تر دوه زره ملیارده ډالرو ډېر مصارف وکړل، او جګړه لا روانه ده.

طالبانو په خارق العاده ډول دنظام، سیاست، دیپلوماسۍ او عسکریت په ډګرونو کې نړۍ ته نوې پدیدې ورمعرفي کړې. په خارق العاده ډول یې ځکه ګڼو چې هغوئ نه دسیاست او نړیوالو اړیکو له فاکولتو فارغ شوي ول، نه یې د تېرو څو پېړیو په تاریخ کې ددغه ډول نظام جوړونې تجربه لیدلې وه، نه یې حربي پوهنتونونه او معاصر جنګي نظریات لوستي وو، نه یې له کوم زبرځواک سره پوځې او سیاسي ټرونه درلودل، او نه یې داسې پوځي صنعت او ټکنالوژي درلوده، چې د نورو هېوادونو مقابله پرې وکړي. خو لدې ټولو سره سره یې په کامیابۍ،زیرکتیا او متانت د امریکا، اروپا او دسیمي دهیوادونو په مقابله کې ځان کامیاب ثابت کړ، او هیڅ هیوادونه کولی شول چې د طالب پدیده او دهغه فکري، سیاسي او نظامي وجود له منځه یوسي.

نه یوازې دا چې د طالبانو فکري، سیاسي، او پوځي پدیده چا له منځه یونه وړلی شوه، بلکې دهرې ورځې په تېریدلودهغوئ قوت زیات،جنګ یې شدید او سیاسي تجربه یې پخه شوه، اودښمنانویې یو په بل پسې دجګړې مېدان پریښود، چې دامریکایي، کانادایي، اروپایي، استرالیایي او دسیمې دنورواجیرو پوځي ځواکونو له افغانستانه وتل ددې مدعا شواهد دي.

دجګړې له ډګره د بهرنیانو وتل او له امریکایي پلوي حکومت څخه دهیواد د ډېرو سیمو آزادول د طالبانو لپاره ټوله بریا نه بلکې دبریا یوه څنډه ده. او دغه بریا به هغه وخت بشپړیږي چې ټول هېواد دجهاد په نتیجه کې ازاد شي، دواقعي اسلامي نظام د رامنځته کولو لپاره ظرفیتونه او وړتیا وي رامنځته شي، په ولس کې د تدیّن او دعوت د لا ښه خپرېدو لپاره زمینه سازي وشي. او دښمن پلوي سیاسي، پوځي، فکري جهتونه، سیکولر اشخاص، احزاب او ډلې ټپلې له صحنې و وېستل شي، او په ټولنه کې ددغو پردیپالو جهتونو دعقیدوي، سیاسي او اجتماعي تاثیراتو مخه ونیولی شي. دولس دخلکو د مړولو او بسیا کولو لپاره دهېواد طبیعي شتمنۍ په کار واچول شي، اقتصادي فعالیتونو ته رشد او انکشاف ورکړل شي، په دیني روحیه اوملي مصالحو ولاړتعلیمي نصاب او نظام رامنځته شي او د هېواد په کلیو او باندو کې تعلیم عام شي، دښې حکومتوالۍ لپاره ظرفیتونه اووړتیاوې ایجاد شي، او بالآخره د اسلامي نړۍ او نورې نړۍ له هېوادونو سره د اسلام د سیاسي نظام له غوښتنو سره سم متقابل روابط ټینګ شي.

اسلامي امارت د پورته یادو شویوعلیا مصالحو دتحقق یوه نسبتاً کامیابه تجربه تېره کړې ده. د حاکمیت دتجربې تېرولواوپه تېروپنځه لسو کلونوکې دیوه لوی نړیوال جنګي ائتلاف په مقابل کې په کامیابۍ سره مقاومت کولو

طالبـان دبـل هـر افغـاني جهـت پـه پرتلـه دنظـام او حکومـت د جوړولولپاره ښه صیقل کړي اود ولسپالنې هنریې ور زده کړی دی.

همدغې وړتیا او ظرفیت ته په پام سره د طالبانو دښمنانو هم د هغوئ په خلاف د خپلې پـوځي جگـړې ترڅنـگ خپلـه فکـري او تبلیغاتي جگړه هم تېزه کړې ده، تر څو لـه یـوې خـوا خلـک ددې اسلامي جهادي ځواک په وړتیا او مصداقیت شکمن کړي، او له بلـې خوا د طالبانو د سیاسي، پوځي ، او اعلامي کدرونو روحیه وځپي.

دا چې په دغه ډول حـالاتو کـې اسـلامي امـارت د ضـعف او چریکي جگړې له مرحلې دقوت، تمکین، نسبي حاکمیت او دولـس او نظام جوړونې مرحلې ته ورداخلیږي، نـو طبیعـي ده، چـې بایـد د پوځي او فکري جگړې په مېتودونو، وسائلو استراتیژیو او تکتیکونو کې یې هم بدلونونه او نوښتونه رامنځته شي، او مسؤولین یې بایـد خپل ولس او نړیوالو ته له داسې یوه لـوړ ځایـه پـه پـراخ نظـرې وگوري، چې هر څه ورته روښانه ښکاره شي، تر څو یې پـه اړه پـه مناسب وخت کې لازم تدابیر او تصامیم ونیولی شي.

د داسې یو چا په حیث چې د افغانستان د تېرو څلورو لسـیزو د جهاد مختلف مراحل مې له مخـې تېـر شـوي، او دجهـادي بهـیر لوړاو ځوړ او دمجاهدینو د استقامت او انحراف بیلابیل اړخونه او د هغوعوامل او مؤثرات مې څارلي او څېړلي دي، او دغې مسلسـلې څارنې دجهادي بهیر دمسیر په اړه حساس کړی یم او یو څه تجربه یې راکړې ده، غواړم هغو ستونزو او ننگونو ته د اسـلامي امـارت د اداراتو د مسؤولینو پام ور واړووم، چې یا همدا اوس ورسره مخ دي اویا هم په راتلونکي کې ورسره مخ کېدونکي دي.

دجگړې دمشروعیت په اړه ددښمن د تشکیک پراخ تبلیغات:

دهغو خلکولپاره چې په دین په پـوه دي اوداسـلامي شریعـت احکام څه ناڅه ورمعلوم دي، پدې کې هیڅ شک نشـته، چـې روانـه جگړه یوه مشروعه جگړه ده، چـې تر سره کول یې یوه دیني فریضـه اوشرعـي مکلفیـت دی.دهمـدې روښـانه حکـم پـر بنـاء طالبـانو اودولـس متـدینو اوبـا احساسـه خلکودولس له منځه اودقوي ولسې ملاتړ په نیتجه کې په تېـرو پنځـه لسـو کلنونـو کـې دغـربي یرغلگرواودهغوئ دمحلي ملگرو په خلاف دې شرعي جهـاد تـه دوام ورکړی او ډیر خارجي پوځونه یـې لدې خاورې وتلو تـه اړ کـړل، او د هېواد ډېرې سیمې یې دهغوئ لـه تسلطه ازادې کړې.

دا چې یرغلگرو ځواکونـو او دهغوئ محلي ملگـرو د ولـس لـه لوري ددې شرعي جهاد له تأیید او په هغه کې له برخې اخیستلو ډېـر زیان ولید، او په هېڅ ډول سـیاسي او جنگي فشار یـې مجاهـدین لـه ولس څخه تجرید نه کـړای شـول، نو په ټول قوت او د ټولو تبلیغـاتي وسـائلو پـه اسـتعمال یـې د روان جهاد دمشروعیت په اړه دخلکوپـه ذهنونو کې دشکونو او شـبهاتو را پیدا کولو ته زور ورکړ. په خـاص ډول د تشکیک دغې عملیې په هغـه

وخت کې نور هم زور واخیست ،چې کله لویه برخــه غــربي یرغلګــر ځواکونه د جګړې له ډګره ووتل.

د دې لپاره چې د ولس عام خلک د دې جګړې د مشروعیت اود جهادي حرکت د شرعیت په اړه په شک کې ولویږي ،په دښمن پــورې تړلې سیاسي، فکري ډلې اودین تــه منســوب اشــخاص او جهتونــه خپلې تشکیکي هڅې اوتبلیغات تر دې عنوانو لاندې خلکو ته رسوي:

۱-دافغانستان اوسنی نظام اسلامي دی اومسلمانان یې چلوي.

۲ - په افغانستان کې د بهرنیو قواووشتون تر ټولو ټیټې کچې ته رسېدلی، اوهغه هم څه موده وروسته پــای تــه رســېږي، دا چــې بهرني پوځونه نشته نو جګړه هم باید ودریږي.

۳ - روانــه جګــړه اوس دافغانــانوترمنځ ده، اودجګــړی دواړه لوري افغانان دي، او افغان وژنه بایدبنده شي.

۴ – دجګړې دحکومتي لــوري عســکر مســلمانان دي، کلیمــه وایي، لمونځونه کوي او په مسلمانو کورنیوپورې اړه لري، نوباید ونه وژل شي.

۵ – په سوله کې خیر دی. دواړه جهتونــه بایــددبین الافغــاني تفاهم په نتیجه کې سوله وکړي، اوله همدې املــه بایدمجاهــدین لــه موجودنظام سره دسولې په نتیجه کې یوځای شي.

٦ - جګړه ډېره اوږده شوه اوهر څه ورکې تباه شول، نور باید ودرول شي، تر څو هېواد ودان شي.

۷ - طالبان خپله اراده اوتصمیم نــه لــري، د پردیوپــه لمســون جنګیږي.

دا او دیته ورته نور ډېر شکوک اوشبهات دي، چې دښــمنان او په هغوئ پورې تړلې حلقې یې د روان جهاد په اړه دعامو خلکــو پــه په ذهنونو کې وراچوي.

دروانې جګړې له حقیقت څخه دخلکــو د پــام د اړولــو او لــه مشروعیت څخه یې دهغوئ د اغفالولو په مقصدد کفارو اودهغــوئ د ملګرو تر څنګ یوه برخه اسلامي فکر او جهادي بهیر ته منسوب لــه جهاده ستومانه خلک هم داوســني جهاد دمشروعیت پــه اړه د خلکــو دبــې رغبتــه کولــو اودکفــري ډیموکراسۍ له راواردشوي سیکولر بهیــر سره د پیونــد اخیســتلوپه مقصــد دمســلمانو مجاهــدینو اودســیکولرو او دیموکراتــو غــرب پلووترمنځ دسولې او بین الافغــاني تفاهم شعارونه پورته کوي.

اسلامي فکر او جهادي بهیــر ته منسوبې دغه ډلــې اواشــخاص ددې لپاره دغه ډول شعارونه پورته کوي تر څــو خپــل انحــراف او یــا دکفر په خــلاف لــه جهــاده خپلــه ستوماني توجیه کړي، او له امریکا او غــربي هېوادونــو سره دخپلــې پیوندکارۍ لپاره مبرر ولټوي.

دا خــبره یقینــي ده ،چــې مجاهدین دخپل جهاد پر حقانیــت مطمــئن دي، او جهــاد یــې هــم دموجودې اداړې په خلاف یوبرحق جهاد دی، خوددې لپاره چې پــدې هکله یې ددښمن زهرجنو تبلیغــاتو ته ځواب ویلی وي اودعام ولس له ذهنــه یــې پــدې اړه تشویشــونه،

شکونه اوشبهې لرې کړې وي نو دموجود امریکایی پلوي حکومت په خلاف دجګړې دجواز په اړه بایداسلامي امارت دخلکو د پوهاوي په مقصد ټول هغه شرعي اوعقلي دلائل دولس مخی ته کېږدي ،دکوموپر بنسټ چې روانه جګړه فرض بولي. او دا ځکه چې تر څو چې عام ولس دجګړې پر حقانیت اوفرضیت معتقدنشي اودهدف تر حاصلېدو یې داستمرار پر افادیت قانع نشي- ګرانه به وي ،چې یوازې یوسیاسي جهت(طالبان) دې دا جګړه تر منطقي انجامه پر مخ بوځي.

دروان جهادبشری ځواک (مجاهدین)، د هغوئ تمویل، پناه ګاه، پالنه اوبستر ټول دهمدې ولس له لوري دي، او دښمن غواړي د شبهاتو په راپورته کولو ولس دروان جهاد پر حقانیت شکمن او دمجاهدینو له ملاتړه یې په اعتقادي او عاطفي ډول منصرف کړي.

اسلامي امارت بایدد اوسني حکومت شرعي حکم واضح کړي، چې آیا هغه یو اسلامي نظام دی، که یوکفري نظام، او که داسلامي شریعت له مخې کوم بل داسې وصف اوحکم لري، چې په خلاف یې جګړه فرض ده؟ تر اوسه چې دې نظام ته کوم نومونه کارول کېږي هغه (ګوډاګی) او (اجیر) دي، پداسې حال کې چې نه (ګوډاکی توب) کوم شرعي وصف دی، او نه هم (اجیر توب) داسې یو وصف دی، چې د هغه له امله دې یې په خلاف جګړه فرض او د پوځیانو وینه تویول دې یې روا شي.

دې نظام ته باید داسلامي امارت په سیاسی اوفقهي ترمینالوژۍ (نوموني) کې خپل وصف ورکړ شي، تر څو یې شرعي حکم واضح شي اوپه خلاف یې دجګړې مشروعیت او یا فرضیت هم واضح شي.

دموجود نظام حقیقت:

په کابل کې دامریکا او نوروغربي هېوادونوپه لاس دجوړشوی نظام په اړه چې حکم کېږي نو هغه به یوازې دنظام په اړه وي، نه دافغان ولس په اړه.ځکه چې نظام دیوه حکومت حاکمیت، عقیدې، سیاسي تفکر، قوانینو،داخلي اوخارجي سیاستونو او روابطو او د اجراآتو څرنګوالي ته ویل کیږي، او پر نظام باندې حکم همدغو بُعدونو ته په کتلو سره کېږي.

دکابل د اداري حقیقت دا دی چې:

۱ - دې حکومت خپل مشروعیت له کومې دینې لارې نه دی حاصل کړی، بلکه امریکا یې د(بن) په کنفرانس کې اساس ایښی، اود همدې امریکا او د هغې د ملګرو لخوا د بې رحمه عسکري ځواک د کارولو او شدیدو بمبارونو په نتیجه کې د افغانستان تر اشغال وروسته پر افغانانو تحمیل شوی، او بیا همدغو اشغالګرو په بېلابېلو شکلونو دهغه ددوام لپاره وسائل او زمینه برابره کړې ده.

۲ –ددې اداري عقیده اوسیاسي تفکر ډیموکراسي، سیکولریزم او دنړۍ دکفري هېوادونو له لوري وضع شوي اصول، ضوابط، ترونونه او

میثاقونه دي چې دوئ يې په مجموع کې (نړيوال اصول) ګڼي، چې دا ټول کفري او له اسلامه پردي ارزښتونه دی.

۳ – ددې اداري ټول نافذ قوانين چې هغه که اساسي قانون دی، که حقوقي، جزايي، اقتصادی، سياسي اونور قوانين دي، ټول داسې جوړ شوي اوعيار شوي دي، چې شريعت ورکې يا اصلاً رعايت شوي ندی، او که ورکې ياد شوی، هم وي نو په عملي ډول نافذ نه دی. خو ټولو ډګرونو کې په عمل کې بيا ټول هغه قوانين او لوائح نافذ دي، چې دغربيانو په خوښه جوړ شوي او په هغو کې تغيير نه راوستل دهر ډول سياسي جوړجاړي لپاره دامريکا شرط وي. پدي معنی چې که د امريکا په خوښه قوانين، حقوق،او سياسي اواجتماعي جوړښتونه دلته نافذ پاتې کېږي، نو بيا دجګړې د درېدلوامکان شته. او که داسې نه وي ،نو امريکا او ملګري به يې ددې جګړې د دوام لپاره هر کال څلور زره مليونه ډالره ورکوي، تر څو دلته ددې قوانينو، حقوقو اوسياسي جوړښتونو پايښت تضمين کړي.

۴ –ددې اداري داخلي اوخارجي سياستونه هم هغه ډول طرح شوي اوعملي کېږي، چې غربيان يې غواړي. ددی ټولو سياستونو، تړونونو او دمدني اواجتماعي جوړښتونوپه جوړولوکې (غرب پالنی)، (سيکولريزم) اوډيموکراسی ته وفاداري اصل ده. او دجهاد په خلاف درېدل، د اسلام دنظام د حاکميت د رامنځته کېدلومخنيوی چې دوئ يې د (تروريزم او بنسټپالنې) مخنيوی بولي يوه اساسي وظيفه اومقصد.

۵ – ددې اداري ټول سياسي، پوځي، امنيتي، اقتصادي، فکري، تبليغاتي، تعليمي، قضايي اجرآت هم پداسې ډول او ددې لپاره ترسره کېږي، چې داهېواد دې دامريکا پر لاره رواناودهغې تر هر ډول مستقيم اوغير مستقيم حاکميت اوتأثير لاندې پاتې شي.

دپورتني وضعيت په پام کې نيولو او په اساسی قانون کې د صريحو کفري مواد شتون ته په پام سره اودامريکا داشغالګرو قواوو تر قيموميت لاندې ددې اداري چلېدلوپه کتوبه دا وضعيت نور په شرعي لحاظ حتماً ددې وړوې، چې پردې اداري دې هغه شرعي حکم وکړای شي ،چې د کومې په نتيجه کې يې له منځه وړل ضروري، په خلاف يې جنګيدل فرض، او د ملاتړو وينه تويول يې حلال وي.

داسلامي امارت له لوري بايد په پراخه ډول دولس پرګنو ته دا ور وپوهول شي، چې دامارت جګړه د کوم شخص ،قوم،کوم تنظيم اويادکومې سيمې دخلکوپه خلاف نه ده روانه،بلکې دلته جګړه ديوه داسې نظام او دهغه دعقايدو، پاليسيو اوحاکميت په خلاف روانه ده چې دکفارو لخوا اودهغوئ په زور حاکم کړل شوی، دهغوئ لپاره جنګېږي، اودهغوئ له لوري ورکړل شوي پروګرامونه اواجنداوې تطبيقوي.

او د هېواد هر هر فرد ته دا روښانه کړل شي ،چې اوسنی نظام داسې نظام دی، چې د کفري قواوو له لوري حمایه کېږي اوتمویلېږي، اوهم هغوئ یې دتمویل لپاره کله په لندن کله په شیکاګو، کله په اوسلو،کله په بن اوکله به نوروځایونو کې کنفرانسونه جوړوي، اهداف ورته ټاکي، اومالي اوسیاسي مرستې ورسره کوي. نوپه افغانستان کې چې هر هغه څوک ددې نظام په سیاسي، امنیتي، پوځي، عدلي اوقضایې اونورو مهمو ارګانونو کې په خپله خوښه پرته له اکراه کار کوي، ملاتړ یې کوي اودفاع ورڅخه کوي، په حقیقت کې دوئ په خپله په داسې یوصف کې درېږي چې کفارو جوړ کړي، د کفري هېوادونو له لوري حمایه کېږي، اوبرنامې اواجنډاوې هم دهغوئ له لوري ورکول کېږي ،چې پدې کار سره دغه خلک په خپله داسلامي عقیدې اواسلامي شریعت له سرحدونوپښه اړوي، اوپه خپله خوښه په هماغه صف کې درېږي، چې قیادت،واک اودسیاستونوتعیین یې له حربي کفاروسره دی.نو ځکه خو ددغو افرادو او جهتونو حکم هم هماغه حکم ګڼل کېږي ،کوم چې دصف دقیادت اودهغه دنظام حکم دی.

دلته دنظام د ماهیت په تعیین کې د افرادو شخصي مسلماني، تقوا، افغانیت او وطندوستي او جهادي سابقه هېڅ اثر نه لري، ځکه چې نظام دکفري اشغال په نتیجه کې جوړ شوی، او د نظام عقیدوي، فکري، سیاسي،پوځي او امنیتي ارزښتونه هم د کفري اشغالګرو له لوري ټاکل شوي دي. د دې نظام په ځپنې ناسیاسي، ناعدلي او ناپوځي شعبو کې که مسلمانان هم کار کوي نو دهغوئ مثال داسې دی لکه برتانیې، فرانسې او یا امریکا په ځینو دغه ډول ادارو کې چې ځپنې مسلمانان کار کوي. او لکه څنګه چې په هغو نظامونو کې دهغوئ شتون هغه نظامونه نه اسلامي کوي همدغه ډول دلته هم د افرادو په حیث د مسلمانو افغانانو شتون دغه نظام نه اسلامي کوي.

نو ځکه خو د موجود سیاسي نظام او د هغه د حاکمیت د له منځه وړلو د مشروعیت لپاره د امریکایي او نورو اشغالګرو شتون هېڅ شرط نه دی. کله امریکایان وي هم دا نظام د منلو نه دی او که نه وي هم د منلو نه دی. او په هر حالت کې یې له منځه وړل او پرځای یې د سوچه شرعي نظام راوستل یو شرعي مکلفیت دی.

او که هر څوک د دې اوسني نظام د بقا او یا د هغه د سطحي ترمیمکارۍ او یا هم له هغه سره پداسې حال کې سوله کوي او برخه یې ګرځي ،چې په پوره معنی اسلامي شوی نه وي، نو هغه په حقیقت کې په دې هېواد کې د جګړې د تداوم او د حاکم نا اسلامي نظام په خلاف د جهاد د مشروعیت لپاره حالات برابروي، او له لدې سره مرسته کوي ،چې د اوږدې مودې لپاره دې نور هم په افغانستان کې وینې تویې شي.

پای

د جنرالانو بيروبار !

زخمي افغان

د امريکا په لاس جوړ شوي د افغانستان مسخره حکومت نړۍ ټول ارزښتونه او معيارونه مسخره کړل.د ګوډاګي رژيم په سياسي، فرهنګي،اقتصادي او نورو رسواييو سربيره يوه نوې پديده چې تازه په تازه ورته د رسنيو پام اوښتی د حکومت دننه د جنراليزم ويروس دی، چې هره شيبه په خپريدو دی او تراوسه يې له زرو زيات حکومتي چارواکي نيولي دي.

جنرال په عسکري سلسله مراتب کې يوه مهمه او استثنايي عسکري رتبه بلل کيږي ،چې سرتيري له ډيرو خدماتو او سختو پراوونو تيرولو وروسته د عمر په وروستيو کې دې رتبې ته رسيږي. مګر راشئ د کابل ګوډاګي رژيم ته چې جنرال کيدل په کې د ورځې خبر ګرځيدلی او هره ورځ يوه نه يوه واسطه او پيسه درلودونکي ټوپکوال ته د عسکری دغه لوړه رتبه ورکول کيږي.

د امريکا چاپ نيويارک ټايمز ورځپاڼې په يوه وروستي تحليلي راپور کې ويلي دي، چې په افغانستان کې جنرال کيدل د ورځې خبر ګرځيدلی. ورځپاڼه ليکي چې په افغانستان کې يوازې د رسمي او برحاله جنرالانو شمير تر زرو اوښتی دی ،غير رسمي او ځانبولي جنرالان خو شايد تر زرګونو ورسيږي.

د ورځپاڼې په باور همدا اوس د کابل د رژيم پوځ د امريکا تر پوځ زيات جنرالان لري، په داسې حال کې چې دغه نوی پنځيدلی پوځ د امريکايي اردو د يوه مرتزقه او اجير ځواک حيثيت لري. د امريکا لخوا په روزل شوې اردو کې تر زرو د زياتو ماشيني جنرالانو شميره له دې املې هم د تعجب وړ ده چې دغه شمير د ترکيې هيواد غوندې د يوه منظم او پراخ پوځ د جنرالانو له شمير څخه هم په مراتبو زيات دی.د ترکيې پوځ همدا اوس يوازې ۲۰٦ تنه جنرالان او آدميرلان يا امراء البحر لري، چې د ګوډاګی اداري د جنرالانو په پرتله څو برابره کم دي.

د حفيظ منصور په نوم د چارو يوه شنونکي نيويارک ټايمز ورځپاڼې ته ويلي چې په افغانستان

کې د جنرال کیدو فرهنګ د کمونیستانو له سقوط وروسته د تنظیمي واکمنۍ له وخته راپیل شوی دی. د مجددي او رباني په حکومتونو کې دې فرهنګ خورا وده وکړه، هره شپه به له راډیو څخه عادي افرادو ته د جنرالۍ د رتبو ورکړه اعلانیدله.نوموړی وایي چې په یاد یي دي چې یوه ورځ حضرت مجددي ۳۸ کسانو ته په یوه دسخط د جنرالۍ رتبه ورکړه او لست یې له راډیو څخه اعلان شو.

د تنظیم شاهۍ په وخت کې جنرالان دومره زیات شوي وو چې د دفاع وزارت په اشپزخانه کې به په یوه بل پسې غږ کیدو چې او جنرال صاحب ! یوجایجوش چای خو را دم کړه. د تنظیم شاهۍ په کلونو کې د مختلفو جهتونو تر منځ د جنرالۍ مسابقه ښه په درز روانه وه که یوې ډلې به خپل لس کسان جنرالان اعلانول بلې به کوښښ کاوو چې شل تنه یې جنرالان شي. تردې چې جنرال دوستم خو خپل نږدې ملګري ټول د جنرالۍ په رتبه نازولي وو او خلکو به په ټوکه ویل چې د دوستم به محافظینو کې ډګروال نشته او له پلوه جنرالان دي.

د رباني د دوران غوندې د کرزي او اشرف غني په حکومتونو کې هم د جنرال سازۍ ماشین ښه په درز کې روان دی او ماشیني جنرالان تولیدوي. د حکومتي غټایټو ، جګړه مارانو او قومي ټیکه دارانو زامن پرته له دې چې له ښکته پورته عسکري مراتب لحاظ کړي په اتومات ډول د جنرال رتبې ته پورته کیږي.

داسې هم ویل کیږي چې له جنرالۍ او نورو عسکرو رتبو څخه بزنس او د ګټې وټې کاروبار جوړ شوی دی. عسکري رتبې د پیسو او رشوت په مقابل کې خرڅیږي او د حکومت لوړپوړي چارواکي له دې درکه ډیرې پیسې لاسته راوړي.

په داسې حال کې چې په جګړه کې د حکومتي پوځیانو تلفات وروستي اوج ته رسیدلي او ډیر ځله د جنرالانو په شمول لوړپوړي نظامي چارواکي هم د طالبانو په لاس وژل کیږي د ارګ چارواکي د نویو ماشیني جنرالانو په تولید سره هڅه کوي رامنځته کیدونکې تشه ډکه کړي.

د کابل په نااهله او شکست خوړلي رژیم کې د جعلي اتلانو ، استادانو او قهرمانانو تر څنګ د بادراوړیو جنرالانو بیروبار یو بل د پیغور او نااهلۍ پیزوان دی چې ګډوله رژیم یې تر شرم لاندې د بیوسۍ ارږمي باسي.

داوباما خالي لاسونه!!

لطيف عزم

اوبامادخپلې ولسمشری ۸ کلنه دوره په داسې حال کې پای ته رسوي چې هغه اواره يې په سياسي اوپوځي دواړوبرخوکې له ښکاره شکستونو اوناکامیوسره لاس اوګریوان ول ؛ نوویلای شوچې نوموړی به له سپيني مانۍ څخه په داسې حال کې رخصتيږي چې په يوه ميدان کې به يې هم دپام وړلاسته راوړنه نلري، بلکې خالي لاسونه به وځي.

په داخلي ډګرکې داوباما څرګندشکست لدې څخه جوتيږي چې ددیمکرات ګوندکاندیده (هيلري) دسياست په ميدان کې ديوه بې نومه اوبې شهرته کس (ټرامپ) په مقابل کې تاريخي اوکلکه ماتې وليدله ، امريکايان داقتصادي ځوړتياپه لوړ ولاړل ، دتبعيض او نژادي توپيرونوناورينونه اوج ته ورسيدل ، امريکايي وګړو اواتباعو دبريدونو اوګوابنونوله وجې په ډيره کمه فيصدی نوري نړۍ ته سفرونه وکړل

اوباما له امريکايانوسره ژمنه کړې وه چې هغوئ ته به کاري شغل ،اقتصادي برتري اوصحي اسانتياوي دپخواپه پرتله برابروي خودغه ټولې هڅې اوژمني يې بې خونده اوبې رنګه وي

دامريکاداقتصادي پرمختياواوهمکاری سازمان دروان کال په يوه تازه راپورکې ويلي : په امريکاکاري شغل له يوې نه بلې ورځي ته مخ په ښکته روان دی ، دامريکايي ځوانانو۱۹ فيصده برخه له تحصيلي فراغت ورسته بې کاره اوبې شغله ګرځی ، چې په مجموع کې يوميلون او۶۰۰ زره تنه ترينه جوړيږي.

په همدې ډول لکه خپله اوباما هم تيرکال اعتراف وکړ، چې دخپلې نيږدي ۸ کلنې دورې په موده کې ونتوانيده چې دوسلوپه مالکيت باندي ولکه راولي او امريکايان له قانوني مجوز پرته وسله په ښارونو اوپارکونو کې ښکاره نکړي ، ويل کيږي چې دناقانونه وسلوله ګرځولواواستعمال څخه دتيرو پنځو کلونو په اوږدوکې نيږدي ۱۰۰۰ تنه امريکايان ټپيان اووژل شوي دي.

نژادي توپير، يعني دسپين پوستو اوتور پوستو ترمنځ تربګنې اوشخړې دې حدته ورسيدي چې ټول ديمکرات ګوند دولسمشری په ټاکنوکې مات اودهمدغوژوروکشمکشونوقرباني وګرځيد.

داوباما د دورې بله مهمه رسوايي داوه چې دامريکاځارګرې اداري دنړۍ دمهمومشرانوپه ګډون

دامریکـایي وګړوتـولي تلفـوني اړیکـي اودلیـک لیږلومـدارک تعقیـب کـړي اواوریـدلي دي ، چـې امریکـایي ولـس دا پـه خپـل خصـوصي حـریم اودژوندپه داخلي چاروکې یوه نه ښیونکي لاسوهنه اوجرم بولي

په خارجي اوبهرني سیاست کې هـم اوباماله مسلسلو شکستونو او نـاتوانیو سره لاس اوګریـوان وو ، چې مهـم مـورد یـې دافغانسـتان اوږده اومـلا مـاتونکي جګـړه وه ، چـې هـم یـې دامریکـایونیم تریلیون ډالـر وځیښـل ، هـم دامریکااونـاټو۵۰ زره عسـکرمړه، ټپیـان اوپـه مهلکـوذهني ناروغیواختـه شـول اوهـم اوبامـا پـه خپلـې ۸ کلنـې دوري پـه اوږدوکـې پـه دې قـادر اوبرلاسـی نشـوچې پـه افغانستان کې یوداسې رژیم اواداره رامنځته کـړي چـې لږترلـږه دکابـل ښـار امنیـت اوثبـات تحکـیم اویواځې دکابل ښاریان په هغه رژیـم ډاډمـن اوپـه ځان باوري وګرځوي .

خبرې تردې ورسـیدله ،چـې اوبامـا دوه اونـی وړانـدې خپلـوامنیتي اوپـوځي بنسـټونوته پـه وروسـتي او عمـده خطـاب کـې پـه دې حقیقـت اعتراف وکړ چې په افغانستان کې یې طالبان مـات اوکمزوري نشواى کړلای.

اوباما ژمنـه کـړې وه چـې عـراق اولیبیاتـه بـه ثبات اوترقي وروړي ، خوولیدل شول چـې لیبیـا پـه کورنیـو شـخړو اوجنګونـوکې واوړیدلـه ، اقتصـادي زیربنـاوي یـې ونـړول شـوی ، انارشـیزم اوملـوک الطوایفي پرې منګولې خښې کړي اوکه وضعیت پـه همدې شکل روان وي ددې قـوي احـتمال دی چـې لیبیاتجزیه اوپه څوټوټووویشل شي .

عراق ددا‌عش وحشت تـه ورټیـل وهـل شـو، مـذهبي اودشـیعه اوسـني شـخړوپکې جـړې وزغلولې او دا امکان یې تردې مودې له منځه یووړ چې عراقیان دې دیوملت پـه توګـه سره متحداوپـه یوه نظام کې ژوند وکړای شي .

له بل اړخه په سوریي کې له تباهی ډکه هغه جګـړه چـې امریکـایې دام ایښـي وو همداسـې دوامداره اومخ په پراختیاروانه ده ، تردې چې روس اودروسانو متحـدینو د سـوریي وضـعیت دځـان پـه ګټـه وځرخـاوه اواوس کـه پـه نړیـوال میـدان کـې دسوریي په اړه کومه پریکـړه اوتصـیم نیـول کیـږي کلیدي رول به پکې دروسانووي

دغـه راز چـین اوورسره پـه څنګ کـې روس نړۍ ته داذهنیت ورکړی چې پـه نظـامي اوسـیاسي میـدانونوکې دوئ لـه امریکـاپیش قدمـه اوچـین خواوس په اقتصادي برخه کې ځان دنړۍ یکتاز اوسپرپاورقوت شمیري اوهمداسې ده هم .

نـو د اوبامـا داخـلي اوبهرنیومـاتو، رسـواییو او شکستونوته په کتلوویلای شـوچې نومـوړی بـه پـه داسې شکل له سپینې مانې څخه رخصتیږي چـې هیڅ لاسته راوړنه بـه نلـري ، بلکـې خـالي لاسـونه اویـو خجلـه اوسرښـکتی حالـت بـه یـې ملتیـا او ملګرتیاکوي !!!

ششم جدی لکه سیاه در تاریخ کشور

سعید بدخشانی

آری ششم جدی تکاملی از پروسه وطن فروشی ،دین ستیزی،بیگانه پروری،فاجعه وجنایت عظیمی در تاریخ کشور محسوب میشود،زیرا در۶ جدی ۱۳۵۸ هجری شمسی قشون سرخ اتحاد جماهیر شوروی با بسیار غرور وتکبر بر خاک وملت فقیر افغانستان تهاجم نظامی نمود،در نهایت روس ها با همکاری بَردگان داخلی اش میلونها شهروند کشور را شهید،میلون ها تن دیگر را معیوب ومعلول ومیلون ها انسان دیگر مجبور به ترک وطن وراهی دیار هجرت به کشور های همسایه وجهان شدند وهنوز هم در بیرون از کشور شب ها وروز های دشواری را سپری می کنند.

شکی نیست که وقوع رویداد ششم جدی وپیامد های فاجعه بار آن،بهترین تاریخچه ویا کتاب برای مطالعه وشناخت افغانستان میباشد که باید از آن درس ها گرفت وتجربه ها اندوخت.ایجاد حکومتی سرخ توسط دو حزب خلق وپرچم در افغانستان،اصلی ترین هدف این تجاوز بود؛رویداد که میتوانست شوروی را به آب های گرم برساند وتمام منطقه وجهان را آبستنِ حوادث ویرانگر سازد.

اما خلقی ها وپرچمی ها وواتحاد شوروی که سرمستِ پیروزی ظاهری خویش ومردم آزاری بودند،نمیدانستند که همت والای مردم مجاهد افغانستان،تمام خواب های خوش آنها را به یأس وشکست تبدیل خواهد کرد.

تدریجاً،در برابر ستمگری های ارتش متجاوز شوروی وحکومت های دست نشانده آن،از هر کوه وقریه صدای حق طلبی وعدالت

خـواهی مـردم مجاهـد افغانسـتان بلنـد شـد وایـن صـداها بـا نعرهـای ملکـوتی الله اکـبر پیونـد خوردنـد وبـه یـاری خداونـد قـادر وتوانا،نصرت وپیـروزی مظلـومین فـرا رسـید وقامـتِ اردوگـاه سرخ،شـکاف برداشـت وبـه پرتگاه سـقوط کـرد، وجهانیـان فروپاشـی آن را مشاهده نمودند.

هرچنـد خلقـی هـا وپرچمـی هـا هماننـد > اداره مـزدور کنـونی کابـل کـه حرکـت وجهـاد مقدس طالبان وملت متدین را بـه کشـور هـای همسایه نسـبت میدهنـد< تـلاش ورزیدنـد تـا مبـارزه قهرمانانـه مـردم مجاهـد کشـور را یـک حرکت ارتجاعی و وابسته به غرب معرفی کنند؛ اما همه گان آفتاب حقیقت جهاد صادقانه ملت مـارا بـه چشـم سر نظـاره کردنـد وهـیچ تهمتـی نتوانست از شعاع تابش آن بکاهد.

البتـه شـکی نیسـت کـه قـدرت هـا وسیاسـت مـداران جهـان غـرب،از مجاهـدت سلحشورانه مردم ما بهره های وافر می برنـد واز ایـن طریق،کمـک هـای نیـز بـه برخـی از تنظیم های جهادی مـی کردنـد،اما جهـاد مـردم افغانستان فی نفسـه چنـان پـاک وبـی الایـش بـود کـه فقـط از چشـمه زلالِ ایـمان بـه خـدا ووطن دوسـتی سرچشـمه مـی گرفـت،در غیـر آن،افغانسـتان هرگـز از کـام اژدهـای سرخ نجات نمی یافـت وفرهنـگ وثقافـت درخشـان ان،در آتش خصم متجاوزین ذوب می شد.



با هجـوم گسـترده سربـازان شـوروی بـه خـاك کشـور،مقاومت‌های مردمـی در دفـاع از آزادی، تمامیت ارضی و اعتقادات خـود بسـیار پر شـور بـود و مجاهـدین بـا عـزم راسـخ خـود توانستند، عظمت سیاسی ،اقتصـادی و نظـامی شوروی را به چالش بکشند.

سرانجام در نتیجه جهاد وایثارگری ملـت غیـور ومسـلمان افغـان قشـون جهـان خـوار شوروی در بیست شش دلو۱۳۶۷ خورشـیدی از کشور اخراج گردید.

اخـراج قشـون سرخ شـوروی از کشـور نشـان داد کـه اگـر مـردم بخواهنـد، تسـلط بیگانگان را نپذیرند و در برابر یورش آنان بـه دفـاع برخیزنـد،حتما بـه پـیروزی دسـت مـی یابند.

اینـک پـس از فروپاشـی اتحـاد جماهیـر شـوروی بـارژیم هـای دسـت نشـانده اش در افغانستان، پیمان ناتوبسرکردگی آمریکـا نیـز در برابر قیـام وجهـاد برحـق مجاهـدین کشـور در لبـه سرنگـونی واضـمحلال قـرار دارد، انشـاءالله عنقریـب اسـت کـه امریکـانیز بـه سرنوشـت شـوروی رو بـرو واز ایـن سرزمـین وبـاقی سرزمـین هـا ی اسـلامی زدوده شود.وماذلک علی الله بعزیز.

دجهاد فقهي مسائل

مفتي ابومحمدحقاني
(۳۴برخه)

کفارو سره دجګړې د اختتام اسباب:

اسلام منل، جزیه ورکول، یا سوله!

دسولې دتړون دنقض اسباب !

کله چې دوخت داسلامي حکومت امام یا امیرالمؤمنین له محاربو کفارو ، بغاتو یانورومخالفو ډلو ټپلو سره دسولې تړون لاسلیک کړي ،نو بیا به یې ترهغې پورې په اړه التزام لازم وي، ترڅو چې ددې معاهدې دمحتویاتو یا داخلي موادو له مقتضیاتو څخه خلاف کوم سبب ونه موندل شي ،(الموسوعة الفقهية) کې لیکي : چې فقهاء کرامو رح دسولې دمعاهدې دنقض لاندیني لاملونه ذکرکړي دي، چې له املـه یې دمصالحت معاهده نقض یا ماتیږي.

الف : دمسلمانانو مقابل لوری ظاهراً دسولې یا موادعې له محتویاتو نه عدول یا سرغړونه وکړي، نو دې صورت کې دسولې تړون ماتیږي او دیبا لپاره داعتبار وړ نه ګرځي. دسولې دتړون یا دمهادنې د عقد له موجباتو څخه ظاهراً موادعه ده او دا موادعه له قتال او په نفسونو او مالونوله تعرض څخه ځان ساتل دي، هغه څه په اهل الصلح (جانب مقابل) باندې واجب دي ،کوم چې په مسلمانانوباندې لازم دي ،که چیرته دمسلمانانو جانب مقابل له موادعې نه تیری او تجاوز وکړاو دمسلمانانوله کوم قوم یا ډلې سره یې جنګ وکړ،یا یې څوک مسلمانان شهیدان کړل ،یا یې دمسلمانانوڅخه پیسې او مالونه واخستل ،نو ددوئ پدې تجاوزاتو باندې ددوئ سره دسولې تړون مات شواو دې نقض کې دامام یا دمسلمانانو دامیر حکم ته اړتیا نه شته ،نو مسلمانانو ته له انذار او(نبذ) خبرداري پرته ددوئ ناڅاپه حمله اوپردوئ غارت دشپې یا ورځې دواړو کې روا دی او ددوئ دا چارې یا دا سرغړونې ددوئ سره دسولې دتړون دنقض کولوپه اسبابو کې داسې

دي، لکه دوئ چې صراحةً د نقض اعلان کړی وي ، لکه دفقهي کتابونو ددې عبارتونو څخه چې همدا مفهوم په ډاګه معلومیږي : فَإِنْ عَدَلَ أَهْلُ الْهُدْنَةِ عَنِ الْمُوَادَعَةِ إِلَى ضِدِّهَا فَقَاتَلُوا قَوْمًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ أَوْ قَتَلُوا قَوْمًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ أَوْ أَخَذُوا مَالَ قَوْمٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ انْتَقَضَتْ هُدْنَتُهُمْ بِفِعْلِهِمْ وَلَمْ يُفْتَقَرْ إِلَى حُكْمِ الإِمَامِ لِنَقْضِهَا ، وَجَازَ أَنْ يَبْدَأَ بِقِتَالِهِمْ مِنْ غَيْرِ إِنْذَارٍ وَيَشُنَّ عَلَيْهِمُ الْغَارَةَ وَيَهْجُمَ عَلَيْهِمْ غِرَّةً وَبَيَاتًا ، وَجَرَى ذَلِكَ فِي نَقْضِ الْهُدْنَةِ مَجْرَى تَصْرِيحِهِمْ بِالْقَوْلِ بِأَنَّهُمْ قَدْ نَقَضُوا الْهُدْنَةَ (الحاوي ١٨/ ٤٤٣، والبحر الرائق ٥ / ٨٥ ، والمبسوط للسرخسي ١٠/٨٦ ــ ٨٨ ، وأحكام القرآن للجصاص ٣ / ٦٧ .).

ددې لپاره دليل دادی ،چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له اهل مکه وو سره دوئ ته له خبرداري او نبذ نه په غير غزا وکړه ،ددې علت داو، چې دوئ (اهل مکه وو)درسول الله صلى الله عليه وسلم له حليفې يا ملګرې (خزاعه) قبيلې پرضد له (بني کنانه)دشمني قبيلې سره دجګړې مرسته وکړه، ابوسفيان رض مدينې منورې ته ددې لپاره راغی، چې درسول الله صلى الله عليه وسلم او قريشو ترمينځ دسولې معاهدې يا تړون تجديدعهد وکړي او بيا له سره نوی کړي ،خو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته هيڅ ځواب ورنکړ،لدې امله چې دوئ دپيغمبرصلى الله عليه وسلم له حلفاوو (متحدينو) پرضد دجګړې ملاتړ کړی و، دوئ پدې کار سره حقيقت کې دعهد نقض پخپله په لوی لاس وکړ، نو ددې اړتيا پيدا نشوه، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته دعهديا تړون دماتيدو او دجګړې دبيا پيل کيدو خبر داری ورکړي ،دا حديث په لاندې حواله کې شته ("مجيء أبي سفيان إلى رسول صلى الله عليه وسلم لتجديد العهد ... " أخرجه البيهقي في دلائل النبوة (٥ / ٩ ـ ط دار الكتب العلمية) من حديث موسى بن عقبة مرسلا .).

نوربيا ....

دوهمه برخه:
ابو ظهـــير

داسلام غزوات او سرايا

دخندق او احزاب غزوه:

ځيرنه:

خندق کندل په عربو جنګي تاکيک نه و، بلکې دا په فارسيانو(ايرانيانو) کې دود و، دفارس پاچايانو کې تر نورو لومړی منو شهربن ابيرج بن افريدون جنګ کې دخندق کندلو طريقه ايجاد کړې.

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دسلمان فارسي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په مشوره احزاب جنګ کې دغه طريقه غوره کړه، چې تري معلومه شوه په جهادي کارونو کې دکفارو تاکتيکونه او دهغوی طريقې غوره کول باک نلري، په ورته توګه دکفارو په لاس جوړې جنګې وسلې کارول هم روا دي، ځنګه چې په طايف غزوه کې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منجنيق استعمال کړی او حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دتستر کلابندی ابو موسی اشعري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته دمنجنيق جوړولو حکم کړی و او عمروبن العاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې کله اسکندريه ښار کلابند کړ نو منجنيق يې استعمال کړپه همدې توګه په زهرو لړشويو تورو استعمال هم جوازلري.

نومیالي سيرت ليکونکی او محقق عالم شيخ الحديث مولانا محمد ادريس کاندهلوي رَحِمَهُ اللَّهُ سيرة المصطفی کې ليکلي : چې دتدخين (يعنې د داسې دود پرېښودل چې له املې يې خلک مړه شي لکه نن سبا د زهرلرونګو ګاز کارول) يوائي هغه وخت کارول کيدای شي چې د دښمنانو دزيرکولو لپاره بله هيڅ طريقه او تاکيتک مسلمانانو ته ور پاتې نه شي، پرته دشديد ددينه دتدخين استعمال ناروا دی نور يې تفصيل يې دشرح السير الکبير په دريم ټوک (باب قطع الماء عن اهل الحرب وتحريق حصونهم ونصب المجانيق عليها) کې شته.

دالله تعالی ددې لاندې ارشادنه هم معلومیږي :

وَأَعِدُّوا لَهُم مَااستَطَعتُم مِن قُوةٍ وَمِن رِبَاطِ الخَيلِ تُرهِبُونَ بِهِ عَدوَّ اللهِ وعَدُوَّكُم

ژ: ترلاسه کړئ دکافرانو دمقابلې لپاره هغه قوت چې ترلاسه کېدای شي او اسونه هم وروزئ څو تاسو په دغه قوت او شوکت لرلو دالله تعالی دښمنان او خپل دښمنان مرعوب کړای شئ.

معلومه شوه چې دهغو ټولو څېزونو یادول ضروري دي په کومو سره چې دالله تعالی په دښمنانو رعب پریوزي او دالله تعالی ددین عزت اوتقویه پرې راځي.

ضروري پاملرنه:

مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله لیکي:

کتاب و سنت او شریعت هیڅ صنعت، حرفت او ترقی مخالف ندی بلکې هر هغه صنعت اوحرفت چې دهېواد دپرمختګ سبب ګرځي ترلاسه کول یې فرض علی الکافیه ګرځوي ځنګه چې په دې دټولو فقهاوو اجماع هم ده، البته اسلامي شریعت داروپا او امریکا پشان بې حیاتوب، بربنډتوب دشهواني تهذیب کلک مخالف دی ځکه چې شهواني او نفساني غوښتنو بې حده ازادې ټولنه او اخلاق له منځه وړي کوم چې دهېواد دزوال لامل کېږي.

ځنګه چې مسلمانان دخندق کندلونه فارغ شول ها خوانه دقریشو لس زره کسیز لښکر هم مدینې منورې ته ورسید او احد ته ځېرمه یې واړول، د مقابلې لپاره رسول الله ﷺ درې زره کسیز لښکر ځان سره کړ او سلع غره ته نیږدي تم شو، خندق د دواړو لورو ترمنځ فاصل و، د میرمنو او ماشومانوپه اړه یې حکم وکړ چې په یوه کلا کې یې خوندي کړئ!

په یهودو کې بني قریظه تردغه مهاله کلا وو، خو دبني نضیر سردار حیي بن اخطب د ځان سره دهغوی یوځای کولو پوره کوښښ وکړ تردې پورې چې پخپله دبنوقریظه سردار کعب بن اسد ته ورغی چاچې له وړاندې ځخه درسول الله ﷺ سره عهد کړی و، کعب چې کله حیي ولید دخپلې کلا دروازه یې بنده کړه حیي ورغږکړ دروازه بیرته کړه کعب ورته وویل:

ويحَکَ ياحيَّي اِنَّک اِمرَءٌ مشئُوم وانـی قَـد عَاهَدتُ محمد (صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ) فَلَسـتُ بِنَـا قِضِـی مَابَينَ وبَينَهُ فَانِی لَم اَرَ مِنّه اِلا صِدقاً ووفاءَ!

حيي! ډير افسوس دی، اوبيشکه تـه سـپيره انسان يي، ما دمحمد(صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ) سره معاهده کړېده ، زه اوس کړی عهد نه ماتوم ولې چې مـا دمحمـد (صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ) پرتـه درښـتنولی او دوعدې پوره کولو نورځه ندي کتلي.

حيي وويل:

ما ستا لپاره دتلپـاتي عـزت وسـايل راوړي دقريشو او غطفان قبايل مې راو ستي دلتـه مـې ښکته کړي مونږ تولوژمنه کړېده چې څو محمـد او دهغه ملګري نيست ونابود نکـړو ترهغـې بـه هيڅکله له دې ځای نه درومو.

کعب وويل:

پـه خـدای سـوګند ! تـا هميشـه ذلـت او رسـوايي راوړي زه دمحمـد(صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ) سره هيڅکله کړی عهد نه مـاتوم، ځکـه مـا دهغـه نـه درښتياوو او دعهد سرته رسولو پرته بل څه ندي ليدلي.

حيي پرلپسې اصرار کاوه تردي پـورې چـې هغه يې عهد ماتولو ته تيار کړ.

رسـول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ چـې خبرشـو درښـتياوو معلومولـو لپـاره يـې سـعدبن معـاذ، سـعدبن عبـاده او عبـد الله بـن رواحـه رَضِيَاللَّهُعَنْهُمْ واستول او هغوی تـه يـې حکـم وکـړ کـه داخبر رښتياوثابت شو نو چې تاسي کله بيرته راستانه شئ داخبر په مبهمو الفاظو کـې بيـان کـړئ څـو خلـک ونـه پـوهيږي او کـه دروغ و، نوبيـا پـه ښکاره اعلانول يې کوم باک نلري.

کله چې هغوی کعب بن اسد تـه ورغلـل او هغه ته يې کړې معاهده ورياد کړه کعب وويل:

څنګه معاهده او کوم محمد(صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ) زما خو دهغه سره هيڅ معاهده نشته.

دهغه نه چې کله بيرته ستانه شول رسول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ته يـې پـه دې الفـاظو [عضـل وقاره] جريان عرض کړ يعنې عضل او قاره قبيلې داصحاب رجيع يعنې دخبيب رَضِيَاللَّهُعَنْهُ سره غـدار ې کړې وه ، داسې دوی هم غـدارې کـړې (ابـن هشـام سـيرة ٢تـوک١٤٠مـخ، زرقـاني ١٢تـوک ١١١مخ)

رسول الله صَلَّىٰاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ته پـه دې غـدارې او بدعهدې سخته صدمه ورسيده کافرانو له هـر خوا مسلمانان کلابند کړوو، لـه بهرنـه راغـلي د

سخت زړي ښمنان دمدينې په دروازو ولاړول او داخلي دښمنان(بنو قريظه) هم دهغوی سره ملګري شول هرسړی دمسلمانانو وينوته تړی و، غرض داچې مسلمانان دعجيبه پريشانۍ سره مخ وو دوروښتونو شپې هم وې دځو ورځو لوړه او فاقه بله ستونزه وه.

په احزاب سورة کې الله جَلَّجَلَالُهُ ددغې جګړې حال داسې بيان کړی:

اِذ جآءُو کُم مِن فَوقِکُم وَ مِن اَسفَلِ مِنکُم وَ اِذ زَاغَتِ الاَبصَارُ وَبَلَغَتِ القُلُوبُ الحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونا بِا الله الظُّنُونَا هُنَالِکَ ابتُلِیَ المُؤمِنُونَ وَ زُلزِلُوزِلزالاً شَدِیدا

ژ: ياد کړئ ! هغه وخت چې کله دښمن ستاسې ترسړپوري ورسيد دبره له لوري هم او دښکته اړخه هم او نظرونه خيرن شول او زړونه ترخولې راغلل اوپه خدای جَلَّجَلَالُهُ باندې ډول، ډول ګومانونه شروع شول دغلته مسلمانان وازمايل شول او ښه وازمايل شول.

دا دابتلاء او امازيښت وخت و، نو منافقانو حېلې او بهانې پيل کړې او عرض يې وکړ:

يارسول الله ! زمونږ دکورونو ديوالونه تيت دي ماشومان او ميرمنې مې خوندې ندي له دې وجې مونږ اجازت غواړو.

يَقُولُونَ اِنَّ بُيُوتَنَا عَورَة وَمَا هِیَ بِعَورة اِن يُرِيدونَ اِلَا فِرارًا

ژ: منافقانو اويل په تحقيق سره زمونږ کورونه خالې دي حالنکه هغه خالي نه و، يواځې غوښتل يې چې وتښتي ددې لپاره يې حيلې او بهانې جوړولې.

او دمسلمانانو زړونه چې دايمان او اخلاص اوباور نه ډک وو دهغوی حالت الله تعالی داسې بيان کړی:

وَلَمَّا رَأَی المُؤمِنُونَ االاَحزَابَ قَالُوا هذا مَا وَعَدَنَا اللهُ وَرَسُولُه وَصَدقَ اللهُ وَرَسُولُهُ وَمَازَادَ هُم اِلا اِيمَاناً وَتسلِيماً.

ژ:کله چې مومنانو دکافرانو لښکرې وليدې نو ناڅاپه يې دا وويل: دا خو هم هغه دي چې الله او دهغه رسول مونږ سره يې وعده کړې وه او الله او دهغه رسول رښتيا ويلي او په دې سره دهغوی په ايمان او يقين کې نور هم زياتوالی راغی.

لنډه داچې يهودو او منافقينو په دې جنګ کې دمسلمانانو سره بدعهد پ وکړه او مسلمانان دکورنيو او بهرنيو دښمنانو له لوري کلابندشول ، دکلابندی دسختوالي په وجه درسول الله سره فکر پيداشو چې هسي نه مسلمانان دبشريت په مقتضاء ونه ډار شي له دې وجې يې هوډ وکړ چې عيينه بن حصن او حارث بن عوف ته (څوک چې دغطفان قبيلې سردارو) دمدينې دنخلستان دريمه برخه ميوه ورکول اومني څو هغوی دابوسفيان دملاتړ څخه لاس په سرشي او مسلمانان دکلابندی نه نجات وموميِ. نو سعدبن معاذ او سعدبن عباده رض سره يې دغه خبره شريکه کړه:

هغوی دواړو وويل:

يا رسول الله! ايا الله جَلَّ جَلَالُهُ داسې حکم کړی که داسې وي نو مونږ يې د تعميل لپاره حاضريو او که ته يواځي په مونږ دشفقت او مهربانی له مخې دغه قصد لري!

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

دالله تعالی حکم ندی ما يواځي ستاسي پخاطر دغه اراده کړې ځکه عرب متحدشوي او هغوی له يوې مورچې نه په تاسو غشي- ولي په دې توګه زه غواړم دهغوی اجتماعي ځواک مات کړم.

سعد بن معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وويل:

يا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله مونږ مومنان يو او دوی ټول کافران او مشرکان دي دبوتانو عبادت کوي الله تعالی نه پيژني ددينه مخکي دوی کې دا مجال نه و چې يوه خرما له مونږ يوسي مگر داچې يابه ميلمانه شول او يا به يې وپيرلې اوس چې الله تعالی مونږ د هدايت دلازوال او بيمثال نعمت نه برخمن گرځولي يو او اسلام چې مونږ ته کوم عزت را بښلی ، خپل مالونه به دوی ته ورکوو داناشونې ده والله! دوی ته دخپلو مالونو ورکولوته مونږ هيڅ اړنه يو،په خدای سوګند مونږ به د وی ته تورو پرته بل څه ورنکړو ددوی په وس کې چې هر څه وي هغسي- دي وکړي

ابن هشام وايي د صلحې په غرض چې کوم عبارت ليکل شوی و سعدبن معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هغه درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له لاس واخيست او هغه يې ړنګ کړ(ابن هشام سيرة ۲توک ۱۴۱مخ)

نوربيا ...

هېواد کې بدامني دچاله لورې؟
او دوام يې دکومو موخو لپاره؟

حسن مومند

هوا!که چې نړۍ يې مني مورِ هم له دې انکار نشو کولای چې دا مهال دهېواد کمې سيمې دامن دنعمت نه برخمنې دي او په اکثرې برخې کې يې سخته بدامني ده؛خلک نه په کورونو او کارځايونو کې مصئون دي او نه ځوک په اطمينان ديو نه بل ځای ته سفرونه کولای شي؛هيڅوک دخپل ځان،مال اوعزت په اړه دکامل اطمينان احساس نه کوي چې همدابدامني دهېوادوالو مخې ته دپرتو مشکلاتو څخه يو ډېرلوی مشکل دی.

دافغان ولس له بده مرغه چې په هېوادکې يې بدامني خپرونکي ياهماغه بهرني ځواکونه دي چې افغانستان کې دامن دتامين په پلمه ددې هېواد اشغال او قبضې ته دوام ورکوي اويا ددوئ په لاس دملي اردو،ملي پوليسو اواربکيانو په نوم جوړې شوې بدنامي ملېشې دې چې په هېوادکې يې لويه ګډوډي رامنځته کړيده ؛خو دډېرې حيرانتيا خبره داده چې همدابهرني قابض ځواکونه چې دافغانستان دبدامنۍ خبره کوي نودمکرنه په ډک داسې انداز يې کوي لکه چې بدامني دبل ځای نه راوارېدونکې پديده وي چې دوئ يې دفاع کوي او ياهم ددې قابضو ځواکونو دراتلونه وړاندې دلته يوموجود شی وچې دوئ يې دله منځه وړلوهڅې کوي خولاهم له منځه تللی نه وي او له منځه تلل يې لا ډېر وخت ته اړتيا لري.

ځوورځې دمخه دبلجيم په پلازمېنې اود ناټو تړون په مقر بروکسل کې دافغانستان په اړه دناټو دغړو هېوادونو دباندنيو چارو وزيرانو غونډه درلوده؛غونډې ته دناټو عمومي منشي،،ينس سټولټنبرګ،،په خپله ويناکې وويل چې:په افغانستان کې امنيتي وضعيت لاهم ستونزمن دی او کوم ښه والی پکې ندی راغلی.

دناټو عمومي منشي رښتيا وايې چې دافغانستان امنيتي وضعيت لاهم ستونزمن دی او نه يواځې دا چې بهتري پکې نه راځي بلکې دهرې ورځې نه بلې ته له بدو بدتر کېږي خو پوښتنه دا ده چې بدامني چا راوړې ده؛دځه لپاره يې راوړې ده او ولې يې ترننه دا هېواد بدامنه ساتلی دی؟ددې هېواد دمسلسل بدامنه ساتلو ترشاځه اهداف او څه موخې دي؟

دا خو داسلامي امارت دښمنان هم مني چې دطالبانو دواکمنۍ پرمهال په افغانستان کې ديوې لويې بدامنۍ ګډوډۍ او طوائف الملوکۍ نه پس دستروقربانيوپه بدله کې داسې مثالي امن قائم شوی و چې افغانانو په خپل تاريخ کې کله داسې امن نه و لېدلی؛په صرافه بازارونو اودکرنسيو دتبادلې په مارکيټونو کې به دلمونځونو پرمهال دوکاندارانو خپل دوکانونه خلاص پرېښودل او لمونځ ته به ترې تلل او دا به يې خيال او خاطر کې هم نه راتلل چې ځوک به يې مال ته ضرر ورسوي؛که دطورخم نه به يوتن دپيسو ډک

موټر روان کړ ترهراته به تـن تنهـا روان وخـو دا وېـره بـه ورسره نه وه چې پيسو ته به يې ګنې ځوک تاوان ورسوي.

دلتـه دچـا ځـان يـا مـال تـه دبـل لـه لـورې دضرر اودچاپرغزت دبل له لورې دتجاوز کولو تصور بيخـي لـه منځـه تللـی و اوهرچـا دامـن او سـوکالی نـه ډک ژونـد تېراوه؛دلته دښه ژوند تېرولو وسايل کـه څـه هـم کـم وو خو دخلکو ژوند ډېر دراحت او آرام نه ډک و چې همـدا دټـولې نـړۍ لپـاره دعدل،انصـاف او خوښـيونه ډک دسپېڅلي اسلامي نظام عملي دعـوت و اولـه همـدې نـه دټـولې اسـلامي نـړۍ ولسـونو دخپلـو هېوادونولپـاره داسلامي نظام راوستلوالهام اخستلو نـو ځکـه داسلام او مسلمانانو ازلي دښمن امريکا او نور لويديځ ته دزعـم وړ نه و نو وربانديي يې يرغل وکړ؛دانظام يې ړنګ ؛داهېـواد يې قبضه کـړ اوپـردې هېـواد او ولـس يـې بېرتـه هماغـه خلک مسلط کړل چې دا هېواد يې عمـلاً پـه زرونـو برخـو ويشلی و؛دهر کلي به ځان ته باچا و او په هر ښار کې به يې بې شماره واکمنان وو او پـه هـرې لار بـه دلـوټمار پـه سونو پاټکونه وو؛دهيچا ځان مال او عزت محفوظ نه و او دخلکو په عزتونو دهمـدې تېـري کونکونـه دخپـل عـزت ساتنې لپـاره بـه باعفتـه او غيـرتي ټبغلـو داپارتمانونونـه ځانونه راغورځول دهېواد غمخـوارو او وفـادارو هغوښـو چې نړۍ يې دطالبانو په نوم ټپژني دخپلو وينو او سرونو په قربـانيو داغلـه؛ملي خـائنين او تجـاوزګر د هېـواد نـه تښتې ته اړکړي او خپل مظلوم ولس ته يـې لـه دوئ نـه نجـات ورکـړی وخوظـالمې امريکـا او نـاټو همـدوئ بياپرافغانستان مسلط او دنـړۍ پـه سطحه دمثـالي امـن لرونکی هېواد يـې دنـړۍ دترټولـو بدامنـه هېوادونـو پـه قطار کې ودرولو؛ همدا بهـرني قـابض ځواکونـه او ددوئ غلامـان دي چې پـه تـورو شـپو کـې دبـې ګنـاه مظلومـو افغانـانو پـه کورونـو وراوړي؛مالونـه يـې لوټـوي پـه خپلوکورونوکې يې وژني او زندانونو ته يې بوځي؛کورونـه، ښوونځي، روغتونونه، جوماتونه،مدرسې،جنازي او ودونـه يې بمبـاروي او هيڅـوک او هـيڅ قـانون ورنـه دپوښـتنې نشته ځکه چې دبدنام امنيتي ټرون په نوم يې دافغانـانو وينه تويول دځان لپاره قانوني عمل ګرځولی او ځانونو ته يې قانوني مصئونيت ورکړی چې اوس پخپله دلاسپوڅې اداري مشرانـ هـم پـدې خـبره کلـه نـا کلـه اعـتراف کـوي؛اوس اوس دمشرانو دجرګـې رئـيس ويلـې دي چې:امنيتـي تـرون امريکـا دخپلـو ګټولپـاره لاس ليـک کړی،نـه چـې دافغانـانو دامنيـت لپاره؛امريکـا هيڅکلـه خپلو ژمنو تـه وفـاداره نـه ده پـاتې شـوې او دافغانسـتان دامنيت لپـاره يـې چـې کـومې وعـدې کـړي دي نـه يـې تراوسه عملي کړيدي او نه يې دعملي کېدا اراده لري،،

همـدا راز دکابـل اداري ددفـاع وزارت ويانـد هـم ويلي چې ملي اردو که کمزورې او فساد کې ککړه وي نو فوځ امريکا او ناټو جوړ کړيدی او پـه هـر عمـل او کړنـه کې يې همدوئ شريک دي او پکې لاس لري موږ پوهېږو چې امريکا او نور قابض ځواکونه دبدامنی دوام دخپلې بقا لپـاره پلمـه کـوي اوبيـا چـې دبـدامنی پـه اړه ترټولـو وړاندې همدوئ اندښنه ښکاره کوي نوغواړي چې ځـان برئ الذمه کړي او دبدامنی ټوله پـړه او ملامتيـا پخپلـه پرافغان ولـس ورواچـوي چـې دا يـوه ډېـره ناکامـه هڅـه ده؛ددوئ لاسپوڅي چې دبدامنی اصل عاملين امريکا او نور قابض ځواکونه بولي نو عام مسـلمانان بـه دبـدامنی عاملين ځوک وګڼي؟

امريکا او نور قابض ځواکونو دخپلو ولسونو او نړۍ دغولولو ډېرې هڅې وکړې خو څه ګټه يـې دوئ تـه ونـه رسـوله؛که ضـمير لـري نـو بايـد دخپلـو هڅـو ناکـامي ومني؛خپـل مالونـه اوځانونـه نورضـائع نکـړي او دا ولـس پرېږدي چې خپل سرنوشت په خپله وټاکي او يوځـل بيـا پدې هېواد کې دامن فضا قائمه شي.

سیکولاریزم و اسلام

بقلم (وزین)

مدخل:

سیکولاریزم و مسائل مرتبط به آن یکی از مباحث مطرح در عرصه های فکر و سیاست جامعه امروز افغانستان ، بخصوص در میان نسل جوان و تحصیل کرده کشوربشمار می رود.

وجود و تنوع رسانه ها، آزادی های بیان و تعبیر، شکل گیری احزاب و سازمانهای سیاسی و نهادها و مؤسسات، دسترسی به منابع معلومات ، نتایج و تبعات کشمکشهای چند دهه اخیر در کشور، تأثر پذیری از اوضاع حاکم بر کشور، تحولات جهانی ، تصادم و تقابل سیکولاریزم با ارزشهای دین اسلام و عوامل دیگری ازین قبیل همه اسبابی اند که به گسترش بحث ها و مناقشات پیرامون سیکولاریزم، واهمیت توجه و پرداختن به آن در میان حلقات فکری و فرهنگی می افزایند.

نوشته حاضر کوشش و کاوشی است در مورد ماهیت جریان سیکولار و موقف آن در برأیي اسلام و خطاب آن ، به هدف واشکافی موضوع و کمك در شناخت جریان مذکور و باز کردن فضای گفتگوی هدفمند و روشمند میان جریانهای فکری و سیاسی مطرح در کشور و تبیین مواقف و منطلقات آنها .

سیکولاریزم چیست؟

ما درینجا در صدد ارایه تعریفی جامع و مانع یا تعریف و حدّ منطقی از سیکولاریزم Secularism نیستیم، زیرا تعدد- و حتی تناقض – تعریف ها در تبیین پدیده های اجتماعی و فرهنگی یکی از مشکلات مزمن و مطرح در عرصه علوم انسانی و اجتماعی و ادبیات است.

ازینرو بهتر است به بیان مفهوم سیکولاریزم بر مبنای نقاط مشترك موجود در تعریف های این اصطلاح یا واژه بپردازیم.

خلاصه مفهوم سیکولاریزم عبارت است از " توجه واهتمام به امور دنیا وجدا ساختن یا کنار گزاشتن دین و احکام و ارزشهای آن از امور مربوط به سیاست و حکومت. "

به این معنی که دین نباید در امور سیاسی و قضایای مربوط به دولت و حکومت اعم از سیاست،

اقتصاد، تعلیم، اجتماع ، قضاء و فرهنگ حضور و مداخله داشته باشد.

به تعبیر دیگر سیکولاریزم به تدین و عدم تدین شخصی مردم و شهروندان یا اتباع یك کشور تا وقتی کار ندارد که دین داری آنان از حدود و مرزهای رابطه فردی و یا شخصی با خداوند تجاوز نمی کند و وارد عرصه های زندگی سیاسی و اجتماعی مانند اقتصاد ، سیاست، تعلیم ، تقنین، قضاء و غیره نمی شود، اما اگر دین از دایره و خط رسم شده برای آن از داخل اماکن عبادت مانند مسجد، کلیسا وغیره بیرون شد باید در همانجا متوقف شود.

تصادم سیکولاریزم با ادیانی چون مسیحیت، یهودیت، بودیزم، هندویزم وسایر ادیان به استثنای اسلام، بخاطر این زیاد شدید و جدی نبود که ادیان یاد شده بر اساس ماهیت و ساختار، قابلیت تطابق زیاد با سیکولاریزم را داشته و در اساس سر وکار زیاد به زندگی دنیوی مردم مانند سیاست ، اقتصاد، اجتماع، تعلیم اجتماع وغیره نداشتند.

سیکولاریزم و دین:

سیکولاریزم در اروپا به وجود آمد و در گام نخست در تصادم و تقابل با کلیسا که از نشانی دین بر مردم فرمانروایی و بیداد می کرد قرار گرفت و سر انجام کلیسا با رهبران آن را از سیاست ودولت و حکومت کنار زد و در داخل کلیسا منحصر و مقید کرد.

با گذشت زمان سکولاریزم بحیث یك فکر و اندیشه تطور و توسعه یافت و مانند همه فرآورده های تمدن اروپا و غرب به نقاط دیگر دنیا رخنه کرد.

تصادم سیکولاریزم با ادیانی چون مسیحیت، یهودیت، بودیزم، هندویزم وسایر ادیان به استثنای اسلام، بخاطر این زیاد شدید و جدی نبود که ادیان یاد شده بر اساس ماهیت و ساختار، قابلیت تطابق زیاد با سیکولاریزم را داشته و در اساس سر وکار زیاد به زندگی دنیوی مردم مانند سیاست ، اقتصاد، اجتماع، تعلیم اجتماع وغیره نداشتند.

به تعبیر دیگر ادیان یاد شده داری احکام وارزشهای که دربر گیرنده همه یا بخش بزرگی از زندگی انسان در عرصه های یاد شده باشند نبودند ، و دراغلب حالات این ادیان عبارت از یك سلسله ارزشهای اخلاقی ووعظ و نصیحت که بیشتر به فرد وزندگی شخصی وی ارتباط دارند می باشند وقبل از وارد شدن سیکولاریزم به قلمرو نفوذ این ادیان سر وکار محکمی با دولت و حکومت و سیاست و اقتصاد و نظام تعلیمی نداشتند، ازینرو سیکولاریزم با یهودیت، هندویزم، بودیزم، جینیزم و غیره شاهد تصادم و برخورد جدی و شدید نبود.

تصادم سکولاریزم با مسیحیت در حقیقت تصادم با دین مسیحی و ارزشهای آن نه ، بلکه تصادم و برخورد با رجال دین مسیحی و رهبران و وابستگان کلیسا بود که بنام مسیحیت و از نشانی و آدرس

کلیسا بر اروپا حکومت می کردند، ورنه در کتاب مقدس مسیحیت یعنی انجیل و آموزه های آن، احکام زیادی برای تنظیم زندگی انسان وجود ندارد تا سوال تصادم و برخورد این دین با سکولاریزم به وجود بیاید.

سیکولاریزم و اسلام:

رابطه سکولاریزم با اسلام از رابطه سایر ادیان با سیکولاریزم کاملا مختلف و متفاوت است زیرا از همان آغاز ورود فکر و اندیشه سیکولاریزم به جهان اسلام در اوایل قرن بیست میلادی، شکل تصادم و برخورد شدید و جدی را گرفت و این کشمکش و تصادم بین اسلام و سکولاریزم هنوز هم با همان شدت و قوت و گاهی بیشتر از سابق جریان دارد.

شاید به گزاف نباشد اگر بگویم که تنها دینی که سکولاریزم با مقاومت جدی آن مواجه شد اسلام است، این مقاومت و رویارویی که تقریبا از سرنگونی دولت خلافت اسلامی عثمانیها آغاز شد از برخورد فکری و اعتقادی گرفته تا مواجهه فرهنگی و اجتماعی و حتی جنگ و برخورد نظامی ادامه یافت و امروز هم که ما در نیمه دهه دوم قرن بیست و یکم میلادی یعنی تقریبا یك قرن پس از شروع این تصادم قرار داریم با همان قوت و شدت البته بطور نسبی در مناطق و کشور های مختلف اسلامی ادامه دارد.

شاید به گزاف نباشد اگر بگویم که تنها دینی که سکولاریزم با مقاومت جدی آن مواجه شد اسلام است، این مقاومت و رویارویی که تقریبا از سرنگونی دولت خلافت اسلامی عثمانیها آغاز شد از برخورد فکری و اعتقادی گرفته تا مواجهه فرهنگی و اجتماعی و حتی جنگ و برخورد نظامی ادامه یافت و امروز هم که ما در نیمه دهه دوم قرن بیست و یکم میلادی یعنی تقریبا یك قرن پس از شروع این تصادم قرار داریم با همان قوت و شدت البته بطور نسبی در مناطق و کشور های مختلف اسلامی ادامه دارد.

علت اصلی تصادم سیکولاریزم با اسلام:

علت اساسی برخورد و تصادم سیکولاریزم با اسلام اینست که اسلام مانند ادیان دیگری که ازانها نام بردیم نیست و برای همه عرصه تای زندگی انسان احکام و نظام دارد ومسلمانان مکلف اند تا احکام و آموزه های دین اسلام را در تمام گوشه های زندگی بصورت یك کل لایتجزی و غیر قابل تفکیك ، تطبیق و اجراء کنند.

به تعبیر دیگر احکام اسلام وارزشهای آن باید در زندگی فردی و اجتماعی و در تمام عرصه ها بطور یکسان و نه بصورت گزینشی- یا انتقائی(اجرای بعضی و ترك بعض دیگر) تطبیق شوند.

یعنی اسلام هم در خانه، هم در مسجد، هم در ریاست جمهوری، هم در پارلمان، هم در بانك، هم در اقتصاد و بازار، هم در مکتب و دانشگاه و پوهنتون وهم در عرصه های هنر و ادبیات وفرهنگ قابل اجرا و تطبیق است ونمی شود تا فقط احکام اسلام رادر عبادات فردی ومسجد محصور و محدود ساخت.

درست همین نقطه آغاز تصادم اسلام با سیکولاریزم است، زیرا وقتی که سیکولاریزم می کوشد تا اسلام را از عرصه مختلف زندگی – که در سطور بالا به آنها اشاره شد- بیرون براند و تا دروازه مسجد و حتی تا محراب ومنبر تعقیب کند، اسلام بر اساس بنیاد وساختار وطبیعت خود مقاومت نشان می دهد وباسیکولاریزم می ستیزد واز خود به دفاع می پردازد واین سوال پیش می آید که یا اسلام وسیکولاریزم.

سیکولاریزم از دین گریزی تا دین ستیزی:

نقطه مهم دیگری که باید در موضوع رابطه سایر ادیان بویژه اسلام با سکولاریزم باید طرف توجه باشد اینست که سیکولاریزم در اروپای غربی و امریکا بیشتر به جدایی دین از دولت و حکومت وسیاست ترکیز داشت نه بر زدودن کلی دین و ریشه کن کردن آن ، یعنی این سکولاریزم بیشتر " دین گریز بود" تا " دین ستیز" که این موقف در برخورد نسبتا نرم و انعطاف پذیر اروپا و بعدها امریکا در برابر دین و اتباع ادیان ازجمله مسلمانا ن در داخل آن کشور ها در دادن آزادیهای دینی نسبی شخصی- تبلور یافت و در بسا موارد آزادیهای دینی فردی مسلمانان در غرب در مقایسه با وضعیت آزادیهای مذکور در بسیاری از کشورهای اسلامی مانند ترکیه و تونس بهتر و خوبتر بود.

اما قضیه در جهان اسلام بر عکس اروپا و موقف آن در داخل اروپا در برابر دین بود.

به این معنی که سکولاریزم وارد شده به جهان اسلام از همان آغاز تنها " دین گریز " نه بلکه بشدت " دین ستیز" و همراه با خشونت بود، به این مفهوم که رژیمهای حاکم سیکولار و زاده و پرورده دست استعمار غربی در جهان اسلام ، در اکثر کشورهای مسلمان بخاطر زدودن و ریشه کن کردن اسلام از همان ابتدای کار برچه، تفنگ، تانك ، زندان و قتل و کشتار را بمثابه ابزارهای تطبیق و پیاده کردن سیکولاریزم در مقابل ملتهای خویش که مسلمان و متدین بودند بکار گرفتند.

این روند از نخستین سالهای حکومت سیکولارجنرال مصطفی کمال مشهور به اتاترك در سال ۱۹۲٤ میلادی آغاز یافت و تا اکنون (۲۰۱۵میلادی) که جنرال دیگری بنام عبد الفتاح السیسی در مصر با خون و آتش و سر نیزه و برچه حکومت می کند ادامه دارد، و در بین آن آغاز و این انجام- البته انجام به معنای دو نقطه تاریخی نه پایان نظام های حاکم سیکولار – اگر تقریبا تاریخ هر کشور اسلامی را از اندونیزیا در جنوب شرق آسیا، تا المغرب و الجزایر و تونس ولیبیا در شمال افریقا و مغرب جهان اسلام ،ورق بزنیم همه جا سخن از خونریزی وقتل و زندان و کشتار مردم متدین بخاطرتطبیق سیکولاریزم است!

ولې ترنیمې لاړې...؟

م فزیر احمد

دجهاد په هرمیدان کې صبر، حوصله ، هاند او پرلـه پسې کوشـش اوهڅـې دنـارینتوب نښاني او د کامیـابۍ مهم شرطونـه دي ، کـه څـوک صـبر او اسـتقامت ولـري او د مبـارزې دنتایجو لاس تـه راوړلـو تـه تلوسـه اوتلـواره ونـه کړي ، نو الله تعالی به اجر ورکـوي او لـه اجـر او ثواب نه به نه محرومه کیږي ، یابه بری ترلاسه کـوي او یابـه دشـهادت او نیکمرغـي شرف ترلاسه کوي، که مور دالله تعالی رضا غواړو او په دې عوه کې ریښتیني یو، نو دا هـدف پـه مـو پـه دې سپیڅلي مبـارزه سره ترلاسـه کـړی ، داعمالـو پـایلي دالله تعـالی پـه لاس کـې دي ، مـور پـه دې نـه یـو مـامور شـوي چـې داعمالـو مطلـوبي پایلي ترلاسه کړو،

،دټولو انسانانو طبعیت یـوډول نـه وي، ځکـه خو دمبارزې میدان ته راوتلـو خلکـو کـې ځینـې داسي کسان هم پکې راپیداکیږي، چې په نیمـه لاره کې جلاکیږي ،چې دځینو په جلاکیدلو سره یې اسلامي مبـارزې ، جهـاد او دعـوت تـه زیـان رسیږي،

دنیمي لاري دملګرتیا ګڼ شمېر لاملونه وي، خو څوهغه عوامل چې ترفرد پوري اړه لري ستاسـو پـه وړانـدي ږدو، ځکـه دټولني اصلاح دفـرد لـه اصلاح نه پیلیږي ،ترڅو له دې ډول عواملو ترخپـل وس پوري ځان وساتو.

۱ - غیر تنظیمي خوی او طبعیت :

ځینې کسان په ځانګړي شرائطـو او خاصـو حالاتوکې په یوه اسلامي تنظیم او مبـارزه ډلـه کـې داخـل شـوي وي، خـو وروسـته معلومـه شي چـې نومـوړی دتنظیمـي چاپیریـال او حـالاتو سره دتوافـق صـلاحیت نـه لـري ، نـه شي کـولی چې دتنظیم لـه سیاسي تګلاري سره ځـان داسي عیار کړي، چې هرڅه ومني .

په دې ډلـه کـې ځینـي اشـخاص داسي وي ، چـې دتنظـیم اوحرکـت لـه لـورې قیـودات او محدودیتونه نه شي زغملی ، هرشرط اوقید ورتـه د

غره په شان دروند اولوی ښکاري، نوځکه غواړي، له دې قیوداتو اوږي سپکې کړي اوځان ته مختلفي بهانې اولاري چاري ولټوي او په نیمه لاره کې لاس پریږدي .

که په تاریخ باندي نظر واچوو ،دېر داسي کسان به وویني،چې په خپل شخصي ژوندکې دېې نظم اوبې پروګرامه خلکو له ډلې ؤ، خوکله چې له ځانګړو شرائطو اوحالاتو نه په استفادې سره کومې مبارزي ډلې اوتحریک سره وریوځای شوي وي ،ستره صدمه یې ورته رسولي ، ځکه دوئ له مبارزینو او تحریک سره ملګري وو او وروسته یې لاره ورنه ښله کړي وي ، او ځان ته یې یوبل ګوند اوډله جوړه کړی وي ، هغه هم دیوه دېر ښه شعار لاندي، دوئ خلکوته ګمان ورکوي ،چې دمسلمانانو د اتحاد لپاره یې داکارکړی ؛ خو په حقیقت کې له ټولو نه لوی زیان دهمدې خلکوله لاسه پیداشوی ، دوئ همدغه ښه شعار د هرې بې نظمۍ لپاره بهانه جوړه کړي وي ، دهمدې شعار په برکت یې دآمریت اومواموریت ټول قوانین ترپښو لاندي کړي وي ، دتنظیم او اداري ټولي غوښتني او اصولو ماتولو لپاره ددوئ په نظر همدا شعارونه کافي وي.

۲- دځان اوخیټې وېره :

په ځان ویریدل ، دخیټې یا فقر وېره په انساني نفس ژوره اغیزه لري ، داډول وېره انسان کمزوری او اراده یې کاواکه کوي.

شیطان هم له همدې لارې کوشش کوي، دمؤمنانو اومبارزینو زړونو ته ننوځي ، وعدې ورکوي او هسي خیالي باغونه ورته شنه او زرغونه کوي :دسورة آل عمران په ۱۷۵ نمبرآیت کې الله تعالی فرمایې:« بېشکه داشیطان دی، چې خپل پیروان ویروي، ای مؤمنانو! تاسو له کفاروځخه مه ویریږئ ،یواځې له مانه و ویریږئ که په رښتیا مؤمنان یاست» .

۳- افراط : افراط اوعملي مبالغه هم د ډېرو انسانانو د سقوط اوپه نیمه لاره کې دپاتې کیدو لامل ګرځي ، هغه خلک چې له خپل توان او استعداد نه اوچت کار ته اوږه ورکوي ، اعتدال نه مني، په هرڅه کې افراط او مبالغه کوي ، داډول خلک حتما له ډول ډول نفسي- او ایماني ماتي اومشکلاتوسره مخ کیږي ، داسي خلک داسي مثال لري، لکه څوک چې غواړي ،یوه پراخه او اوږده دښته کې په بیړه مزل وکړي، خو دسپرلۍ څاروی یې مري اوپه نیمه لاره پاتې کیږي .

دمسند احمد په یوروایت کې راغلي « په دین کې له افراط نه ځانونه وساتئ،له تاسو نه وړاندي خلک په دیني اموروکې دافراط (مبالغې) له امله هلاک شوي دي».

انسان کمزوری مخلوق دی ، امکان لري ،کله کله مشکل کارهم ترسره کړي اودروند بار اوچت کړي، خوتل یې داکار له وسه نه دی پوره ،بله داچې کیدای شي انسان په تدریجي

توګه دمشکل کار له انجام سره عادت شي ،خو په يوځل اوپه يوه وار يې داډول لوی کارونه سرته ورسوي .

همدارنګه ټول انسانان ی وشان هم نه دي ، يوتن به ديوکار دکولو وس اوتوان لري خوبل به داتوان نه لري چې همدغه کاروکړي،....

همداوجه ده چې په سپيڅلي شريعت کې عزيمتونه او رخصتونه راغلي ، اوهمدا دشريعت دبشپړتيا او واقعيت نښانه ده ، په يوروايت کې دي « الله تعالی داخوښوي چې په رخصتونوکې عمل وکړای شي، لکه څرنګه چې يې پر عزيمتونو عمل خوښوي».

۴ - تساهل او تفريط :

تفريط اوتساهل هم لکه دافراط اومبالغې په شان د افرادو دسقوط او هدف ته له رسيدو وړاندي دانحراف يو ترټولو بد عامل دی، هغه خلک چې دالله تعالی په اوامروکې سستي کوي، دشريعت په تطبيق کې لټي اوبې پرواهي کوي ، همداخلک په وړو امورو کې له تساهل نه داسي حد ته ورسيږي، چې بيا ډير لوی اومهم اوامر هم په بې پرواهي سره ترپښو لاندي

کوي ، دتفريط اوسستي په عادت جوړولو سره دشيطان دلومو ښکارشي،

دالله تعالی شريعت ټول دالله تعالی له لوري راغلی دی، بايد په بشپړه توګه له کومي کمې اوزياتوب نه وربانديعمل وشي ، څوک چې په شريعت کې څه زياتوي ګناه يې همدومره ده، لکه شريعت نه چې څوک څه کموي . دحلال اوحرام احکام بايد په مکمله توګه رعايت کړی، په دې هکله معلومي شوي پولي اودخدای سرحدونه بايد ښه وپيژندل شي اوداپولي درنې وبلل شي اوهيڅ تساهل اوسستي پکې ونه شي .

هغه خلک چې له تساهل اوسستي سره عات وي څه وخت وروسته نه شي کولی دعزيمت کار ترسره کړي همدا دتساهل اوتفريط ترټولو خطرناکه پايله ده .

۵- غرور اود شهرت مينه :

دانحراف او په نيمه لار کې دبهلتون يو بل مهم عامل هم غرور او دشهرت مينه ده ،

دا يوداسي خطرناکه ناروغي ده، چې مبارزين په نيمه لاره پرېښودلو مجبوروي ، دټولو نيکو اعمالو ثواب يې له منځه وړي او آخرت يې ور بربادوي .

دا سي خلک له فاسد چاپيريال او خراب محيط نه په تأثر سره په دې رنځ ځکه اخته کيږي، چې زوړونه يې له تقوى خالي وي ، دوی دچاپيريال دخرابتيا له له املـه ډېر ژر له حاکمې وضعي سره الفت پيداکوي او په نيمه لاره کې له خپلې ټولې مبارزې مخ اړوي .

دوی ته لمړی ځانونه ښه ښکاره شي ، په ځان مين شي ، نورکم اوځانونه ورته لوړغرونه ښکاري، ځانونه دتقوى ، اخلاص ، زهد اوعبادت خاوندان ګڼي اوپه نورو يې هغه دچاخبره هيڅ خيال نه راځي ، همدا ناروغي ورو ورو لويه شي او آن داسي خطرناک صورت غوره کړي ،چې ځينې وخت انسان دايمان له دائري د وتلو سبب شي.

٦- بدنيتي يا په نورو نه لورينه : له هغه مهمو عواملو څخه چې دمبارزې په لاره کې خنډ او بالآخر له مبارزې نه د لاري بدلولو اوپه نيمه لاره کې دپاتې کيدو لامل ګرځي، يوهم بدنيتي او نه لورينه ده ،دمبارزي او دعوتي تحريکونو په غيږ کې ډول ډول خلک راغونډ شوي وي، يوله بله په فکري، نفسي ، عصبي اوبدني پلوه سره توپير لري ، ذکاوت مختلفي درجي لري ، علم اوپوهه دټولو يوشان نه وي، دايوطبعي مسأله ده چې افراد په اثر، عمل او ورکړه مختلف وي.

هغه خلک چې دنورو دخوشحالۍ مقام او منزلت نه شي زغملی ، يواځې په دې اکتفاء نه کوي، چې په نورو يې نيت بدشي ، بلکې هڅه کوي، چې بې کچې ټوپونه ووهي اوپر ځان زيات فشار راولي ، ځيني وخت خوپه عصبي ناورغي اخته شي اوپه همدې سره ياخو دمبارزې له صف نه بېل شي ، اوياهم له هغه کسانو د غچ اوکسات اخستلو په فکرکې شي چې دخپلې ناکامي عوامل يې بولي ،

ددې رنځونو بد والي ته په ډيرو آيتونو او حديثونوکې اشاره شوي ، او دهمدي رنځ له امله ډېرخلک په ډېرو فتنوکې لويدلي، چې د خسر الدنيا والأخرة مصداق جوړشوي .

نوپه کار ده، چې له پورتني صفاتوڅخه په کلکه ځان وساتو، له ملګرو او خلکوسره ښه راشه درشه ولړو ، د ملګرو او خلکو خدمت وکړو ، دهغوی ښې مشوري او نصحيتونوته غوږ کيږدو ، رسول الله -صلی الله عليه وسلم - او دنبوت په مدرسه کې روزل شويو مبارزينو مبارکو صحابه کرامو خو خو له همدي ،ځان غوښتنې، کبر،افراط ،تفريط نه پاک او دتواضع او نورو ښو صفاتو خاوندان وو، چې خلک به يې په ليدلو مسلمانان کيدل او ډېرکم وخت کې يې ډيرزيات پيروانان ومونډل.

د حلب سقوط

او د لويو زبرځواکونو ګډه شيطاني لوبه

حسن زوی

ډېر دغم او درد ځای دی چې دا مهال داسلامي نړۍ په ډېرې کمې برخې کې مسلمانان دامن او سوکالۍ ژوند تېروي؛ په اکثرو اسلامي هېوادونو کې بدامني ده؛دپردیو مداخلې دي؛ خپلمنځي شخړې دي؛ داخلي جنګونه دي؛ ژبنیز، توکمیز،مذهبي او قومي تعصبات دي؛ پرولسونو د ظالمو دیکتاتورانو او شاهانو دبې انصافیو او ظلمونو نه تم کېدونکي لړۍ دي او د لویو وحشي زبر ځواکونو له لورې مسلسلې حملې او قبضې دي.

خو دشام په نوم دمنځني ختیځ ترټولو ښکلی،تاریخي،سرسبزوشاداب،دباغونو،شنوبڼو ښکلوځنګلونو،دغرونو په لمنو کې دښکلو ساحلونو لرونکی او په ټېرو وختونو کې داسلامي خلافتونو مرکز اوس په ټولې نړۍ کې دټېرو کابو ۵ کلونو راهیسې دډېر بداوبوګنونکي حالت سره مخامخ دی ؛دمسلمانانو پدې تاریخي هېواد کې اوس دبشارالاسد ظالم دولت زیاتره لویو ښارونو ته خوراکي مواد او دواګاني نه ورپرېږدي او مسلمانان يې دمصنوعي قحط سره مخامخ کړيدي؛دمېرمنو منظمه بې عفتي روانه ده ؛اسدي فوځونو او نورو شیعه ملېشو په سونو زندانونه جوړ کړيدي چې پکې ځوانان، بوډاګان، کوچنیان او مېرمني دسختو تعذیبونو ښکار دي؛ دلته ډېر ستر بشري ناورین دی؛ددې هېواد ستر او تاریخي ښارونه په کنډوالو بدل شول،دلته ددواړو اړخونو نه جنګیالي کم او ولسي وګړي زیات وژل کېږي چې زیاتره يې کوچنیان او مېرمني وي.

دلته انسان هیڅ ارزښت نه لري؛له هر څه دبې ګناه انسانانو وینه ارزانه ده؛دلته دانسانانو دعامه وژنې لپاره کیمیاوي مواد کارول کېږي؛دسنیانو ټولو ښارونو ته عموماً او په دې وروستیو کې دحلب ښار ته دځانګړې توجو له مخې دبشارالاسدخونخوارو فوځونو او دشیعه ملېشو په لسګونو نورو ډلو دخپلو توپونو خولې مخامخ کړې وې او وحشي- روسانو پرې بلاتوقفه مسلسل درانده بمونه راغورځول تردې چې دښار په کلي ډول په کنډوالې بدل شو؛دلته په زرونو تنان مړه او ټپیان شول؛ځوک چې ددې ښار نه وتلی شول تر ووتل او هغه بې وسلې او بې وسه خلک چې ورته ددې ښار

نه دوتلو لپاره دامن لار او دپناه ځای په نظر نه راتلو په کنډوالو کې ایسار پاتې وو چې په مقابل کې یې بشارالاسد دفتحې اعلان وکړه او په کنډوالو کې دایسار شویو همدې مظلومو مسلمانانو دوژلو لوټولو او بې عفته کولو په موخه اسدي او ایراني فوځونه او دحزب الله په شمول دلسګونو نورو شیعه ډلو ملېشې دې بښار ته ورننوتې چې ورننوتلو سره سم یې سرکونو لارو او کوڅو کې هر په نظر راتلونکی انسان وویشت.

یو روغتون ته ورننوتل ړومبی یې دروغتون ټول ډاکټران،نرسان او دروغتون نور پرسونل یووویشت اوبیا یې ټولومریضانوته دټوپکوشپېلې ورمخامخ کړې اوټول مریضان یې په ځوځانیوکې په یوځای ووژل چې شمېر یې ۲سوه ته رسېدلو.

دحلب دسقوط نه پس نړۍ ولیدل چې دروسي او اسدي ځواکونو د۶ میاشتنۍ بمباریو په نتیجه کې پدې تاریخي بښار کې هیڅ روغ نه وو پاتې؛ټول دولتې تاسیسات؛ بښوونځي، جوماتونه او روغتونونه دزمکې سره برابر شوي وو.

دلته دومره ستر بشري ناورین دی چې پخپله روسي شنونکو او ځېړونکو هم وویل چې دحلب دردونکي مناظر دنړۍ هر وژدان لرونکی انسان ولړزولو.

دنړۍ دنورو پوهانو او ځېړونکو په ځېر ډېرو روسي پوهانو او ځېړونکو هم دا پوښتنه راپورته کړه چې آیا پدې مترقي دور کې په دومره ورانۍ او دانسانانو په دومره ستر قتل عام دیو بښار نیول ارزي؟

دا پوښتنه پر ځای پوښتنه ده خو چې دهغه چا نه وشي څوک چې وژدان لري،انسانیت پېژني،انسانانو ته دانسانانو په نظر ګوري.

متأسفانه چې دشام دمسلمانانو قاتلین ټول دانسانانو په شکل کې ډېر ستر وحشیان دي .

کې بشارالاسد راواخلونوهغه دخپل پلار حافظ الاسد نه هم ډېر وړاندې تللی؛پلار یې دخپل قدرت لپاره په حماة بښار کې په ۲۷ ورځو کې د۲۰ زره نه تر ۳۰ زرو پورې مسلمانان وژلي ووخوده تر ۵ لکو پورې مسلمانان قتل کړل؛ په سونو زره نور یې ټپیان کړل؛۶ ملیونه شامیان یې په هېواد کې دننه او ۵ ملیونه یې دهېواد نه بهر هجرت کولو ته اړ کړل ؛هېواد یې په کنډواله بدل کړخو بیا یې هم خپل وژدان نه ملامتوي او نه دمظلوم ولس دقتل عام لړۍ بندوي نو ځکه شنونکي وایې چې بشارالاسد درونډا او بوسنیا قتل عام له خلکو هېر کړ او داسې بښکاري چې دا اراده یې کړېده چې دټول شام دورانولواودټول ولس دوژلو نه پس که ورته په قبرونو او کنډوالو دحکومت کولو موکه په لاس ورشي دا به بښه فرصت او غنیمت وکښي او هیڅکله به یې له لاسه ورنکړي.

دشامیانو بل قاتل پوتین دی چې له دې وړاندې یې د۱۹۹۹م ددسمبر نه د۲۰۰۰م ترجنورۍ پورې دچیچنیا په نوم داسلامي هېواد پلازمېنه ګروزني دهوایې سختو بمباریو له لارې

تباه کړی وه؛ دحلب اوسنی او دگرزونی دهغه وخت فضائی عکسونه بیخي یوبل ته ورته ښکاري؛دواړه یوډول زړه بوکنونکی تصویر وړاندې کوي؛او دواړو کې روغه وداني په نظر نه راځي او دواړه دژوندو انسانانو هدیره ښکاري.

ټوله نړۍ دامني چې ددوهم نړیوال جنگ نه پس دنړۍ یو ښار هم دداسې سترو هوایې بمباریو او دبمباریو په نتیجه کې دداسې سترې ورانۍ ښکار شوي ندي لکه گروزني او حلب.

پوتین او اسد دواړه داسلام او مسلمانانو ستر دښمنانان دي خو دشامي مسلمانانو پرضد ددوئ دواړو دروان وحشت اصل محرک مادي خبرې دي نو ځکه دا خبره پرځای ده چې دشامې مسلمانانو لپاره داسد او پوتین په پرتله دلبنان حزب الله او دایران پاسداران انقلاب زیات خطرناک دي؛دوئ دسني مسلمانانو قتل ؛تعذیب او بې عفته کول عبادت گڼي؛نو ځکه ددوئ جنگ عقیدوي دی او ځاني تلفات یې داسدي فوځ په پرتله زیات دي.

دشام په روان جنگ کې دحزب الله نېږدې ۳زره او دایراني ملېشو د ۱۰ زرو نه زیاتو جنگیالو خپل ژوند له لاسه ورکړی ددوئ هر څه عقیدوي او په مذهبي تعصب ولاړ دي نو ځکه دپاسداران انقلاب یو مشر- جنرال جوادغفاري دحلب دسقوط نه وړاندي ویلي و :چې باید دشرقي حلب نه هیڅوک هم وتلو ته پرې نه ښودل شي او ټول په حلب کې په اجتماعي ډول ووژل شي؛پدې کې دیو تن دژوندي پاتې کېدلو اړتیا هم نیشته او نه دوئ ددې وړ دي چې ژوندي پرېښودل شي،،

جوادغفاري ته د ۲۰۱۵ م کال په اکتوبر کې هغه مهال دشام دپاسداران انقلاب او نورو ملېشو مشري ورکړل شوه چې کله په شام کې ددې ملېشو مشر حسین همداني دمجاهدینو په یو راکټي برید کې ووژل شو.

دیادولو وړ ده چې دحلب نه دعامو وگړو دوتلو په موخه دروسې او ترکې ترمنځ داوربند په رامنځته شوي تړون هم جوادغفاري انتقادونه کړي او ددې تړون دلغو کېدو غوښتنه یې کړې وه.

جنرال غفاري چې څه غوښتل بیا همداسې وشوه؛داسد فوځ اوپاسداران انقلاب ددې تړون هیڅ پرواه ونه ساتله او دغرور او تکبر نه په ډک انداز یې پرحلب وحشي- بریدونو ته دوام ورکړ.

حلب ته دورننوتلو سره سم چې اسدي فوځ؛ایراني او لبناني ملېشو په لارو کوڅو اوسرکونو هر په نظر راتلونکی انسان ووژلو نو ترڅنگ یې له کورونو نه دخلکو دراویستلو او بیا یې دذبح کولو وحشي لړۍ هم روانه وساتله ددسمبر په ۲۲ مې نېټې چې دحلب دسقوط ړومبۍ ورځ وه دښار په الصالحین؛ العامریه؛ صلاح الدین؛ سیف الدولة او بستان القصر- نومې مختلفو برخو کې دې ملېشو ۷۹ مسلمانان ددار په تختو راوزړول.

دبشر دحقوقو بین المللي مبصر انور مالک ویلي دي چې په حلب کې اسدې فوځ او ایراني

ملېشو دکوچنیانو دعامه وژنې او دمېرمنو دبې عفته کولو منظمه لړۍ پیل کړیده نو ځکه دحلب پاکو پېغلو دخپلو ورونو او پلرونو نه غوښتي دي چې ددوئ کورونو ته دوحشي- فوځیانو او ملېشو دراتلو پرمهال دې دوئ ووژني ترڅو ددې وحشیانو له لورې دبې عفته کېدو نه خوندي پاتې شي؛ددې سپېڅلو مسلمانو پېغلو پلرونو او ورونو په قطر کې دمېشت مصري عالم ډاکټریوسف القرضاوي په مشرۍ کې دعلماءو شوری ته خط لېږلی دی او ورنه یې فتوی غوښتې ده چې آیا دخپلو لونو اوخویندو دعزت ساتنې په موخه دهغوئ قتلول جواز لري که نه؟

حلب ته دورننوتلو په هماغه ړومبۍ ورځ داسدي فوځیانو او ایراني ملېشو ډله روغتون ته ورننوتله ړومبی یې دروغتون ډاکټران او نرسان یو په بل پسې وویشتل او بیا یې هغوکوچنیانو او مېرمنو دټوپکونو شپېلۍ راواړولې چې په بمباریو کې ټپیان شوي او پدې روغتون کې تردرملنې لاندې وو؛ددې ټولو کوچنیانو او مېرمنو شمېر څه دپاسه ۲ سوه و.

پدې پېښې دخوښۍ شکاره کولو په ترڅ کې دایران داپوزیسیون دباندنیو چارو دکمېټې مشر محمدمحدثین وویل چې زمور دالقدس غورځنګ ځوانان وو چې دجرأت او شجاعت نه ډکه دا ویاړمنه کارنامه یې ترسره کړه.

دمسلمانانو لپاره دردونکې او دټولې نړۍ لپاره دشرم نه ډکه خبره داده چې په حلب کې دابشري ناورین ټوله نړۍ په خپلو سترګو وینې او دحلب دکنډوالو نه دترحم او پناه غوښتلو مظلوم اوازونه او درد نه ډک آهونه په خپلو غوږونو اوري بیا هم نړۍ پدې هرڅه داسې چپه خوله ده ته به وایې چې په حلب کې دا وحشت او ظلم دانسانانو پرضد نه بلکې دکوم داسې مخلوق پرضد روان دی چې دنړۍ دانسانانو روسره هیڅ تړاو نشته؛ دملګرو ملتونو په نوم دادارې رخصتېدونکي مشر بان کي مون وویل چې رښتیادادە چې حلب دخپلو اوسېدونکو لپاره په دوهم جهنم بدل شویدی.

دنړۍ دامن ټېکدارې امریکا هم دخلکو په سترګو کې دخاورې اچولو هڅې وکړې او دامریکا ولسمشر بارک اوباما یواځې په همدې بسیا وکړه چې(په حلب کې په لوړه کچه دانسانانو دوژل کېدو ټوله پړه دبشارالاسد ددولت،ایران او روسې پرغاړه ده.

داوباما دا خبره دبشارالاسد ددولت، دایران یا روسې دملامتولو لپاره نه وه بلکې ددې لپاره وه چې پدې طریقې خپل منافقت پټ کړي او نړۍ کې ځان ددې بدنامۍ نه بچ کړي او نړۍ ته دا وښایې چې ګینې موږ هم په حلب کې دروان وحشت سخت مخالف یوځو ددې وحشت ودرول مو دتوان نه بهرون دي.

حال دا چې داسې نده؛دامریکا دولس مشر- دا ځرګندونې په اصل کې داسلام او مسلمانانو پرضد ددوه و سترو صلیبي زبر ځواکونو دخپل منځۍ جوړ جاړي یوه لویه نښه ده.

په ۲۰۰۳م کې چې امریکا پرعراق دقبضې لپاره یرغل کاوه نو سره له دې چې عراق

دروسې حلیف و خو چې امریکا پدې اسلامي هېواد یرغل کاوه نو روسیه بیخي چپه خوله وه او دامریکا ددې سراسر ناوړه عمل په مقابل کې یې هیڅ عکس العمل او دصدام حسین نه کوچنی ملاتړ ښکاره نکړ بلکې برعکس یې په یو اېن او کې پرعراق داتحادیانو دقبضې دجواز لپاره دوړاندي شوې طرحې په حق کې رایه اچولې وه.

په ۲۰۱۱م کې چې دشام ولس دبشارالاسد دظلمونو پرضد قیام وکړ نو امریکاپه ډېرتاکیدویل چې باید دقیام کونکو مرسته وشي او دبشارالاسد زورواکۍ ته دپای ټکي کېښودل شي .

ډېروخلکودامریکادا څرګندونې پدې معنی اخستی چې ګیني امریکا به ددې پاڅون کوونکو ترشا ودرېږي او دوحشي دیکتاتور بشارالاسد په راپرځولو کې به په ږښتیا مرسته وکړي خو په عمل کې بیا دامریکا منافقت ټولې نړۍ ته روښانه شو او دا هرچاته معلومه شوه چې دامریکا هدف دبشارالاسد دادارې رانسکورول نه بلکې دبشارالاسد واکمنۍ ته طول ورکول او دده واک ته دطول ورکولو نه په استفادې پدې هېواد کې تر اوږدې زمانې دداخلي جنګ جاري ساتل ؛دمسلمانانو ددې تاریخي هېواد تباه کول او له همدې لارې په ټول ختیځ کې دشیعه او سني فرقه ایز، نه ختمېدونکي جنګ ته لار برابرول دي.

امریکا چې په پیل کې دایوزیسیون په نوم دبشارالاسد مخالفینو سره مرسته وکړې نو هدف یې واک ته ددوئ رسول؛ددیکتاتور له منځه وړل او ولسواکي یا جمهوري نظام راوستل نه و بلکې دوئ ددې جوګه کول و چې دبشارالاسد پرضد په ټول هېواد کې جنګ جاري وساتلای شي خو کله چې دوئ قوي شول؛دبشارالاسد واک دهېواد دځلورمې برخې نه هم کمو سیمو ته محدود او د۲۰۱۵ م کال په دسمبر کې یې سقوط تقریباً یقیني شو نو امریکا په همدغه وخت کې شاته شوه او داسې پالیسې یې غوره کړه لکه چې دشام دستونزې سره دامریکا هیڅ تړاو نه وي او نه یې ورسره څه لېوالتیا وي ؛ځان یې بیخي بې طرفه کړ چې هدف یې ډګر ته دروسې او ایران راوستل او له دې لارې ببرته دبشارالاسد ملا مضبوطول و چې همداسې و هم شول.

روسې دامریکا دهمدې بې طرفۍ نه په استفادې په شام کې فوځي مداخله وکړه؛د۲۰۱۵م ددسمبر په اواخرو کې دروسې جنګي طیارو دشام په ښارونو بمبار پیل کړ او خپل لوی سمندري جازونه یې دطرطوس بندرګاه ته راورسول خو امریکا دروسې په مقابل کې کوچنی عملي عکس العمل هم ښکاره نه کړاو شامي مسلمانان یې داسدي؛ایراني او روسي لیوانو خولو ته پرېښودل.

څوک چې دا وایې چې په حلب کې امریکا دروسې په مقابل کې شکست وخوړ او روسیه برلاسې شوه دادحقیقت نه ډېره لرې خبره ده؛په دې دواړو کې یو هم شکست خوړونکی او بل برلاسی ندی بلکه دا ددواړو شریک پروګرام دی او په شریکه به یې پرمخ بیایې.

د مورچل وږمې

دکوثر جام

نظام کنډهاری

څومره ډېر چې دا جهان راته تهدید شي
د عشق اور مې لا هنوز پسې جدید شي
پر سینه مې دا د مینې پرهر ښه دی
درد د صبر په درمل نور هم شدید شي
زه د عشق د امام ځکه پیروي کړم
دا د مینې سفر کله بې تقلید شي ؟
مسلمان به شي او مینه به شروع کړي
که خبر څوک د بېدردو په وعید شي
چې د زړه پر سِکه نقش د درد نه وي
خامخا به دا د عشق ښار کې تردید شي
روح مې یو سه صِرف د عشق کلیمه وایم
عزرائیله ! که نَفَس مې لږ تمدید شي
نذرانه کړه د زړه جام کې ګرمي ویني
چې نظامه د کوثر جام ته تمهید شي

د ځوانیو زکات

(عرفان الله عرفاني)

روان مست انقلاب د قربانیو زکات غواړي
زلمیو آزادي بیا د ځوانیو زکات غواړي

دا وارنه کنډواله وطن له سره باید جوړ کړئ
لیلی د ازادۍ دککریو زکات غواړي

دا نن چې مو له خیاله ګډې وډې پر سر ایښي
د هسکو شملو میره د پګړیو زکات غواړي

دا وچې سپېرې دښتې ستاسو وینو کړې خړوبې
مالیاره د سپرلیو د غوټیو زکات غواړي

لټون کړي کور په کور کلي پر کلي باندې ګرځي
نرښځي دي معاف خو د سړیو زکات غواړي

دا ژوند به هله ژوند شي چې د ژوند په معنی پوه شو
په مړو زکات نشته د ژوندیو زکات غواړي

دستا هم (عرفاني) نور د شعرو نصاب پوره دی
غزل خو پر ځای پرېږده د مسریو زکات غواړي

ځوک نشته !

سپين کوچي

د ژوند په اوږو بار مې جنازه ده، او ځوک نشته
خپل ځان ته غلی ژاړم توره شپه ده، او ځوک نشته

وهمه هر خوا چغې، ځوک يې نه آوري لکه خوب کې
نړۍ له قبرو ډکه هديره ده، او ځوک نشته

په سترګو مې لاسونه اينبې، شګې ځوک راشيندې
صحرا ده، او سيلۍ ده، ډيوه مړه ده او ځوک نشته

يو مورد مسافرو سر ته خير غواړي او ژاړې
خپل رب ته سر په خاورو په سجده ده، او ځوک نشته

د کلي مازيګر به واخيست، شور د زلمکيو
هماغه مست مالت، هغه کوځه ده، او ځوک نشته

ځوک تم را سره نه شول دې پرهر، پرهر زړګي کې
دا زړه مې د دردونو جزيره ده، او ځوک نشته

چې دا ځوانيمرګی حالاتو ، کوم خوا کړو په مخه
راغه کې يو د سپين کوچی خيمه ده، او ځوک نشته

امريکا

له کاره ولويده

بهار

ماته شوه په ملا له کاره ولويده
تبنتي امريکا له کاره ولويده

بخت دي مبارک شه مجاهد اشنا
ستا دسر بلا له کاره ولويده

پوره مو دشهيد مسجد ارمان شولو
نن چې کليسا له کاره ولويده

خپله يي دماتي اعتراف وکړ
اوس خو په رښتيا له کاره ولويده

سپرطاقت يي دلته شو اوبه اوبه
سمه شوه رسوا له کاره ولويده

پاتې يي نيمګړي ارمانونه شول
سردی په ژړا له کاره ولويده

لار دتيښتي ګوري شرمنده شوله
ځي به خامخا له کاره ولويده

ځکه اوس زاری راته دسولې کړې
شوله نيمه خواه له کاره ولويده

زړه دبهار ځکه پري خوشحاله ده
پاک خدای کړه تباه له کاره ولويده

د امارت پیغامونه

په تېر ۲۰۱۶م کال کې د دښمن تلفات

۲۰۱٦م کال پای ته ورسید، په دغه موده کې په افغانستان کې د اسلامي امارت مجاهدینو دبهرنیو اشغالګرو او دهغو د کورنیو مزدوران په وړاندې ښه په متانت اومیړانه جهاد ته ادامه ورکړه، سیمې یې ترې ونیولې، ولسوالۍ یې آزادې کړې، ولایتونه یې محاصره کړل، د دښمن په مخ یې لویې لارې وتړلې او بیا بیا یې د دښمن په مهمو هستو بریدونه ترسره کړل چې دښمن ته یې خورا درانه تلفات درلودل.

په تیر کال کې مجاهدینو هم تلفات درلودل؛ خو د مجاهدینو تلفات د دښمن په پرتله شپږسلنه و یعني د دښمن د هرو سلوتنو وژل شویو په مقابل کې شپږ تنه مجاهدین په شهادت رسیدلي یا زخمیان شوي دي.

مجاهدینو ځکه کم تلفات درلودل چې دښمن دتیښتې او مجاهدین یې د تعقیب په حالت کې وو، له روحي پلوه دښمن ځپل شوی وو، د جګړې په میدان کې یې وارخطایي ډیره وه، دخلکو همکاري ورسره نه وه، بلخوا مجاهدین د جهاد په عالي روحیه جنګیدل، په کمو کسانو یې ډیر لوی قوت ته ماتې ورکوله، په فدایي او نفوذي بریدونو سره یې دښمن ته سخته صدمه رسوله، د ایماني قوت ځخه برخمنو مجاهدینو سره د الله تعالی نصرت ملګری وو.

په لاندې راپور کې موږ په تیر کال کې دروان جهاد بریدونه، د دښمن تلفات او ځینې نور معلومات وړاندې کوو، چې په خورا دقیق ډول د کره معلوماتو په اساس راټول او محاسبه شوي دي.

۱ـ په تیر ۲۰۱٦ م کال کې د مجاهدینو لخوا پردښمن ټول ټال (۹۱۵۳) لوی او واړه بریدونه ترسره شوي دي.

۲ـ په بریدونو کې ۳۲ بریدونه فدایي عملیات وو.

۳ـ د بریدونو په جریان کې په تیر کال کې (۲٦٦) بهرني اشغالګر وژل شوي او (۱۳۵) نورټپیان دي.

۴ـ داچې دکابل اداري عسکر، پولیس او استخباراتي کسان د امریکایانو ترمخ د سپر په ډول استعمالیدل او مجاهدینو ته په هر ډګر کې په جګړه کې دوی رامخکې کیدل نو ځکه له ټولو ډیر دوی له درنو تلفاتو سره مخ شوي، چې د تیر کال په جریان کې (۱۷۵۳۹) عسکر، پولیس، استخباراتي کارکونکي او اربکیان وژل شوي، (۱۱۲۷۲) نور ټپیان شوي دي.

۵ ـ په دومره موده کې د دښمن ویجاړ شوي وسائط (شوبلې او رینجرموټر) تر (۳۴۲۷) عرادو پورې رسیږي.

٦ـ په تیر کال کې په ټول هیواد کې د دښمن ۲۸ چورلکې او طیارې رانسکورې شوي دي چې (۱۴) یې چورلکې، (۱۰) یې بې پیلوټه الوتکې، (۲) اف ۱٦ الوتکې او (۲) نورې غټې بار بري نظامي الوتکي په کې شاملې دي.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

۲۹/۳/۱۴۳۸هـ ق

۹/۱۰/۱۳۹۵هـ ش ــ ۲۰۱٦/۱۲/۲۹م

جنګي جنايتونه (ډسمبر)

سید سعید

د تېر(۲۰۱٦ز) کال د ډسمبر دمیاشتي په ۲مه نیټه دمیدان وردګ ولایت دسیداباد ولسوالی،په اوتړیو سیمه کي کورنیو عسکرو یو ملکي وګړی (ملنګاکا) شهیدکړی دی.

د ډسمبر په ۷مه دلوګرولایت دخواجه انکور اړوند بنوخیل سیمه کي د داخلي عسکرو دهاوان په ډزوکي یو ماشوم او یوه میرمن شهیده شوې ده.

د ډسمبر په ۹مه ددایکندي ولایت دګیزاب ولسوالی،د نیکوزو اوجلیزو په سیمو کي داخلي عسکرو له طالبانو سره ترجګړې وروسته دخلګو کورونه چور کړي او سوځولي دي،د ځایې خلګو دوینا په اساس کورنیو عسکرو دسیدانواوجلیزوکلیو کي ۵۳کورونه لومړی چور کړی او بیا سوځولي دي اودنیکوزو سیمي بازار یې همچې۴۸دوکانونه پکي موجود وو،له چورکولو وروسته سوځولیدی.

د ډسمبر په ۱۱مه دنورستان ولایت د برګمټال ولسوالی په بدین شاه سیمه کي کورنیو عسکرو دملکي خلکوپه کورونو چاپه وهلې، د کورونو تر تلاشي کولو وروسته یې زیات شمېر خلګ وهلي او پنځه تنه ولسي وګړي یې شهیدان کړي دي.

دډسمبر په ۱۱ مه دنورستان ولایت د دواب ولسوالی په پیار کلي کي د داخلي عسکرو دهاوان په ډوزکي یو ملکي وګړی شهید شوی او درې ماشومان ژوبل شوي دي.

د ډسمبر په ۱۱مه داخلي عسکرو دزابلولایت دشاجویو لسوالی،د هوتګ زو، ملااکرم او اشغي په کلیو باندي دچاپې په مهال یو ملکي وګړی(بشیر احمد دصابر زوی) شهیدکړی اودرې تنه نور ملکي هیوادوال یې بندیان کړي دي.

د ډسمبر په ۱۲مه دهرات ولایت د شیندنډ ولسوالی،دچهاردرې په سیمه کي اربکیانودخپل وژل شوي قومندان عبدل دقتل په تور څلورتنه ولسي وګړي له خپلوکورونو را ایستلي او بیا یې شهیدان کړي دي.

د ډسمبر په ۱۲مه د پکیتا ولایت د زرمت ولسوالی په ترکو سیمه کي دځایې عسکرو په ډزو کي یو ملکي وګړی شهید شوی او دوه تنه ټپیان شوي دي.

د دسمبر په ۱۵مه دننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالی په وزیرو سیمه کي داربکیانو دځقیله وسلو په پیرونو کي درې تنه ولسي وګړي ټپیان شو ي دي.

د ډسمبر په ۱۵مه دپکتیا ولایت داحمد خیلو ولسوالۍ په سکندرخیلو کې اربکیانو یو ملکي وګړی چې دمازدا موټر چلونکي ؤ شهید کړی دی.

د دسمبر په ۱۸مه دلوګرولایت دمحمدآغې ولسوالۍ په کتب خیلو سیمه کې اربکیانو یو ابتدائیه ښوونځی سوځولی دی،په سوځول شوي ښوونځي کې۵۵۰تنه شاګردانو زده کړې کولې

د ډسمبر په ۲۰مه دهرات ولایت دشیندنډ ولسوالۍ،دبارتخت په سیمه کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې د یو پ کورنۍ څلور تنه غړي ژوبل شوي او یو ماشوم شهید شوی دی.

د ډسمبر په ۲۲مه دفاریابولایت دقیصار ولسوالۍ،دشاخبازار په سیمه کې اربکیانو یو ۱۵کلن ځوان له موټره راکښته کړی او شهید کړی دی.

د ډسمبر په ۲۳مه دمیدانوردګ ولایت په جلریز ولسوالۍ کې یرغلګرو ځواکونو د داخلي عسکرو په ملتیا دخلګو په کورونو چاپې وهلې، دکورونو دروازې یې ماتې کړې،خلګ یې وهلي او یو سپین ږیری(حاجي لعل جان) یې شهید کړی دی.

د ډسمبر په ۲۳مه دفاریاب ولایت دشیرین تګاب ولسوالۍ،دګور آغلي په سیمه کې اربکیانو یوسپین ږیری کلیوال(عبدالحق)چې له مسجدځخه کور ته روان ؤ شهید کړی دی.

دډسمبر په ۲۴مه دپکتیاولایت د جانیخیلو ولسوالۍ په مربوطاتو کې د ځایې عسکرو په ډزوکې یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

د ډسمبر په ۲۵مه دننګرهارولایت دبټي کوټ ولسوالۍ په ډاګه سیمه کې یرغلګرو د داخلي عسکرو سره په ګډه چاپه کې دوه ولسي هیوادوال شهیدان کړي او اووه تنه یې بندیان کړ یدي.

دډسمبر په ۲۸مه دننګرهارولایتد بټیکوټ ولسوالۍ په دوهم فارم سیمه کې داربکیانو له لوري د هاوان په ډزوکې یو ملکي وګړی شهید شوی او شپږ تنه د ښځو او ماشومانو په ګډون ژوبل شوي دي.

د ډسمبر په ۲۸مه دننګرهارولایت دبټیکوټ ولسوالۍ،په تورغر سیمه کې داخلي عسکرو د هستوګني پر سیمه دهاوان پیرونه کړي،په دې بریدونو کې یوه مرمۍ دکوچیانو په میشت ځای لګیدلې،چې له امله یې دیارلس تنه ولسي هیوادوال ټپیان شو ي دي.

د ډسمبر په ۲۸مه دپکتیکاولایتد متاخان ولسوالۍ په مردیانو کلي کې اربکیانو دوه تنه ولسي وګړي تر شکنجه کولو وروسته شهیدان کړیدي.

مأخذونه :[بي بي سي راډیو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،خبریال ویب پاڼه ،لراوبر= ،نن ټکی اسیا=اوبینوا=]

۲۰۱۶ زکال

د دیسمبر میاشتې جهادي خبرونه

آزادی

(عرفان الله عرفاني)

ته مې شه پګړۍ زه به دې شال شمه
راشه ازادۍ چې استقلال شمه

نن به خپل رقیب ته زور ور و ښایو
ته شه لکه توره زه به ډال شمه

ته شه لږ دمه د لاروي په څېر
زه به دې یخ سیوری د دېوال شمه

ته ورک پسرلي درسره راوله
زه به دې باران د پشه کال شمه

بیا که آزادۍ کلي ته راغلې
زه به دې د زنې شینکۍ خال شمه

ته مې لږ د وصل غېږ کې ونیسه
دېر یمه غمجن چې لږ خوشحال شمه

ستا د عشق کاروان سره که یو ځای شوم
هله به سیالونو کې بیا سیال شمه

خلک مو چې یاد کړي مثالونو کې
ته شه ممثل زه به مثال شمه

راشه پرما دم د مینې ولوله
دېر یمه ګډود چې لږ فعال شمه

راوړه (عرفاني) ته څو زرین توري
ته مې شه غزل زه به غزال شمه

د مورچل (۱۰۰) مې ګڼې په ویاړ
د لیکوالانو تاثرات

زه چې دلته د کوم غښتلي سل کلن مورچل خبره کوم، ښایی د عمر له پلوه سل کلن نه وي ، بلکي تیراژ یې سلن قدم اخیستی وي ، او دا حقیقت دی . خو زه یې د یوه قرن مورچل څکه ګڼم چې په دومره سختو، نامساعدو شرایطو، ناتوانه حالاتو او نیشتو امکاناتو کې چې دوست او دوښمن دواړو یې پر پایښت د یوې ورځې باور نه درلود ، او بیا یې هم د تیراژ سلنې پورې ته قدم اوچت کړ؛ نو هرو مرو د داسې آفرین وړ ګڼل کیدای شي چې د یوې پیړۍ غښتلی مورچل د نامه، ویاړ ور کول شي.

موسی فرهاد

(مورچل) یووالس کاله وړاندې د اسلام ، عقیدې او هیواد له لوړو ارزښتونو څخه په دفاع کې خپل (مورچل)یز فعالیت پیل کړ.

داسې فعالیت چې د هغه د پیلولو په لاره کې یې نه د شته ستونزو پروا وکړه او نه یې هم د زبون دښمن تخریبي هلو ځلو د مورچلیزو ګوزارونو مخه ډب کړه.

(مورچل) د افغان مؤمن ولس د جهادي آرمانونو ترجمان .

(مورچل) د جهادي آرمانونو د تحقق انعکاس .

(مورچل) له تیرو یوولسو کلونو راهیسې له جهاد او مقاومت څخه د دفاع په لاره کې په شعوري ډول فعال او مورچل

والو يې د خپل جهادي مسؤليت له مخې دا سنګر تود ساتلی.

(مورچل) په داسې حال کې خپل نشراتي بهير پيل کړ، چې د هيواد پر افق د امريکايي اشغال د تورمانبام کرغيړنې څپې خپرې وې، خو (مورچل) په خپل جهادي لمرځرک سره هغه تيارې پايته ورسولې.

(مورچل) له تيرو يوولسو کلونو راهيسې له جهاد او مقاومت څخه د دفاع په لاره کې په شعوري ډول فعال او مورچل والو يې د خپل جهادي مسؤليت له مخې دا سنګر تود ساتلی.

(مورچل) په داسې حال کې خپل نشراتي بهير پيل کړ، چې د هيواد پر افق د امريکايي اشغال د تورمانبام کرغيړنې څپې خپرې وې، خو (مورچل) په خپل جهادي لمرځرک سره هغه تيارې پايته ورسولې.

احمد مختار ليکوال او شناند

...مورچلوالو د جهادي پرمختګونو د هرې پېښې خبر ډېر خوندي وساته. له وراخوا چې مورچل يو ستر تاريخ ثبتوي، همدمه يې د خلکو سترګو ته هغه حقيقتونه مخې ته کړل چې په عامه رسنۍ کې دا حقيقتونه نه ښوول کيږي. دښمن تر يو وخته کوښښ وکړ چې پر روانو ميداني جريانونو پرده واچوي، مګر له کومې چې مورچلوالو او همغږو قلم پورته کړی، د دښمن دا هڅه ناکامه شوې چې خلک له ډګريز جريانه بې خبره وساتي.

محمدجمال خطيب
(ليکوال او شناند)

...مورچل مجله د خپلو څېړونکو، علماوو او مفتيانو د زيار له برکته خپل ولس ته فقهي او ديني داسې ليکنې خپروي، چې تر ډېره په علمي څېړنو او بحثونو کې د عامو لوستو مسلمانانو لپاره ګټورې تمامېږي.د ساري په توګه له تېرو څو کلونو راهيسې افغان او نړيوالې رسنۍ د سولې دروغجنې ډندورې غږوي، خو مورچل مجلې په خپلو علمي بحثونو کې د خپلو لوستونکو لپاره د اسلامي امت د فقهاوو

هغه خواره واره بحثونه راټول کړي، چې د عام عالم او لوستي مسلمان لپاره يې موندل په دومره اسانۍ بل ځای ناشونې وي.

محمود احمد (ليکوال او شناند)

زماپه اند دمورچل مجلې ستره ځانګړتياداده چې دروان سپيڅلي جهاد هره کارنامه اودمجاهدينو د توري هرګوزار اوبريښې يې په لوړمتانت اوجهادي خلوص پرشوره اوله هنګامو ډک وساته اوله خپلې مسمی سره سم يې خپله غيږ دجهادي بريااوو انعکاس ته پرانيستي وساتله او دالله تعالی په خاص مدد يې خپل نشراتي بهير يې دادی ترسلو ګڼو ورساوه،

چلونکي اومينه وال دي سرلوړي او دحق داسنګر او مظهر دي تل پاتی اوسي.

دځرک مجلي مسؤول

ليکوال او څيړونکی [لطيف عزم]

...زه چې کله کومې مدرسې ته ورغلی يم، نودطالب په لاس کې مي همدا مورچل ليدلې ده، چې په مطالعه به يې دمورچل اوسنګر تنده ماتوله .

که کوم کتابتون ته ورغلی يم، نوهم دمطالعي ديوه عاشق په وړاندي مې دوصال په شېبوکې همدا مورچل مجله ليدلي ده .

که يوې دارالافتاء ته ولاړم، نوديوه فقيه اومتخصص په لاس کې مې هم همدا مورچل مجله ليدلي ده .

که خانقه ته تللی يم، نو هم د يوه مريد په بغل کې مې مورچل مستوره ليدلي.

ما د مورچل مجله په يوه دارالحديث کې دحديثو په يوه ميز هم وليده، چې د بخاري شريف اونورو صحاحوڅنګ ته همداسې په احترام اومينه ايښې وه

نامتو ديني عالم

مفتي ابويا‌سرصاحب

ربښتيا هم دخوښۍ ځای دی چې په خورا سختو شرایطو او تنګو ظروفو کې مورچل د سلګنې په درشل قدم کیښود، دا دیوې نشریې لپاره دستر ویاړ ځای دی، کنه دلته مونږ ډېرې مجلې ولیدلې چې دځلورمې یا پنځمې شمارې نه هاخوا یې حوصلې له لاسه ورکړې او لاړې فنا شوې، لله الحمد داد مجاهدینو دقربانیو برکت او د امارت دمشرانو داخلاص علامت دی چې فرهنګي چارو کمیسیون دومره پراخه مطبوعاتي خدمتونه په داسې ښه سلیقه سرته رسوي چې نه دافغانستان په تاریخ کې یې مثال لیدل کېږي او نه دګاونډیو هېوادو سل یو نیم سل کاله پخواني ديني ګوندونه یاحرکتونه ورسره سیالي کولی شي...

په دې توګه داز مونږ او هم دمجاهد مورچل لپاره دویاړه ډکې شیبې دي

د شهامت مجلې مسئول

مدیر ابوظهیر صاحب

مورچل مجلې داسې شیبې هم لیدلې، چې یوه لیکنه به یې په ډیرو ستونزو پیدا کوله ،داځکه چې نامتوليکوالان داشغالګرو شنو ډالرو،میوواو شراب وکباب ته ټینګ نشول اوددې موقف دترلاسه کولو لپاره پکې ځینو ضمیر پلورونکیو فرهنګیانو نه ددیني اقدارو پروا وکړه اونه هم دخپلو ملي ارزښتونو، د ژورنالستانواو قلموالو ترمینځ یوه عجیبه سیالۍ پیل شوه او ترننه پورې یې دخپل قلم عفت په څوډالرو او دهوا او هوس په تمه وپلوره ،خو څوګوت شمیرقلموال بیا داسې وختل، چې دخپل دین او خاورې په ناموس یې ننګ وکړاودیرغلګرو هر نوعه وړاندیزونه یې رد کړل ،دفرهنګي جهاد مورچلونه یې ورته ونیول، چې له برکته یې نن دادی دې قلمې مورچل په سلم پاټکې پل کښیښود اوخپل خپرنیزعمر یې تر (۱۰۰)ګنیوپورې ورساه (اداره)

د اسلامي امارت د مجاهدينو د بيا رغونې د چارو ژوندی ښپلګه

ISLAMIC, JIHADY , EDUCATIONAL
AND CULTURAL MONTHLY JOURNAL

Morchal